# د یوحنا انجیل

# د لوستلو طریقه

GLOBAL UNIVERSITY

# د یوحنا انجیل
# د لوستلو طریقه

GLOBAL UNIVERSITY

# د یوحنا انجیل د لوستلو طریقه


لیکونکی

رکس جکسین



***Global University***
***P.O.Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# د یوحنا انجیل د لوستلو طریقه

لومړی چاپ ۲۰۰۶

© 2006 All Rights Reserved

***Pashto "Study Guide: John" 2006***

*Global University*
*P.O. Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# لومړني څو خبرې

دا کتاب د هغه شخص په باره کښې دی چې نژدې دوه زره کاله مخکښې زیږیدلی ؤ. تاسو ولې باید دا کتاب ولولئ؟ دا به ستاسو په ژوند باندې څه اثر وکړي؟ دا درسونه به څنګه تاسو سره ستاسو په ژوند کښې مرسته وکړي؟ تاسو چې د هر مذهب څخه پیروي کوئ تاسو ته لازمه ده چې د عیسی مسیح او د هغه د ژوند، تعلیماتو او مسایلو په باره کښې یو څه پوه شئ.

ایا تاسو په خپل ژوند کښې د قدرت او خوشحالۍ د یوې سرچینې په لټه کښې یاست؟ تاسو کولی شئ چې هغه په دې درسونو کښې پیداکړئ. دا زیری چې ډیر پخوا لیکل شوی دی، کولی شي چې د اوسنۍ پیړۍ د مشکلاتو د حل دپاره ډیره ښه لاره وي. ایا تاسو غواړئ چې په خپل روحاني ژوند کښې حقیقت راپیدا کړئ؟ یا خپل ایمان قوي کړئ او یا خدای ډیر ښه وپیژنئ؟

تاسو چې هر څه لټوئ هغه په دې درسي رساله کښې یې پیداکوئ. دا د ځاني زده کړې یوه نوې طریقه ده چې تاسو سره د اصولو په زده کولو کښې مرسته کوي او د هغو په ژر اجراکولو کښې تاسو ته توان درکوي.

**ستاسو د مطالعې لارښود**

د يوحنا انجيل يو جيبي کتاب دی چې تاسو کولای شئ چې هغه له ځانه سره واخلئ او په وزګار وخت کښې په يو ځای کښې کښينئ او هره ورځ يې ولولئ. او که چيرې غواړئ چې د يو ګروپ په شکل يې ولولئ نو د خپل ګروپ د مشر لارښوونې په نظر کښې ونيسئ.

لومړی لوست

# یوحنا، لومړی فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د یوحنا نومې سړي په وسيله خلکو ته زيری
- یوحنا زيری زده کوي
- یوحنا نورو ته زيری رسوي

## د یوحنا نومي سړي له خوا د زيري رسول

### یوحنا زيری زده کوي

نژدې دوه زره کاله مخکښې يو ځوان کب نيوونکی چې یوحنا نوميده، خپله کشتۍ او جال يې پريښود او د يو ښوونکي پسې روان شو چې عيسی نوميده. درې نيم کاله هغه او نور يوولس شاګران د عيسی سره د فلسطين په ښارونو

کښې ګرځیدل. دوی د هغه شاګردان ؤو. عیسی او نورو شاګردانو د عیسی تعلیمات د خدای او د خلکو سره د هغه د مینې په باره کښې په ډیره ښه توګه زده کړل. یوحنا عیسی ډیر ښه پیژانده. ځکه چې د هغه ډیر نژدی ملګری ؤ.

یوحنا او نورو شاګردانو د عیسی څخه زیری چې مونږ ورته انجیل وایو زده کړ. د انجیل معنی یعنې د خدای زیری. هغوی پوه شول چې عیسی د خدای زوی دی او دې دنیا ته د دې دپاره راغلی دی چې نر او ښځې، هلکان او نجونې د خپلو ګناهونو څخه خلاص کړي او هغوی ته ابدي ژوند ورکړي. مخکښې له دچې عیسی بیرته آسمان ته لاړ شي هغه خپلو شاګردانو ته وویل چې دا زیری دې د دنیا ټولو خلکو ته ورسوي.

عیسی د خپلو شاګردانو سره وعده وکړه چې روح القدس به د هغوی سره مرسته وکړي ترڅو هغوی ته هغه ټول شیان ور په یاد کړي کوم چې هغه ورته زده کړي ؤو. روح القدس به د هغوی سره مرسته وکړي چې دا زیری د نورو سره هم شریک کړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

په لاندینو تمرینونو کښې د صحیح ځواب مخې ته دایره چاپیره کړئ.

۱. د عیسی مرید یوحنا څوک ؤ؟

أ) یحیی د تعمید د غسل ورکوونکی.

ب) هغه کب نیوونکی چې
د عیسی ډیر نژدې ملګری شو.

ج) هغه نجار چې د جلیل
څخه ؤ.

۲. یوحنا د څومره وخت دپاره د عیسی سره
اوسیده او د هغه تعلیم یې اوریده؟

أ) درې نیمې هفتې

ب) درې نیمې میاشتې

ج) درې نیم کاله

۳. د انجیل معنی څه ده؟

أ) زیری (ښه خبر)

ب) د خدای په باره کښې
پیغام

ج) د عیسی مسیح ژوند

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ کوم چې د لوست په آخره کښې لیکل شوي دي.

## یوحنا نورو ته زیری رسوي

یوحنا خپل ټول عمر خلکو ته د هغه زیري په رسولو کښې تیرکړ چې د عیسی څخه یې ترلاسه کړي ؤ. کله چې هغه زوړ شو نو خدای ورته وویل چې انجیل ولیکي او د هغه کاپي ګانې دې د ټولې دنیا خلکو ته ورکړل شي. خدای د یوحنا څخه غوښتل چې دا زیری دې یوازې د هغې زمانې خلکو ته نه ، بلکه مونږ ته یې هم راورسوي.

خدای هغه څه چې باید لیکل شوي وای یوحنا ته په دقیقه توګه ورزده کړل. روح القدس به هغه ته هغه ټولې خبرې وریادولې کومې چې عیسی ورته کړې وې. هغه حقیقتونه چې عیسی ورته په غور سره تعلیم ورکړي ؤ، لیکل. یوحنا دغه حقیقتونه د نوې لوظنامې په کتاب کښې چې د هغه په نوم یادیږي، ولیکل.

په همدې ډول روح القدس یوحنا ته الهام ورکړ چې څلور نور کتابونه هم ولیکي. له هغو څخه درې یې خطونه یا رسالې وې او څلورم یې د هغو شیانو په باره کښې مکاشفه وه چې په راتلونکې کښې به پیښ شي. مونږ دا پنځه کتابونه او نورې الهامي لیکنې په مقدس کتاب کښې لیدلی شو.

یوحنا خپل کتاب په یوناني ژبه ولیکه ترڅو د هغې زمانې خلک وربانديې پوه شي. وروسته بیا دغه کتاب په نورو ژبو او له هغو څخه په پښتو ژبه هم ترجمه شو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخې ته د توري څخه دایره چاپیره کړئ:

۴. یوحنا له کوم ځای څخه دا زده کړل چې زیری دې باید نورو ته هم ورسوي؟

أ) د عیسی څخه

ب) د ورځپاڼو څخه

ج) د خپل مور او پلار څخه

۵. یوحنا هغه کتاب کله ولیکه کوم چې د

عیسی د ژوند په باره کښې ؤ؟

أ) کله چې هغه ځوان ؤ او د عیسی سره به یې سفر کاوه.

ب) هغه وخت چې زوړ ؤ یعنې وروسته له هغې چې ډیرو خلکو ته یې د عیسی په پاره کښې تعلیم ورکاوه.

ج) کله چې هغه کب نیوونکی ؤ یعنې د عیسی له پیژندلو څخه مخکښې.

۲. یوحنا د پنځوکتابونو په لیکلو باندې چې په نوې لوظنامه کښې دي،څنګه خبر شو؟

أ) روح القدس هغه ته الهام ورکاوه چې څه ولیکي.

ب) هغه د نورو کتابونو د لوستلو په وسیله چې د عیسی په باره کښې وو، الهام اخیست.

ج) یوې کمیټې د هغه پلان جوړ کړی ؤ.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ کوم چې د لوست په اخره کښې لیکل شویدي.

## د ژوندون کلمه

یوحنا ۱: ۱- ۱۸ ولولئ

دا آیاتونه ډیر مهم دي ځکه هغه مونږ ته بیانوي چې عیسی څوک دی او ولې دې دنیا ته راغی. دا یوه سریزه ده چې یوحنا د خپل کتاب دپاره لیکلې ده. د یوحنا د انجیل نوره برخه هغه حقیقتونه بیانوي کوم چې په دې اولنیو آیاتونو کښې دي.

## ابدي کلمه

### یوحنا ۱: ۱- ۳ بیا ولولئ

د یو شخص خبرې د هغه د فکر او خیال څرګندوونکې دي. خدای هم له دوو لارو څخه خپل نظر مونږ ته څرګند کړ: د خپل لیکل شوي کلام یعنې د مقدس کتاب په وسیله او د خپل زوی عیسی مسیح په وسیله چې دې دنیا ته راغی چې خدای مونږ ته راوپیژني. عیسی د خدای ژوندۍ کلمه ده. په دې ټولو آیاتونو کښې یوحنا د عیسی مسیح په باره کښې خبرې کوي چې هغه د خدای ژوندۍ کلمه ده. ۱۴ آیت وایي چې کلمه انسان شوه. له همدې کبله عیسی مسیح ته "کلمة الله" وایي ځکه چې خدای د عیسی مسیح په وسیله زمونږ سره خبرې کوي.

"خدای ....... په دې اخرو ورځو کښې د خپل زوی په وسیله زمونږ سره خبرې کړې دي" (عبرانیان ۱: ۱- ۲).

د یوحنا ۱: ۱- ۳ څخه دا مطلب زده کوو چې عیسی مسیح له ازل څخه د خدای سره ؤ. عیسی خدای دی. دا په دې معنی نه ده چې دوه خدایان وجود لري، خدای یو دی. خو هغه درې شخصیتونه لري چې خدای پلار، زوی او روح القدس دی.

هغوی درې واړه خاصې دندې لري. هغوی تل یو د بله سره کار کړی دی.

خدای پلار، عیسی مسیح زوی او روح القدس همیشه موجود ؤو. هغوی ازلي او ابدي دي او هیڅ شروع او پای نه لري. عیسی په دنیا کښې وزیږیده او د خدای د زوی په نوم یاد شو. بلکه له هغې څخه مخکښې په آسمان کښې ؤ.

په دریم آیت کښې راغلي دي چې ټول شیان د هغه په وسیله پیدا شوي دي، یعنې د عیسی مسیح په وسیله. د مقدس کتاب په یو بل ځای کښې دا مطلب دارنګه لولو:

"ځکه چې د هغه په وسیله خدای په ځمکه او آسمان کښې دا هر څه پیدا کړل" (کولوسیان ۱: ۱۲). عیسی مسیح ټولو شیانو ته چې په دنیا کښې یې وینو، ژوند ورکړی دی. همدارنګه عیسی مسیح هغو خلکو ته چې د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي او هغه د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړي، ابدي ژوندون وربخښي.

"هر څوک چې هغه د خدای د زوی په توګه قبلوي هغه به د ژوندون خاوند وي او هغه څوک چې هغه نه قبلوي هغه به د ژوندون خاوند نه وي." (یوحنا ۵: ۱۳)

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب له تورې څخه دایره چاپیره کړئ:

۷. عیسی مسیح د "کلمې" په نوم بلل کیده، ځکه چې.

أ) خدای د هغه په وسیله زمونږ سره خبرې کوي.

ب) هغه انجیل موعظه کاوه.

ج) مونږ په کتاب کښې د هغه په باره کښې لوستلي دي.

۸. د عیسی مسیح ژوند څه وخت شروع شو؟

أ) کله چې هغه په بیت الحم کښې د ماشوم په توګه وزیږیده.

ب) د هغه ژوند هیڅکله شروع نه درلوده، هغه ازلي دی.

ج) هغه د خدای په وسیله او د دنیا د پیدا ایښت څخه وروسته پیدا شو.

۹. عیسی مسیح کوم قسم ژوند ورکوي؟

أ) هغه یوازې هغو شیانو ته ژوند ورکوي کوم چې په دې دنیا کښې دي، ټول شیان د هغه په وسیله پیداشوي دي.

ب) یوازې هغه چا ته د تل ژوندون ورکوي چې په هغه باندې توکل کوي.

ج) هغه هم طبیعي ژوندون ورکوي او هم د تل ژوندون. هغه دنیا پیداکړې ده او هغه څوک چې په هغه باندې ایمان لري، هغه ته خلاصون ورکوي.

## رڼا او ژوند

### یوحنا ۱: ٤- ۱۳ یوځل بیا ولولئ

څلورم آیت مونږ وایي چې د عیسی مسیح ژوند انسان ته رڼایي راوړله. لکه څنګه چې رڼایي د دې سبب کیږي چې مونږ د تګ په وخت کښې خپله مخکښې لاره ووینو، عیسی مسیح زمونږ روحاني ژوند هم رڼا کوي . هغه مونږ ته د جنت لاره ښیي.

ډیر خلک نه غواړي چې عیسی مسیح قبول کړي او دا غوره ګڼي چې په تیاره کښې وګرځي. مګر هغه خلک چې عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه قبلوي هغه دا حق ترلاسه کوي چې دخدای بچیان شي.

که څه هم مونږ ټول د خدای مخلوق یو، خو ټول د هغه بچیان نه یو. مونږ ټولو ګناه کړې ده او ذاتاً ګناهکار یو. زمونږ ګناهونه مونږ د خدای څخه جلا کوي. خو که چیرې مونږ عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړو نو هغه به زمونږ ګناهونه لیرې کړي او مونږ ته نوی طبعیت راکړي. هغه په مونږ کښې بدلون راولي ترڅو نور ګناه ونکړو. مونږ دغه تبدیلي د بیا زیږیدنې په نوم یادوو. چې له همدې لارې خدای زمونږ پلار شي او مونږ د هغه بچیان شو.

مونږ د هغو کارونو په وسیله چې د خپلو ځانونو دپاره یې کوو د خدای بچیان کیدای نشو، بلکه دخدای څخه د پیدا کیدلو په وسیله. مونږ د طبیعي تولد په وسیله د خدای بچیان کیږو نه. کیدای شي تاسو ووایئ چې زه مسیحي پیدا شوی یم،

زما مور او پلار عیسویان وو. تاسو په دې خبره باندې مسیحي کیدای نشئ چې ستاسو مور او پلار مسیحیان دي. تاسو هغه وخت مسیحیان کیدای شئ کله چې د خدای څخه پیدا شئ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخې ته د توري څخه دایره چاپیره کړئ:

۱۰. عیسی مسیح ته نور ویل کیږي، ځکه .............

أ) هغه د ځان سره څراغ راوړ چې مونږ ته د تللو په وخت کښې لاره وښایي.

ب) هغه مونږ ته دا زده کوي چې څرنګه ژوند وکړو او مونږ ته د جنت لاره ښایي.

۱۱. کوم خلک دا حق لري چې د خدای بچیان وبلل شي؟

أ) یوازې هغه څوک چې په شخصي توګه عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه قبلوي.

ب) ټول انسانان، ځکه چې ټول انسانان خدای پیدا کړي دي.

۱۲. مونږ څرنګه د خدای بچیان کیدای شو؟

أ) په دې چې مونږ د مسیحي مور او پلار څخه چې د خدای خدمت کوي، پیدا شوي یو.

ب) په یو مسیحي قوم کښې چې هلته ډیرې کلیساګانې دي زیږیدلي یو.

ج) دخدای څخه د زیږیدو په وسیله کله چې
مونږ عیسی مسیح دخپل خلاصوونکي په
توګه قبول کړ.

## کلمه جسم شوه

### یوحنا ۱: ۱۴- ۱۸ یو ځل بیا ولولئ

یوه لویه پیښه چې د دنیا په تاریخ کښې رامنځته شوه دا ده چې خدای انسان شو. هغه زمونږ سره دومره مینه وکړه چې زمونږ سزا یې په خپل ځان واخیستته او زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو.

خو څنګه چې عیسی مسیح خدای ؤ، نو دا نشو کیدای چې هغه مړ شي. هغه مجبور ؤ چې انساني بدن ولري ترڅو زمونږ دپاره مړ شي. په همدې خاطر هغه په بیت الحم کښې د یو ماشوم په توګه وزیږیده. عیسی مسیح انسان شو ترڅو وکولی شي چې د انسانانو څخه د خدای بچیان جوړ کړي.

خدای د موسی په وسیله قوانین ورکړل ترڅو مونږ پوه شو چې خدای زمونږ څخه څه غواړي. مونږ نشو کولای چې د خدای په قوانینو باندې عمل وکړو. دغو حکمونو مونږ په دې پوه کړو چې مونږ یو خلاصوونکي ته اړتیا لرو. دا خلاصوونکی عیسی مسیح دی. د هغه په وسیله مونږ د خدای فضل مومو. چې هغه زمونږ د ګناهونو دپاره د خدای بخښنه ده او یو نوی عجیبه ژوند چې د برکت څخه ډک دی او دخدای بچیان یې لایق دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخې ته د توري څخه دایره چاپیره کړئ:

۱۳. عیسی مسیح ولې ځانله انساني جسم غوره کړ.

أ) ترڅو هغه مړ شي او مونږ ته د خپلو ګناهونو څخه خلاصون راکړي.

ب) ترڅو وکولی شي مونږ ته تعلیم راکړي.

ج) ترڅو وکولی شي چې مونږ وپیژني.

## د تعمید د غسل ورکوونکي یحیی پیغام

یوحنا ۱: ۱۹- ۲۸ ولولئ

د ۲ څخه تر ۱۰ او ۱۵ آیاتونه یو ځل بیا ولولئ. دا آیاتونه د یحیی د تعمید غسل ورکوونکي په باره کښې چې د خدای رسول ؤ خبرې کوي.

یوه لویه ډله د موعظې د اوریدلو دپاره یحیی ته ورغلل. ځینو خلکو فکر کاوه چې هغه باید وعده کړی شوی مسیح وي یعنې هغه خلاصون ورکوونکی چې خدای یې وعده کړې وه چې رالیږي به یې. خو یحیی د هغوی ذهن روښانه کړ چې هغه یوازې یو پیغمبر دی چې د خدای له خوا استول شوی دی او وظیفه یې دا ده چې خلک دې ته تیار کړي چې مسیح قبول کړي. هغه به هغوی ته ویل چې توبه وباسي او د ګناه څخه لاس واخلي، او کله به چې هغوی داسې وکړل نو د تعمید غسل به یې ورته ورکاوه.

د مقدس کتاب په وختونو کښې چې کله به کوم پادشاه د سفر نیت کاوه، نو مخکښې به یې یو جارچي لیږه ترڅو خلکو ته د پادشاه د راتګ په هکله خبر ورکړي. یحیی ته هم د عیسی مسیح له خوا همداسې وظیفه سپارل شوې وه.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخې ته د توري څخه دایره چاپیره کړئ:

۱۴. یحیی تعمید ورکوونکي څه وکړل؟

أ) هغه زیری ولیکه.

ب) خلکو ته یې وویل چې مسیح راځي.

ج) هغه وویل چې هغه هماغه مسیح دی.

## د خدای وری

یوحنا ۱: ۲۹- ۳٤ ولولئ

یحیی تعمید ورکوونکي عیسی له وړوکتوب څخه پیژانده. د هغوی مور ګاني یو تربله سره د ترور لورګانې وې. خو بیا هم یحیی د عیسی د حقیقي شخصیت څخه بې خبره ؤ ترڅو چې خدای ورته دا خبره ښکاره کړه. خدای عیسی مسیح ته دا وښودله چې دا عیسی هماغه وعده شوی مسیح دی، یعنې د ګناهونو دپاره قرباني، هغه څوک چې د روح القدس په وسیله به د تعمید غسل ورکوي او دخدای زوی دی.

د یحیی په شان ډیرو خلکو فکرکاوه چې عیسی یوازې یو ښه سړی دی. په داسې حال کښې چې مونږ ټول دې ته ضرورت

لرو چې د هغه سره په شخصي توګه ملاقات وکړو او هغه ښه وپیژنو.

عیسی د خدای "وری" ګڼل کیږي، ځکه چې د وري څخه د قربانۍ دپاره کار اخیستل کیږي. چا چې به ګناه وکړله او د مرګ لایق به ؤو نو هغه به کولی شول د خدای څخه وغواړي چې د هغه په ځای دې د وري قرباني قبوله کړي. عیسی یو داسې وری دی چې خدای هغه راواستاوه چې زمونږ پر ځای مړ شي او زمونږ ګناهونه لیرې کړي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخې ته د توري څخه دایره چاپیره کړئ:

**۱۵**. عیسی له کومه نظره د خدای وری ؤ؟

أ) هغه د یو بې ګناه وري په مثال ؤ.

ب) هغه د ګناه دپاره یوه قرباني وه.

## د عیسی مسیح لومړني شاګردان

یوحنا ۱: ۳۵- ٤۲ ولولئ

د یحیی دوه شاګردان (مریدان) د عیسی سره لاړل. د هغو څخه د یو نوم اندریاس ؤ خو د دوهم نفر نوم معلوم نه ؤ. کیدای شي چې هغه د دې انجیل لیکونکی یوحنا وي. اندریاس د خپل ورور شمعون چې په پطروس مشهور ؤ د لیدلو دپاره لاړ او ورته ویې ویل چې هغه په دې باندې ایمان راوړی دی چې عیسی هماغه مسیح دی. مسیح د "مسح شوي" معنی لري.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

د صحيح ځواب مخې ته د توري څخه دايره چاپيره کړئ:

۱۲. د عيسی د لومړنيو شاګردانو نومونه واخلئ:

أ) متي، مرقس، لوقا، يوحنا

ب) مريم، يوسف، نتنائيل.

ج) اندرياس، پطروس او ممکن يوحنا

## فليپوس او نتنائيل

**يوحنا ۱: ۴۳- ۵۱ ولولئ**

فليپوس زمونږ دپاره يو ښه مثال دی. هغه د عيسی په باره کښې د نتنائيل سره خبرې وکړې. په اول کښې نتنائيل په دې باور نه درلود چې عيسی هماغه وعده شوی مسيح دی. اول به چې کله مونږ د عيسی په باره کښې څه ويل ځينو خلکو ورباندې باور نه کاوه. فليپوس نتنائيل ته وويل."راشه او وګوره". کله چې نتنائيل خپله لاړ او ويې ليدل، نو بيا يې قبوله کړه چې عيسی مسيح د خدای زوی دی. هرڅوک چې د زړه له اخلاصه په دعا کښې عيسی ته نژدې شي نو په هغو شيانو باندې به پوه شي کوم چې د عيسی مسيح په باره کښې رښتيا دي. عيسی به هغه ته حقيقت ورښکاره کړي.

په **۵۱** آيت کښې عيسی خپل ځان د خدای زوی بولي. دا نوم ديارلس ځله د يوحنا په انجيل کښې راغلی دی. دا نوم مونږ ته دا خبره رايادوي چې عيسی خپل تخت په آسمان کښې پريښود او انسان شو. هغه زمونږ په شان بدن درلود. هغه زمونږ

په مشکلاتو باندې پوهیده. هغه هم وسوسه کیده خو هیڅکله یې ګناه ونکړه. هغه تل د خدای اراده عملي کوله. هغه د انسان زوی شو او دا یې وښودله چې انسان څرنګه د خدای په مرسته کولی شي کامل شي. هغه د انسان د زوی په توګه د خدای په حضور کښې د ټولو انسانانو استاځیتوب کاوه چې د هغو پر ځای مړ شي.

یوحنا خپل زیری د عیسی په پیژندګلوۍ باندې شروع کوي. د کتاب په اولني فصل کښې د عیسی نومونه په دې ترتیب سره اعلاموي:عیسی، د خدای وری، عیسی مسیح، وعده شوی مسیح، استاد ، د خدای زوی، د اسرائیلو پادشاه او د انسان زوی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۷. د یوحنا د انجیل په اول فصل کښې څو نومونه د عیسی دپاره استعمال شوي دي، وګورئ چې تاسو د هغو څخه څومره پیدا کولی شئ.

۱۸. په دې فصل کښې هغه آیت چې تاسو یې خوښوئ پیدا کړئ او هغه له یاده زده کړئ.

۱۹. د عیسی څخه په دې خاطر چې راغی او ستاسود ګناهونو په خاطر مړ شو، شکرګذاري وکړئ. د هغه څخه وغواړئ چې ستاسو سره خبرې وکړي او تاسو ته اجازه درکړي چې هغه په ښه توګه وپیژنئ.

۲۰. د هغو ټولو خلکو دپاره چې دا کتاب لولي دعا وکړئ. ترڅو هغوی هم عیسی ښه وپیژني.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

ستاسو د لوست تمرینونو ته په ترتیب سره ځواب نه دی ورکړ شوی ترڅو تاسو مخکښې له وخت څخه د بل سوال ځواب ونه ګورئ. هغه شماره راپیدا کړئ چې ستاسو په کار ده او دا هڅه مه کوئ چې مخکښې وګورئ.

۱- ب) هغه کب نیوونکی چې د عیسی ډیر نژدې ملګری شو.
۲- ج) درې نیم کاله.
۳- الف) زیری
۴- الف) د عیسی مسیح څخه.
۵- ب) کله چې هغه زوړ شو، یعنې وروسته له هغې چې زیات شمیر خلکو ته یې د عیسی مسیح په باره کښې تعلیم ورکړ.
۶- الف) هغه څه چې هغه باید لیکل، روح القدس د هغه ذهن ته راوړل.
۷- الف) خدای د هغه په وسیله زمونږ سره مینه وکړه.
۸- ب) د هغه ژوندون هیڅ ابتدا نه لرله، ځکه چې هغه ازلي دی.
۹- ج) هغه هم طبیعي ژوند ورکوي او هم روحاني. هغه دنیا پیدا کړه او هغه چا ته خلاصون ورکوي چې په هغه باندې ایمان راوړي.
۱۰-ب) هغه مونږ ته زده کوي چې څنګه ژوند وکړو او مونږ ته آسمان ته د تللو لاره ښایي.

۱۱- الف) یوازې هغه خلک چې عیسی مسیح په شخصي توګه د خپل خلاصوونکي په توګه قبلوي.
۱۲- ج) د خدای څخه د زېږېدو په وسیله کله چې عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړو.
۱۳- الف) د دې دپاره چې وکولی شي مړ شي اومونږ د خپلو ګناهونو څخه خلاص کړي.
۱۴-ب) خلکوته یې وویل چې مسیح راځي.
۱۵- ب) هغه د ګناه په خاطر یوه قرباني وه.
۱۶- ج) اندریاس، پطروس او ممکن یوحنا

دوهم لوست

# یوحنا، دوهم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ:

- ❖ د جلیل په قانا کښې واده
- ❖ عیسی مسیح عبادتخانې ته ځي
- ❖ عیسی ټول انسانان پیژني

## د جلیل په قانا کښې واده

یوحنا ۲: ۱- ۱۲ ولولئ

عیسی مسیح د خپلې موراو خپلو شاګردانو سره یو واده ته لاړ. د رواج په مطابق به د میلمنو څخه په شرابو باندې هرکلی کیده. مخکښې له دې چې میله پای ته ورسیږي، شراب خلاص شول.

عیسی مسیح به همیشه دې ته تیار ؤ چې د خلکو سره مرسته وکړي. د هغه مور مریم د هغه ځخه غوښتل چې یو څه وکړي ترڅو شاه او ناوې د واده په مراسمو کښې د خجالت سره مخامخ نشي. د دې اړتیا د پوره کیدلو دپاره د خدای قوت او معجزې ته ضرورت ؤ. مریم حق نه درلود چې عیسی مسیح ته وایي چې کومه معجزه وښایي، یوازې خدای پلار دا حق درلود.

عیسی مسیح په دې باندې ډاډه نه ؤ چې د هغه دپاره د دې وخت لاندی رارسیدلی چې معجزه دې وښایي، خو خدای هغه ته حتما دا اجازه ورکړه چې د دې کار وخت رارسیدلی دی. هغه اوبه په شرابو باندې بدلې کړلې او د هغوی احتیاج یې پوره کړ. د خدای زوی هر کار کولی شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. د عیسی اولنۍ معجزه کومه وه؟

أ) یو وړوند سړي ته یې شفا ورکړه.

ب) اوبه یې په شرابو باندې بدلې کړلې.

ج) یو جذامي ته یې شفا ورکړه.

## عیسی مسیح عبادتخانې ته ځي

یوحنا ۲: ۱۳- ۲۲ ولولئ

د خدای قوم به هر کال د فسخې د اختر د لمانځلو دپاره د خدای کورته چې په اورشلیم کښې ؤ، تلل او هلته به یې د هغه ورځې په رایادولو سره چې ډیر کلونه پخوا یې د هغوی قوم ته یې

د مرګ څخه خلاصون ورکړی ؤ، وري قرباني کول. په هغه وخت کښې چې کله د مرګ فرښتې نیت درلود چې د هغوی د خاورې څخه تیره شي خدای خپل قوم ته ویلي ؤو چې هره کورنۍ دې یو وری حلال کړي او د هغه وینه دې د خپلو کورونو په دروازو باندې وموږي. د مرګ فرښته به د وینې په لیدلو سره د هغوی د کورونو څخه پرته له دې چې کوم زیان ورته ورسوي، تیریدله. په داسې حال کښې چې د نورو کورنیو مشران زامن ووژل شول.

دا کار د عیسی مسیح یعنې د خدای د وري یو مثال ؤ چې څرنګه خلکو ته د ابدي مرګ څخه خلاصون ورکوي. د فسخې د اختر لمانځل د عبادت د مهمو ډولونو څخه یو عبادت ؤ.

باید ټولو د خدای په کور کښې په ډیر احترام سره د خدای عبادت کاوه. په داسې حال کښې چې ځینو سوداګرانو په هغه ځای کښې ورانکاري کوله. عیسی هغوی له عبادتخانې څخه وویستل ځکه چې هغوی د مذهب څخه د خپل کسب او تجارت دپاره کار اخیست.

عیسی مسیح د دې دپاره معجزې نه ښودلې چې خپل شخصیت خلکو ته وښایي، بلکه د هغه معجزې د محتاجو خلکو سره د مرستې په خاطر وې. خو د دې دپاره چې هغه ثابته کړي چې دخدای زوی دی ، نو هغه یوې لویې معجزې ته اشاره وکړه، په دې ډول چې هغه خپل بدن د خدای کور وباله، ځکه چې خدای په کښې اوسیده. خلک به هغه له منځه یوسي، د هغه بدن به ووژني، مګر وروسته له درې ورځو څخه به د قبر څخه راژوندی شي. په هرصورت څه چې هغه ویل خلک

ورباندې نه پوهیدل.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲. عیسی مسیح په اورشلیم کښې په عبادتخانه کښې څه وکړل؟

أ) هغه سوداګران او صرافان له هغه ځای څخه وشړل.

ب) څښتن ته یې قرباني وکړه.

ج) عبادتخانه یې د خاورو سره خاورې کړه او بیرته یې جوړه کړه.

۳. کله چې عیسی مسیح په عبادتخانه کښې ؤ، هغه کوم درس وښود ؟

أ) دا چې عبادتخانه د سوداګرۍ ځای دی.

ب) چې هغه به عبادتخانه ورانه کړي او په درې ورځو کښې به یې بیرته جوړه کړي.

ج) چې د هغه بدن عبادتخانه ده، هغه به مړ شي او وروسته له درې ورځو څخه به له قبر څخه بېرته ژوندی راپورته شي.

## عیسی مسیح ټول انسانان پېژني

یوحنا ۲۳- ۲۵ ولولئ

د دې کتاب د لوستلو څخه یو مقصد دا دی چې عیسی مسیح په ربښتني توګه وپیژنو او په دې پوه شو چې هغه څنګه

کولی شي چې زمونږ سره مرسته وکړي. په اورشلیم کښې ډیرو خلکو د عیسی مسیح د معجزو په لیدلو سره په هغه باندې ایمان راوړ. راځئ چې په هغو شیانو باندې چې مقدس کتاب یې د عیسی مسیح په باره کښې وایي ایمان ولرو.

ډیر خلک په دې عقیده دي چې په عیسی مسیح باندې ایمان لري خو عملونه یې د هغه په شان نه دي. که چیرې مونږ په دې باندې ایمان ولرو چې عیسی د ژوندون کلمه ده نو د هغه تعلیم به هم قبول کړو. که چیرې ایمان ولرو چې د هغه ژوند زمونږ دپاره یوه رڼا ده، نو هر چیرته چې هغه مونږ بیایي مونږ به ورپسې ځو. که په دې ایمان ولرو چې هغه د خدای وری دی نو هغه به د خپلو ګناهونو د قربانۍ په توګه قبول کړو.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۴. یوحنا ۲: **۲۵** له یاده زده کړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

ستاسو تمرینونو ته په ترتیب سره خوابونه نه دي ورکړل شوي ترڅو تاسو له وخت څخه مخکښې د راتلونکي سوال ځواب ونه ګورئ. هغه شمېره چې ستاسو په کار ده هغه ولټوئ او کوښښ ونکړئ چې مخکښې وګورئ.

۱ - ب) **هغه خپل جلال** وښود او شاګردانو یې ورباندې ایمان راوړ.

۳- ج) د هغه بدن عبادتخانه وه، هغه به مړ شي او پس له دریې
ورځو به له قبر څخه راپاڅي.
۲-الف) هغه سوداګران او صرافان وشړل.

دریم لوست

# یوحنا، دریم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- عیسی مسیح او نیکودیموس
- نوې زیږیدنه
- په کټلو باندې ژوند موندل
- عیسی مسیح او یحیی
- هغه څوک چې د آسمان څخه راځي

## عیسی مسیح او نیکودیموس

یوحنا ۳: ۱- ۲۱ ولولئ

## نوې زیږیدنه

## یوحنا ۳: ۱- ۱۳ یوځل بیا ولولئ

نیکودیموس یو ښوونکی او یو رهبر ؤ. هغه ښه تحصیلات او ښه ژوند درلود. هغه فکر کاوه چې هغه نیک کارونه کوي او په دې کارونو به خدای خوشحاله کړي او ده ته به په جنت کښې ځای ورکړي. عیسی هغه ته وویل، ترڅو چې څوک بیا پیدانشي هغه نشي کولی چې د خدای پادشاهي ووینې. (یوحنا ۳: ۳)

عیسی هغه ته تشریح کړه چې دوه ډوله ژوند وجود لري: یو طبیعي ژوند او بل روحاني ژوند. کله چې مونږ پیدا شو نو طبیعي ژوند شروع کوو، مګر روحاني ژوند د خدای د روح څخه اخلو. په یوحنا ۱: ۱۲ کښې مو ولوستل چې د دې نوي نعمت څخه هغه وخت برخمند کیږو چې کله عیسی مسیح دخپل خلاصون ورکوونکي په توګه قبول کړو او نوی زیږیدنه ترلاسه کړو. په همدې وخت کښې خدای زمونږ پلار کیږي او مونږ د خدای څخه پیداکیږو او د خدای بچیان شو.

"څوک چې د مسیح سره یوځای کیږي هغه نوې پیداکیدنه ده. زاړه شیان تیر شول او دا دی اوس ټول شیان نوي شول" (دوهم قرنتیان **۵: ۱۷**).

عیسی مسیح وویل چې دغه نوې زیږیدنه د "اوبو او روح" څخه سرچینه اخلي. مقدس کتاب اکثره د رمز یا کنایې په شکل خبرې کوي. یعنې هغه لغتونه استعمالوي چې مختلفې معنی ګانې لري او هغه د معمول له مخې استعمالوي. په دې

ځای کښې "اوبه" د ګناه د مینځلو معنی ورکوي. دا زمونږ د خلاصون یوه برخه ده.

"هغه مونږ ته د روح القدس په وسیله خلاصون راکړ، او د مینځلو په وسیله یې نوی زیږیدنه او نوی ژوندون راکړ" (تیطوس **۳: ۵**).

"تاسو له مخکښې څخه د هغه تعلیم په وسیله پاک شوي یاست کوم ما تاسو ته درکړ (یوحنا **۱۵: ۳**)." روحاني پاکوالی د خدای د کلام په اوریدلو او د هغه څخه په اطاعت کولو سره رامنځته کیږي. د اوبو په وسیله د نوی زیږیدنې موندلو څخه د عیسی مقصد د خدای د کلام اوریدل او د هغه څخه اطاعت کول ؤ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. عیسی نیکودیموس ته څه وویل؟

أ) هغه ښه کارونه چې هغه کړي ؤو، هغه به جنت ته بوزي.

ب) ترڅو پورې چې څوک د دوهم ځل دپاره د خدای څخه پیدا نشي، هغه نشي کولی چې د خدای پادشاهۍ ته ورداخل شي.

۲. نوې زیږیدنه عبارت ده له:

أ) هغه زیږیدنه چې په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو او هغه د خپل خلاصوونکي په توګه د قبلولو له لارې لاس ته راځي.

ب) پس له مرګه د یو بل شخص په توګه بیرته دنیا ته راتګ.
ج) د اوبو په وسیله د تعمید غسل.

## په کتلو باندې ژوندون موندل

**یوحنا ۳: ۱٤- ۲۱ یوځل بیا ولولئ**

په یو وخت کښې د خدای قوم ګناه وکړه او د هغو مارانو په وسیله چې هغوی به یې چیچل، هغوی ته سزا ورکوله. لیکن خدای د هغوی سره مینه کوله او په همدې خاطر یې موسی ته وویل چې یو برنجي مار واخلي او په یو لوړ ځای کښې ځوړند کړي چې د هر ځای څخه ولیدل شي. هرڅوک چې دې مار ته وګوري نو هغه به شفا مومي. او هغه څوک چې دې مار ته نه ګوري نو هغه به مړ کیږي.

په دنیا کښې ټولو انسانانو چې د خدای د امرونو څخه یې سرغړونه کړې ده، هغه په مرګ باندې محکوم شوي دي. خو له بل پلوه خدای زمونږ سره مینه کوي او هغه خپله مینه یې د خپل زوی په رالیږلو سره ثابته کړه. عیسی مړ شو او په صلیب باندې میخ کړای شو او د هغه برنجي مار په شان د مرګ څخه د خلاصون زمینه برابروي. هرڅوک چې هغه ته وګوري او یا په بل عبارت په هغه باندې ایمان راوړي نو د ګناه له منګلو څخه خلاصیږي او هغه څوک چې ورباندې ایمان نه راوړي نو په ګناه کښې به مړ کیږي. خو څوک چې عیسی مسیح ته وګوري نو د تل ژوندون به یې په نصیب شي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. یوحنا ۳: ۱۲ په یاده زده کړئ. دا آیت د مقدس کتاب د ډیرو ښکلیو آیاتونو څخه دی.

۴. زمونږ سره د خدای د مینې لوی ثبوت څه شی دی؟

أ) خپل زوی یې زمونږ د خلاصون په خاطر قرباني کړ.

ب) مونږ ته ژوند بخښي.

ج) زمونږ دعاګانو ته جواب وايي.

## عیسی مسیح او یحیی

یوحنا ۳: ۲۲- ۳۰ ولولئ

د خلکو هغه ډلې چې مخکښې به یحیی تعمید ورکوونکي ته ورتللې چې د هغه خبرې واوري، اوس هغوی عیسی مسیح ته د هغه د خبرو د اوریدلو دپاره ورځي. د یحیی څخه خپل ډیر پیروان جدا شول او د عیسی پسې لاړل. خو یحیی له دې خبرې څخه کومه اندیښنه نه لرله ځکه هغه وظیفه چې د خدای له خوا ورته سپارل شوې وه هغه خلکو ته د عیسی ورپیژندنه وه. له همدې کبله کله چې خلکو هغه پریښود چې د عیسی پیروي وکړي، نو هغه خوشحاله ؤ.

د یحیی رویې او خبرو دا وښودله چې هغه څومره شریف او عاجز سړی ؤ. د هغه خبرې زمونږ دپاره ډیر ښه پند کیدای شي. هغه څوک چې د یحیی په ژوند کښې ډیر مهم ؤ، هغه خپله نه

بلکه عیسی ؤ.

"هغه باید ډیر مهم شخصیت شي او زه باید له نظره وغورزولی شم" (یوحنا ۳: ۳).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵. یوحنا ۳: ۳ په یاده زده کړئ.
۶. دعا وکړئ چې عیسی ستاسو په ژوند کښې هره ورځ ډیر اهمیت پیدا کړي.

## هغه څوک چې د آسمان څخه راځي

**یوحنا ۳: ۳۱- ۳۶ ولولئ**

په ذکر شوي آیت کښې د زیري لیکونکی یوحنا مونږ ته وایي چې عیسی هغه څوک دی چې د آسمان (جنت) څخه راځي. هغه په دنیا کښې له هر چا او هر شخصیت څخه ډیر لوی دی. هغه د خدای زوی دی. هغه په خدای باندې ډیر ګران دی او هغه ته یې ټول اختیار او قدرت ورکړی دی.

"هغه څوک چې په زوی باندې ایمان راوړي هغه د تل ژوندون لري، خو هغه څوک چې د زوی اطاعت نکوي هغه به ژوندون ونهویني بلکه همیشه به د خدای غضب وربانديې وي" (یوحنا ۳: ۳۶).

د دې فصل زیات آیاتونه د تل ژوندون په اړه خبرې کوي. د تل ژوندون څخه مقصد دا ندی چې همدې دنیا کښې دې د تل دپاره پاتې شو. بلکه د هغې مقصد د خدای هغه ژوندون دی

چې هیڅ پای نلري، یعنې هغه قسم ژوند چې عیسی درلود. که څه هم عیسی په صلیب باندې مړ شو خو د هغه ژوند پای ته ونه رسید. هغه د قبر څخه ژوندی راووت او تل به ژوندی وي.

که چیرې په عیسی باندې ایمان ولرو نو د تل ژوندون به ولرو. زمونږ بدنونه مړه کیږي خو له مرګ څخه وروسته زمونږ د هر یو روح به خدای ته ورځي او د تل دپاره به د هغه سره اوسیږي. لکه څنګه چې د عیسی بدن له مرګ څخه وروسته راپورته شو، نو د هغو خلکو بدنونه چې په هغه باندې یې ایمان راوړی دی هم یوه ورځ ژوندي شي او د تل ژوندون څخه به برخمند شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۷. که چیرې مونږ هغه خلاصون چې خدا یې په عیسی مسیح کښې مونږ ته هدیه کوي قبول نکړو نو څه به وشي؟

أ) کیدای شي چې په اوبو کښې د تعمید د غسل په وسیله خلاصون پیدا کړو.

ب) کیدای شي چې له مرګ څخه وروسته خلاصون پیدا کړو.

ج) خلاصون به ونه مومو.

۸. که چیرې هغه خلاصون قبول کړو چې خدای مونږ ته په عیسی مسیح کښې تیار کړی دی قبول کړو نو څه به وشي؟

أ) زمونږ بدن به هیڅکله مړ نشي.
ب) زمونږ بدنونه به مړه شي، خو مونږ به لاړ شو
چې د عیسی سره د تل دپاره ژوند وکړو.
ج) زمونږ بدنونه به هیڅکله د مړو څخه
راپورته نشي.

۹. خپلو هغو دوستانو ته دعا وکړئ چې په عیسی
باندې یې ایمان نه دی راوړی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

ستاسو د تمرینونو ځوابونه په ترتیب سره نه دي ورکړل شوي، ترڅو مخکښې له مخکښې د بل سوال ځواب ته ونه ګورئ. هغه شماره پیداکړئ کومه چې ستاسو په کار ده او کوښښ وکړئ چې مخکښې ونه ګورئ.

۴- الف) هغه خپل زوی زمونږ د خلاصون دپاره ورکړ.
۱ - ب) ترڅو یو څوک بیا ونه زیږیږي هغه نشي کولی چې د
خدای په پادشاهۍ کښې داخل شي.
۷- ج) مونږ به خلاصون پیدانکړو.
۲- الف) د خدای څخه پیدا کیدل په عیسی باندې د ایمان
راوړلو او هغه د خپل خلاصوونکي په توګه د منلو په وسیله
صورت مومي.
۸- ب) زمونږ بدنونه به مړه شي خو مونږ به لاړ شو چې همیشه
د خدای سره واوسیږو.

ستاسو یادداشت

ثلورم لوست

# یوحنا، ثلورم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- عيسى مسيح او سامري ښځه
- عيـسى د يـو دولتـي افـسر زوى تـه شـفا وركوي

## عيسى مسيح او سامري ښځه

یوحنا ٤: ١- ٤٢ ولولئ

د عيسى په هيواد كښې ډيرو خلكو سامريانو ته په سپكه ستر‌ګه كتل، خو عيسى د ټولو خلكو سره مينه كوله. د هغه رويه د غريب، شتمن،يهودي او غير يهودي او ټولو نژادونو سره يو شان وه.

سامري ښځې د نیکودیموس سره ډېر فرق درلود. نیکودیموس ښه سړی ؤ خو د تل ژوندون د لاس ته راوړلو دپاره یې باید په عیسی باندې ایمان راوړی وای. خو هغه سامرۍ ښځه ښه ښځه نه وه او عیسی مسیح هم د هغې د حالاتو ځخه خبر ؤ او غوښتل یې چې هغې ته هم خلاصون ورکړي. هغې هم د نیکودیموس په شان په عیسی باندې په ایمان راوړلو سره خلاصون وموند.

عیسی هغه په دې پوه کړه چې هغه کولی شي چې هغې ته د ژوندون اوبه ورکړي چې هغه ورته د خپلې روحاني تندې د لیرې کولو دپاره اړتیا لري.

د یوحنا په دې کتاب کښې د "ژوندون" لغت شپږ دیرش وارې استعمال شوی دی. چې د هغو شپږو دیرشو ځلو ځخه اوولس ځلې د "ابدي" د لغت سره استعمال شوی دی. مخکښې مو وویل چې په عیسی کښې ژوندون دی (یوحنا ۱: ۴). او هغه څوک چې په عیسی باندې ایمان راوړي نوې زېږېدنه مومي او د تل ژوندون خاوند کیږي (یوحنا ۳: ۵، ۱۵، ۱۲ او ۲۲). او عیسی هغه چاته چې ورڅخه وغواړي د ژوندون اوبه ورکوي (یوحنا ۴: ۱۴).

سامري ښځې د خپل مذهبي دود په باره کښې خبرې وکړې. عیسی وویل چې د مذهبي مراسمو د سرته رسولو ځای او د عبادت ځای کومه مهمه مسئله نه ده. ډیره مهمه خبره دا ده چې د خدای عبادت باید په هغه حقیقي شکل سره چې دی، وکړو.

یوازې د مذهبي مراسمو په سرته رسولو سره خدای نه خوشحالیږي. مهمه خبره داده چې خدای روح دی او خلک باید په هغه قسم د هغه عبادت وکړي لکه څنګه چې هغه واقعا دی. خدای یوازې د کلیسا په غړیتوب او مذهبي مراسمو په سرته رسولو باندې نه خوشحالیږي. خدای به هیڅکله راضي نشي ترڅو عبادت حقیقي او روحاني نه وي. حقیقي عبادت هغه عبادت دی کوم چې مقدس کتاب د هغه تعلیم ورکوي. روحاني عبادت باید په اخلاص او د روح القدس په اساس وي.

ښځه پوه شوه چې عیسی کوم عادي سړی نه دی ځکه چې هغې ته یې د هغو کارونو په باره کښې خبرې وکړې کوم چې هغې کړي ؤو. کله چې عیسی هغه پوه کړه چې دی هغه خلاصون ورکوونکی دی چې خدای وعده کړې وه چې هغه به دنیا ته رالیږي، نو هغېورباندې ایمان راوړ. بیا هغه خپل کلي ته لاړه چې د عیسی په باره کښې خلکو ته خبر ورکړي. کله چې خلکو واوریدل چې هغه وعده کړای شوی عیسی مسیح د هغوی ښار ته راغلی دی، نو هغې څاه ته ورغلل چې هغه ووینې.

عیسی دوه ورځې د هغوی سره پاتې شو او د خلاصون په باره کښې یې هغوی ته تعلیم ورکړ. وروسته بیا د کلي خلکو هغې ښځې ته وویل چې اوس مونږ په دې خاطر ایمان نه راوړو چې تا راته وویل، بلکه په دې خاطر چې مونږ په خپله د هغه وینا واوریدله اومونږ پوهیږو چې هغه د ټولې دنیا خلاصوونکی دی.

مونږ هر يو بايد په عيسى باندې ايمان راوړو او په خپله د هغه سره ملاقات وکړو. د هغه ځاى خلکو اول د سامري ښځې څخه د عيسى په باره کښې ځينې شيان واوريدل. يوازې دا کافي نه ؤو. کيداى شي چې تاسو هم د عيسى په هکله ځينې شيان د ده يا هغه نفر څخه اوريدلي وي مګر يوازې اوريدل او لوستل د عيسى په باره کښې کافي نه دي. بايد په دعا کښې په شخصي توګه د عيسى مسيح سره تماس پيداکړئ او په دې باندې ايمان راوړئ چې هغه خلاصون ورکوونکى دى.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱. يوحنا ۴: ۲۴ په ياده زده کړئ.
۲. وروسته له دې چې عيسى د کلي خلکو ته تعليم ورکړ هغوى د هغه په باره کښې څه وويل؟
   أ) هغه ښه سړى دى چې تږو خلکو ته اوبه ورکوي.
   ب) هغه د دنيا خلاصون ورکوونکى دى.
   ج) هغه پيغمبر دى چې د ټولو خلکو په باره کښې پوهيږي.
۳. د دې دپاره چې خداى ته د قبليدلو وړ وګرځو، بايد:
   أ) په خپله شخصا په عيسى مسيح باندې د خلاصوونکي په توګه ايمان ولرو.
   ب) د مسيحي ميندو او پلرونو څخه پيداشو.

ج) د کوم مذهبي مشر یا کوم دوست څخه د عیسی مسیح په باره کښې ځینې شیان واورو.

## عیسی مسیح د یو دولتي افسر زوی ته شفا ورکوي

**یوحنا ٤: ٤٣- ٥٤ ولولئ**

ایا تر اوسه پورې تاسو د عیسی مسیح څخه غوښتي دي چې کوم نفر ته شفا ورکړي؟ یو دولتي افسر د عیسی څخه وغوښتل چې د هغه زوی ته شفا ورکړي. عیسی د هغه ناروغه هلک لیدلو ته ورنغی، فقط د هغه پلار ته یې وویل چې ستا زوی به روغ شي او هغه هم د عیسی مسیح دغه وعده قبوله کړه. دا څومره ښه خبره ده چې مونږ په دې پوهیږو چې عیسی مسیح اوس هم هماغه قدرت لري. اوس هم کولی شو چې فقط په دعا کولو او د هغه په وینا باندې په ایمان لرلو سره د خپلې ناروغۍ څخه ښه شو.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴. عیسی مسیح د دولتي افسر زوی ته څنګه شفا ورکړه؟

أ) یو څه دوا یې ورته ولیږله.

ب) جادوګري یې وکړه.

ج) هغه وویل چې هلک به روغ شي او پلار یې په دې خبره باندې باور وکړ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۲- ب) هغه د دنیا خلاصون ورکوونکی ؤ.

۴- ج) هغه وویل چې هلک به روغ شي او پلار یې باور وکړ.

۳- الف) په خپله شخصا په عیسی مسیح باندې د خپل خلاصوونکي په توګه باور ولرئ.

پنځم لوست

# یوحنا، پنځم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د یو شل سړي روغول
- د خدای د زوی قدرت او اختیار
- د عیسی مسیح شاهدان

## د یو شل سړي روغول

### یوحنا ۵: ۱- ۱۸ ولولئ

پنځم فصل مونږ ته د هغه سړي په باره کښې قصه کوي کوم چې ۳۸ کاله ناروغ ؤ. په اورشلیم کښې یو خاص حوض ؤ چې اوبو یې ناروغانو ته شفا ورکوله. په دې ډول چې کله به فرښتې اوبو ته حرکت ورکاوه، نو هماغه ناروغ به شفا موندله کوم چې

به اول خپل ځان په هغوکښې وغورزاوه. دغه فلج سړي نشو کولی چې خپل ځان د ټولو څخه مخکښې دې حوض ته وروغورزوي، خو عیسی هغه ته شفا ورکړه.

ځینې مذهبي مشران د عیسی په دې کار ډیر قهرجن شول ځکه چې هغه د سبت (شنبه) په ورځ هغه سړي ته شفا ورکړه. هغوی د سبت ورځ د عبادت ورځ ګڼله او په دې عقیده ؤو چې په دې ورځ باید هیڅ کار ونکړای شي. د هغو خلکو دپاره د شفا ورکوونکې معجزې څخه چې هغه شل سړي ته یې د حرکت کولو توان ورکړ، د سبت په ورځ د هغه شل سړي د بسترې وړل زیات اهمیت درلود. د دې په ځای چې هغوی د دې شل سړي په باره کښې چې مرستې ته یې اړتیا لرله، فکر وکړي، هغوی د خپلو عقیدو په باره کښې فکر کاوه.

دا صحیح ده چې په هفته کښې یوه ورځ باید د عبادت دپاره وقف شي، او په هغې ورځ باید غیر ضروري کار ونکړای شي، مګر د محتاجو خلکو خدمت کول په هر وخت کښې لازم دي. عیسی وفرمایل: "زما پلار لاتر اوسه پورې کار کوي او زه هم کارکوم." که چیرې خدای په هفته کښې اوه ورځې کار ونکړي نومونږ ټول به مړه شو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. هغه بې وسه ناروغه سړي ولې د بیت صیدا د حوض په غاړه انتظار کاوه؟

أ) په دې خاطر چې هغه غوښتل چې اوبه وخښي.
ب) ځکه غوښتل يې چې شفا ومومي.
ج) غوښتل يې چې ولامبي.

## د خدای د زوی قدرت او اختيار

**یوحنا ۵: ۱۹- ۲۹ ولولئ**

خدای‌خپل زوی عیسی ته د ناروغانو د روغولو، د مړو د راژوندي کولو، د ګناه د بخښلو او حتی په دنیا باندې د عدالت چلولو قدرت او حق ورکړی دی. **۲۴** آیت هغو خلکو ته چې د عیسی خبرې اوري او په هغه باندې ایمان راوړي یوه ډیره قمتي وعده ورکوي، یعنې هغه څوک چې د عیسی وینا اوري او هغه قبلوي، نو هغوی د خپلو ګناهونو په خاطر نه ملامته کیږي، بلکه د ګناه څخه خوندي پاتې کیږي او جزا ورته نه ورکول کیږي. ځکه چې د تل ژوندون يې حاصل کړی دی. او دا ضروري نه ده چې د عیسی مسیح د محاکمې د میز په مخ کښې ودریږي، ځکه چې عیسی مسیح يې د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړی دی.

### هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۴. یوحنا **۵**: **۲۴** له یاده زده کړئ.
**۵**. کوم خلک به د خپلو ګناهونو په خاطر د عیسی مسیح له خوا نه محاکمه کیږي؟
أ) هغه خلک چې د کلیسا غړي دي.

ب) هغه خلک چې هیڅکله یې بد کار نه وي کړی.

ج) هغو خلکو چې د عیسی خبرې یې اوریدلي دي او په خدای او په هغه باندې یې ایمان راوړی وي.

## د عیسی مسیح شاهدان

یوحنا ۵: ۳۰- ۴۷ ولولئ

دا فصل د عیسی د شاهدانو په باره کښې خبرې کوي. د عیسی شاهدیو داسې نفر او یا داسې یو شی دی چې د عیسی په باره کښې خبرې کوي او د هغه رښتینی شخصیت ښکاره کوي. د دې فصل ټول شاهدان مونږ په دې خبروي چې عیسی د خدای زوی دی. د دې شاهدانو څخه یو یې یحیی د تعمید غسل ورکوونکی دی (۳۳ آیت). عیسی چې کوم کارونه کړیدي هغه په خپله شاهدي ورکوله (۳٦ آیت). او دایې ثابتوله چې هغه د خدای زوی دی. آسماني پلار هم شهادت ورکړی دی(۳۷ آیت). د خدای لیکلی شوی کلام یو بل شاهد دی (۳۹ آیت). عیسی یو عادي سړی نه دی. عیسی هغه څوک دی چې آسماني پلار هغه راولیږه ترڅو خلاصون او د تل ژوندون ورکړي.

**خپل ځوابونه مقايسه کړئ:**

۲-ج) ځکه چې عيسی د سبت په ورځ هغه سړي ته شفا ورکړه.

۱- ب) هغه غوښتل چې روغ شي.

۵- ج) هغه چا چې د عيسی خبرې اوريدلي وي او په هغه او خدای باندې يې ايمان راوړی وي.

۳- الف) هغوی ته يې وويل چې هغه د پلار په شان کار کاوه.

ستاسو یادداشت

شپږم لوست

# یوحنا، شپږم فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- پنځو زرو نفرو ته ډوډۍ ورکول
- د اوبو د پاسه تلل
- خلک عیسی لټوي
- عیسی، د ژوندون ډوډۍ
- د ابدي ژوندون خبرې

## پنځه زره نفرو ته ډوډۍ ورکول

یوحنا ٦: ١- ١٥ ولولئ

متي د عیسی د شاګردانو څخه یو بل شاګرد ؤ چې د دې

معجزې په باره کښې یې په مفصله توګه بیان ورکړی دی. عیسی د خپلو شاګردانو سره یو لیرې ځای ته تللی ؤ ترڅو د خلکو د ګڼه ګوڼې څخه لیرې وي. خو خلک ورپسې راغلل او خپل ناروغان یې ورته راوستل چې شفا ورته ورکړي. عیسی هغوی ته شفا ورکړه. د عیسی زړه په خلکو باندې سوزیده. ډیره ناوخته شوې وه او خلک وږي شوي ؤو او هلته داسې کوم ځای نه ؤ چې خواړه په کښې راپیدا کړي.

عیسی د تعلیم دپاره یوه خاصه طریقه لرله، اول یې د یوې موضوع په باره کښې تعلیم ورکاوه او وروسته یې هغه اجرا کاوه. عیسی مونږ په دې پوه کړو چې خدای زمونږ سره علاقه مندي لري او د دې لیوال دی چې زمونږ احتیاجونه وپیژني او هغه پوره کړي.

هغوی عیسی ته پنځه ډوډۍ راوړې. پنځه وړې ډوډۍ او یو وړوکی کب یوازې د یو وږي هلک دپاره کفایت کاوه. خو بیا هم عیسی وغوښتل هغه ډوډۍ او ماهي چې د هغه هلک سره وې هغه ته راوړي. کله چې عیسی هغو ته برکت ورکړ نو ټولو خلکو هغه وخوړله او ماړه شول. هلک هم وږی پاتې نشو. څومره چې هغوی خوړلی شول نو ویې خوړل. کله چې مونږ د خدای په لاره کښې یو څه ورکړو نو تاوان نه کوو، څه چې مونږ ورکړي دي خدای مونږ ته له هغو څخه زیات راکوي.

وروسته له دې چې عیسی د خواړو په خاطر د خدای څخه شکرګذاري وکړه، نو خواړه زیات شول. که چیرې مونږ هم د هغو شیانو په خاطر چې خدای راکړي دي شکر ادا کړو نو هغه

ورته داسې برکت ورکوي چې زمونږ احتیاجونه ورباندې پوره شي.

شاګردانو هم په معجزه کښې برخه درلودله. کله چې هغوی د عیسی څخه ټوټې شوې ډوډۍ واخیستلې، نو په ډوډۍ کښې برکت راپیداشو او زیاتې شوې او د وږو خلکو اړتیا یې پوره کړه. کله کله د خدای کلام د ډوډۍ او غوښې سره تشبیه شوی دی. کله چې د خدای کلام نورو خلکو ته رسوو، خدای هغه ته برکت ورکوي ترڅو په روحاني توګه وږې خلک ماړه کړي.

عیسی مسیح تل خپل کارونه په نظم او ترتیب سره اجرا کول. هغه ټول شیان داسې برابر کړل چې بې له دې چې کوم شور ماشور پیدا شي د خلکو لویه ګڼه ګوڼه په ډوډۍ باندې ماړه شول. بیا یې شاګردانو ته وظیفه ورکړه چې پاتې ډوډۍ راټوله کړي ترڅو مونږ ته رازده کړي چې خپل مال ضایع نکړو.

خلک د دې معجزې په لیدلو سره هیجاني شوي ؤو. نژدې ؤ چې وعده شوی عیسی مسیح د موسی په شان شي. په پخوا زمانو کښې کله چې موسی دعا وکړه او خدای خلکو ته هغه خواړه چې د "من" په نوم یادیدل ورکړل. عیسی هم په دښته کښې یوې لویې ډلې ته په حیرانوونکې توګه خواړه ورکړل. نور نو د خلکوسره دا شک پاتې نشو چې عیسی باید هماغه وعده کړای شوی مسیح وي. نو له همدې کبله هغوی په دې لټه کښې شول چې هغه خپل پادشاه کړي.

مګر عیسی د دې دپاره نه ؤ راغلی چې د روم حکومت

رانسکورکړي او په هغه هیواد کښې خپل حکومت جوړ کړي، بلکه د دې پاره راغلی ؤ چې ترڅو دګناه قدرت د هغو خلکو په ژوندون کښې له منځه یوسي کومو چې غوښتل پاک ژوند تیر کړي. هغه به یو داسې ښښتن او روحاني پادشاه وي چې د خلکو په زړونو باندې به حکومت کوي. څرنګه چې خلکو د دې مطلب د درک کولو توان نه درلود نو عیسی هم هغوی پریښودل.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. ایا د ډوډۍ خوړلو څخه مخکښې د خدای څخه د هغې په خاطر شکر ادا کوئ؟ ..........................
ایا له دې وروسته به دا کار وکړئ؟ ......................

۲. عیسی د هغه وړوکي هلک په پنځو ډوډیو او دوه ماهیانو باندې کومه معجزه وښودله؟

أ) د خپلو شاګردانو دپاره یې پوره خواړه تیار کړل.

ب) دولس ټکرۍ چې د ډوډیو څخه ډکې وې، هغه یې تیارې کړې.

ج) داسې خواړه یې برابر کړل چې پنځه زره کسانو چې ښځې او ماشومان په دې شمیر کښې نه راتلل، هغه یې وخوړل او ماړه شول.

۳. کله چې عیسی هغو خلکو ته ډوډۍ ورکړه نو هغوی غوښتل چې څه وکړي؟

أ) توبه وباسي او د خپلو ګناهونو څخه خلاص شي.
ب) د عیسی په سر باندې د یو پادشاه په توګه تاج کیږدي.
ج) عیسی د خپل روحاني مشر په توګه قبول کړي.

## د اوبو د پاسه تلل

**یوحنا ۶: ۱۶- ۲۱ ولولئ**

د جلیل د سیند بلې غاړې ته د بیرته تللو په وخت کښې د عیسی د شاګردانو کشتۍ د طوفان تر خطر لاندې راغله او نژدې وه چې ډوبه شي. عیسی د اوبو په مخ باندې په ورتللو سره خپل ځان کشتۍ ته ورساوه او هغوی یې وژغورل.

څوک کولی شي چې د اوبو په سر باندې لاړ شي او طوفان آرام کړي؟ ایا یو عادي سړی کولی شي چې دا کار وکړي؟ عیسی د خدای زوی دی او هغه کولی شي چې هر کار وکړي.

په کشتۍ کښې د عیسی مسیح حضور کولی شو چې زمونږ په ژوند کښې د هغه د حضور سره تشبیه کړو. کله چې هغه زمونږ په ژوند کښې موجود وي نو د ژوند د مشکلاتو په طوفان کښې به په امن کښې اوسو. هغه زمونږ څخه ویره لیرې کوي او د هغه په ځای آرامي راکوي. داود پیغمبر په خپل زبور کښې داسې لیکي:

"دې غریب سړي فریاد وکړ او څښتن د هغه آواز واورید او

هغه یې د ټولو مشکلاتو څخه خلاص کړ" (زبور ۳۴: ۲).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴. ایا کله داسې شوي دي چې څښتن تاسو له ویرې څخه خلاص کړي یئ او آرامي یې درکړې وي، او د مشکلاتو څخه یې خلاص کړي یئ؟ ........د هغو په خاطر د څښتن شکر ادا کړئ.

## خلک عیسی لټوي

عیسی په خلکو کښې ډیر شهرت پیدا کړی ؤ. او هر ځای ته چې تله نو خلک به ورپسې ورتلل. هغوی فکر کاوه چې دا هغه سړی دی چې کیدای شي د هغوی پادشاه شي. په خپل معجزه آور قدرت سره کولی شي چې ناروغانو ته شفا ورکړي. هغوی ته به یې خواړه ورکول او هغوی به په دې مجبور نه ؤو چې کار وکړي.

په هغې زمانه کښې د عیسی کور د کفرنحوم په ښار کښې ؤ. دغه ښار د جلیل د سیند په غربي غاړه کښې پروت ؤ. هغو خلکو چې هڅه یې کوله چې عیسی مسیح د یو قیام په وسیله خپل پادشاه کړي، د هغه پسې دې ښار ته راغلل. عیسی د هغوی غوښتنه ونه منله. خو بیاهم یوڅه موده وروسته د هغه دښمنانو هغه په دې باندې تورن کړ چې خلک قیام کولو ته راپاروي. مګر ټول خلک پوهیدل چې دغه تور پوچ او د حقیقت څخه لیرې دی.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

**۵**. د عیسی کور چیرته ؤ؟

أ) په کفرناحوم کښې د مديترانې د سيند په غاړه.

ب) په کفرناحوم کښې د جليل د سيند په غاړه.

ج) په ناصره کښې.

## عیسی د ژوندون ډوډۍ ده

یوحنا ٦: ٢٥- ٥٩ ولولئ

عیسی مسیح خلکو ته دا زده کړل چې خدای غواړي چې خلک په هغه باندې ایمان راوړي. عیسی وویل: "خدای چې ستاسو څخه کوم کار غواړي هغه دا دی چې په هغه چا باندې ایمان راوړي کوم چې هغه رالیږلی دی" (یوحنا ٦: ٢٩).

هغوی غوښتل چې عیسی هغوی د "من" په ډوډۍ باندې ماړه کړي. خو عیسی هغوی پوه کړل چې د هغه سره د دوی دپاره د "من" څخه ښه شی شته چې هغه د ژوندون ډوډۍ ده چې خدای له آسمان څخه رالیږلې وه. "من" د دنیا د تخم په شان ؤ خو د هغې رنګ سپین او خوند يې د غوړو کلچو د خوند په شان ؤ. خدای "من" په معجزانه توګه په بني اسرائیلو باندې هغه وخت نازل کړ کوم وخت چې هغوی په دښته کښې ؤو، چې آسماني ډوډۍ هم بلل کیږي.

ځینې خلک په دې خبره باندې ډیر په قهر ؤو چې عیسی

ویلي ؤو چې تاسو باید زما بدن وخورئ او زما وینه وڅښئ. البته عیسی په دې ځای کښې د استعارې په شکل خبرې کولې او مقصد یې دا ؤ لکه څنګه چې خلک خپل بدن ته خواړه ورکوي باید هغه هم خپل ژوندون کښې داخل کړي. خدای هغوی ته جسماني قوت ورکاوه، خو هغې ورته د تل ژوندون ورکاوه.

وروسته بیا عیسی خپلو شاګردانو ته ډوډۍ او شراب ورکړل او ویې ویل چې دغه ډوډۍ او شراب د هغه د بدن او وینې په مثال دي او زیاته یې کړه چې د ډوډۍ د خوړلو او شرابو د څښلو مراسم دې د هغه سره یوځای سرته ورسوي او په دې ډول دې د هغه مرګ رایاد کړي. د عیسی د همدې حکم په اساس رښتیني مسیحیان په کلیسا کښې سره راغونډیږي او دغه مراسم چې د عشا رباني یا د خدای د مابښام په نوم یادیږي سرته ورسوي. په دې مراسمو کښې په ګډون کولو سره خلک د ګناه څخه نه خلاصیږي. په حقیقت کښې مقدس کتاب خبرداری ورکوي چې څوک چې په هغه کښې ګډون کوي باید پخوا یې خلاصون موندلی وي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

٦. یوحنا ٦: ۲۹ ولولئ.
۷. هغه آیت چې په دې برخه کښې ستاسو پام نسبت نورو آیاتونو ته زیات راجلبوي د هغه لاندې کرښه وباسئ.

۸. د عیسی مسیح مقصد د دې خبرې څخه څه ؤ، ”که چیرې تاسو د انسان د زوی بدن ونه خورئ اود هغه وینه ونه څښئ نو تاسو به ژوندون ونلرئ.“

أ) خلک باید خامخا د هغه بدن وخوري.

ب) باید خامخا د هغه وینه وڅښي.

ج) خلک باید هغه ته په خپل ژوند کښې لاره ورکړي لکه څنګه چې ډوډۍ ته د خوراک په وخت کښې خپل بدن ته لاره ورکوي.

۹. د عشا رباني یا د خدای د ماښام څخه مقصد څه شی دی؟

أ) مونږ د ګناهونو څخه خلاصوي.

ب) دا څرګندوي چې مونږ د کلیسا غړي یو.

ج) دا د عیسی د بدن او وینې ښودونکی دی. ایمانداران د عیسی په ماښامي کښې ګډون کوي ترڅو د عیسی مسیح مرګ یې په یاد وي.

## د ابدي ژوندون خبرې

یوحنا ٦: ٦- ۷۱ ولولئ

ځینې خلک چې اوس تصمیم نیسي چې د عیسی پیروي وکړي، خو په خوشینۍ سره وروسته بیا خفه شي او هغه پریږدي. عیسی د خپلو شاګردانو څخه پوښتنه وکړه چې ایا دوی به هغه پریږدي. پطروس په ځواب کښې وویل: ”ای څښتنه چاته به لاړ شو؟ د تل ژوندون خبرې ستاسره دي.“ د ا زمونږ

دپاره ډیره مهمه ده چې په هغه حقیقت باندې پوه شو کوم چې د پطروس په خبرو کښې موجود ؤ.د دې دپاره چې مونږ د تل ژوندون ولرو باید عیسی مسیح وپیژنو، یوازې دا نه چې فقط د هغه په باره کښې په کوم شي باندې پوه شو. کیدای شي چې تاسو د خپل هیواد د مشر په باره کښې معلومات ولرئ، خو په شخصي توګه هغه نه پیژنئ. ډیر خلک د عیسی مسیح په باره کښې یوڅه معلومات لري خو هغه شخصا د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه نه پیژني.

"د تل ژوندون معنی دا ده چې تا وپیژنو، یعنې یوازینی حقیقي خدای او عیسی مسیح چې تا رالیږلی دی وپیژنو" (یوحنا ۱۷ : ۳).

ایا تاسو عیسی مسیح د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه پیژنئ؟ که چیرې تر اوسه مو هغه د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه نه وي پیژندلی نو کولی شئ چې همدا اوس دعا وکړئ او د هغه په حضور کښې د خپلو ګناهونو اقرار وکړئ او د خدای څخه وغواړئ چې خلاصون درکړي.

تاسو باید په دې هیله ونه اوسئ چې د خپلو کارونو په وسیله به خلاصون مومئ، بلکه د هغه څه دپاره هیله مند اوسئ کوم چې عیسی مسیح ستاسو دپاره کړي دي.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱۰. یوحنا ۱۷ : ۳ له یاده زده کړئ.

۱۱. پطروس څه وویل؟

أ) ای ښښتنه، چا ته ورشو؟ د تل ژوندون خبرې ستا سره دي.
ب) ای ښښتنه، دا تعلیم ډېر سخت دی.
ج) ای ښښتنه، ته به څرنګه خپل بدن مونږ ته راکړې چې مونږ يې وخورو.
۱۲. تاسو خپله باید څه وکړئ چې خلاصون پیدا کړئ؟
أ) دا باید قبول کړئ چې عیسی ستاسو په خاطر مړ شو او هغه د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه قبول کړئ.
ب) تاسو باید د ځینو شیانو په اوریدلو سره د عیسی مسیح په باره کښې یوڅه معلومات ولرئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۸- ج) لکه څنګه چې خلک د خوراک دپاره ډوډۍ لاسته راوړي هماغه شان باید عیسی مسیح خپل ژوند کښې شامل کړئ.
۲- ج) هغه کافي خواړه برابر کړل چې پنځه زره نفر ورباندې ماړه شي.
۹-ج) هغه د عیسی د بدن او وینې څخه نمایندګي کوي.ایمانداران باید د عیسی مسیح د مرګ د رایادولو په خاطر د ښښتن د مابنامي مراسم په ځای کړي.
۳-ب) د عیسی په سر باندې باید د خپل هیواد د پادشاه په توګه تاج کیښودي.

۱۱- الف) ای ثښتتنه، مونږ چا ته ورشو؟ د تل ژوندون خبرې تا سره دي.
۵- ب) په کفرنحوم کښې د جلیل د سیند په غاړه.
۱۲-الف) تاسو باید په دې باندې ایمان ولرئ چې عیسی ستاسو په خاطر مړ شو او هغه دخپل خلاصوونکي په توګه قبول کړئ.

اوم لوست

# یوحنا، اوم فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- عیسی مسیح او د هغه ورونه
- عیسی مسیح په اورشلیم کښې
- ایا هغه مسیح دی؟
- د عیسی مسیح د نیولو د پاره د محافظینو لیږل
- د ژوندون د اوبو ویالې
- د خلکو ترمنځ اختلاف
- د یهودي مشرانو بې ایماني

## عیسی مسیح او د هغه ورونه

یوحنا ۷: ۱-۹ ولولئ

دا فصل مونږ ته دا وايې چې مختلفو خلکو د عیسی مسیح په باره کښې څه خیالونه درلودل. ځینو نه غوښتل چې په هغه باندې ایمان راوړي. ځینو خلکو په دې خاطر چې د هغوی نظریو د عیسی د وینا سره اختلاف درلود، هغه يې نه قبلاوه. او ځینو د هغه څخه کرکه کوله ځکه چې هغه به د هغوی د بدو کارونو په ضد خبرې کولې.

په دې وخت کښې د عیسی خپلو ورونو په دې باندې ایمان نه درلود چې هغه مسیح دی. مګر وروسته يې ورباندې ایمان راوړ. د عیسی ډیرو دښمنانو د هغه د بیرته راژوندي کیدلو څخه وروسته ایمان راوړ. اوس هم که چیرې هغو خلکو دپاره چې د انجیل دښمنان دي دعا وکړو کیدای شي چې په عیسی باندې ایمان راوړي. عیسی خپلو پیروانو ته دا خبره یادوله چې د خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ او د هغوی دپاره دعا وکړئ.

### هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۱. ایا داسې خلک پیژنئ چې د انجیل څخه يې بد راځي؟ د هغوی دپاره دعا وکړئ.
۲. ایا ستاسو ټولې خویندې او ورونه په عیسی مسیح باندې ایمان لري؟ ........د هغوی دپاره دعا وکړئ.

## عیسی مسیح په اورشلیم کښې

**یوحنا ۷: ۱۰- ۲٤ ولولئ**

د دې فصل اوه آیاتونه د هغو خطرونو په باره کښې خبرې کوي کوم چې عیسی ته متوجه ؤو. (**۱**، **۱۳**، **۱۹**، **۲۵**، **۳۰**، **۳۲** او **۴۴** آیاتونه ولولئ). د دې خطرونو سره سره بیا هم عیسی مسیح خپلو ویناګانو ته دوام ورکاوه او حتی په مذهبي مراسمو کښې د ګډون کولو دپاره اورشلیم ته روان شو. اوس هم د عیسی د ډیرو پیروانو ژوند په خطر کښې دی. د هغوی دپاره دعا کوو چې خدای دې ورته میړانه ورکړي ترڅو د تعلیم ورکولو، وعظ کولو او شاهدۍ ورکولو څخه لاس وانخلي.

د عیسی تعلیم مذهبي مشران ډیر حیران کړل. هغوی په دې ښه پوهیدل چې عیسی د هغوی په علمي مرکزونو کښې تحصیل نه دی کړی. هغه حقیقتونه چې عیسی د هغو په باره کښې تعلیم ورکاوه هغه د خدای یو نعمت ؤ.

اولسم آیت ولولئ. که چیرې تاسو شوق لرئ چې د خدای اراده پوره کړئ نو خدای به تاسو ته حقیقت ښکاره کوي. اکثره خلک چې په انجیل باندې ایمان نه راوړي د همدې مشکل سره مخامخ دي. هغوی نشي کولی چې حقیقت درک کړي ځکه چې هغوی نه غواړي چې د خدای اطاعت وکړي. حتی ډیرو خلکو چې د خدای په وجود باندې یې ایمان نه درلود، هغوی په مخلصانه دعا سره خدای وموند.

"ای خدایه، که ته رښتیا موجود ئې نو خپل ځان ماته ښکاره کړه، په حقیقت باندې مې پوه کړه، نو زه به ستا اطاعت

او پیروي وکړم. "

ځینې خلک اوس هم دا شکایت کوي چې عیسی ولې د سبت (شنبه) په ورځ ناروغانو ته شفا ورکوله. کله کله داسې معلومیږي چې یو قانون د بل قانون په ضد وي. کله چې داسې وشي نو عیسی مونږ ته تعلیم راکوي چې هر یو چې ډیر مهم وي د هغه څخه دې اطاعت وشي. د مثال په ډول شریعت وایي چې د شنبه په ورځ باید هیڅ کار ونکړای شي، او دا هم وایي چې هر نوی زیږیدل شوی هلک باید د هغه د زیږیدنې په اتمه ورځ سنت شي. که چیرې د ماشوم د زیږیدنې اتمه ورځ د سبت (شنبه) د ورځې سره سمون خوړلی وای نو په هغه صورت کښې به د سبت قانون مات شوی وای چې ترڅو د سنت کیدلو قانون عملي شوی وای. عیسی مسیح هغوی ته دا هم ورپه یاد کړل چې د محبت قانون د سبت د قانون څخه ډیر مهم دی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. د عیسی تعلیم ولې دومره مهم ؤ؟

أ) ځکه چې هغه د هغه تعلیمي مرکز څخه فارغ شوی ؤ چې د لوړو زده کړو تعلیم په کښې کیده.

ب) په دې خاطر چې فریسیان او کاهنان د هغه ښوونکي ؤو.

ج) ځکه چې د هغه تعلیم د خدای له طرفه ؤ.

۴. د خپلو هغو دوستانو دپاره دعا وکړئ چې خلاصون یې ندی موندلی ترڅو خدای د هغوی زړونه د انجیل د اوریدلو دپاره تیار کړي، د خپلو ګناهونو څخه خلاص شي او د انجیل ربښتینوالی ووینې.

۵. د هغو خلکو دپاره دعا وکړئ چې په خطر کښې دي ځکه چې هغوی د عیسی پیروان دي.

## ایا هغه عیسی مسیح دی؟

یوحنا ۷: ۲۵- ۳۱ ولولئ

خلک د عیسی مسیح په لیدلو چې په عبادتخانه کښې یې تعلیم ورکاوه حیران شول، ځکه هغوی خبر ؤو چې یهودي مذهبي مشران د هغه د وژلو نیت لري. په هغه وخت کښې د عیسی د مرګ نیتېه لا نه وه رارسیدلې. عیسی په دې پوهیده چې خدای هغه رالیږلی دی نو په همدې سبب به د هغه سره مرسته کوي چې خپله دنده سرته ورسوي. نو هغه په خپله په عبادتخانه کښې د تعلیم ورکولو څخه نه ویریده. هغه دا جرئت درلود چې د خدای اراده پوره کړي. په نتیجه کښې زیات شمیر خلکو په هغه باندې ایمان راوړ او د خپلو ګناهونو څخه خلاص شول.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

٦. مذهبي رهبرانو څه غوښتل چې د مسیح سره څه وکړي؟

..........................................................................

٧. عیسی چا رالیږلی ؤ؟

..........................................................................

٨. ایا اکثره هغه څه چې خدای وایي د هغه ترسره کول څه آسانه کار دی؟

..........................................................................

## د عیسی مسیح د نیولو دپاره د محافظینو لیږل

**یوحنا ٧: ٣٢- ٣٦ ولولئ**

دې حقیقت چې نورو ډیرو خلکو په عیسی باندې ایمان راوړ، فریسیان دې ته مجبور کړل چې د هغه د قتل فیصله وکړي. عیسی له دې څخه پوره خبر ؤ چې هغه به وژني. هغه دنیا ته ددې دپاره راغلی ؤ چې زمونږ د ګناهونو په خاطر مړ شي. هغه د خپل مرګ په باره کښې وویل چې دی یوځای ته ځي چې هغوی یې نشي پیدا کولی. نو هغه وخت به د هغه کار سرته ورسیږي. هغه جنت ته ځي چې د خپل پلار سره اوسي. هغه خلک چې د مسیح پیروي کوي، نو د مرګ څخه وروسته به جنت ته یعنې هغه ځای ته ځي چیرته چې هغه دی.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

١٠. مونږ څنګه پوهيږو چې عيسی د ښمنان درلودل؟
أ) د کاهنانو مشر غوښتل چې هغه ووژني.
ب) د روم حاکم عسکر وليږل چې هغه ونيسي.
ج) ټولې ډلې غوښتل چې هغه ووژني.

## د ژوندون د اوبو ويالې

**یوحنا ۷: ۳۷- ۳۹ ولولئ**

عيسی مسيح وويل: "هرڅوک چې تږی وي هغه دې ماته راشي او اوبه دې وڅښي." مخکښې مو وويل چې عيسی مسيح خلاصون د اوبو سره مقايسه کړ خو **۳۹** آيت دا واضيح کوي چې په دې ځای مقصد د روح القدس څخه دی چې ايماندارانو ته د خلاصون د موندلو څخه وروسته ورکول کيږي. وروسته له دې چې يو نفر د ګناه څخه خلاصون ومومند بايد د هغه په زړه کښې دا اميد وي چې د روح القدس څخه دې ډک شي. د رسولانو د اعمالو په کتاب کښې وينو چې ايمانداران وروسته له هغې چې عيسی مسيح د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړي د روح القدس څخه ډ کيږي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۱. کله چې عیسی وویل "هرڅوک چې تږی وي ما ته دې راشي او ودې څښي." دا د څه شي په باره کښې خبرې کوي؟

أ) د هغه خلاصون په باره کښې چې هغه ورته د ژوندون اوبه وایي.

ب) د روح القدس په باره کښې چې باید ایماندارانو ته د ګناه څخه د خلاصیدلو وروسته ورکړل شوی وای.

ج) د هغو اوبو په باره کښې چې د اردن په سیند کښې بهیدلې.

## د خلکو ترمنځ اختلاف

یوحنا ٤: ٤٤ ولولئ

خلکو د عیسی مسیح په باره کښې مختلفې نظریې درلودلې، لکه څنګه چې اوس یې لري. هغه خلک چې په حقه ؤو هغو به ویل چې عیسی هماغه وعده شوی نبي، وعده شوی مسیح او د خدای زوی دی.

عیسی د جلیل په ولایت کښې واوسیده. مګر هغه په بیت الحم کښې زیږیدلی ؤ. هم لوقا او هم متي دعیسی مسیح شجره نامه ثبت کړې ده چې دا څرګندوي چې هغه د داود د نسل څخه ؤ. هغه د مسیح په باره کښې نبوت سرته ورساوه.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

خالي ځايونه ډک کړئ:

۱۲. خلکو د عيسی په باره کښې چې هغه په کوم ځای کښې پيدا شوي دی، څه ويل؟

..........................................................................

۱۳. مسيح په کوم ځای کښې زيږېدلی دی؟

..........................................................................

۱۴. ايا عيسی د داود له اولادې څخه ؤ؟

..........................................................................

## د يهودي مشرانو بې ايماني

يوحنا ۷: ۴۵- ۵۲ ولولئ

فريسيانو غوښتل چې عيسی مسيح ونيسي او د ساتونکو څخه يو تن وويل چې تر اوسه پورې هيچا داسې خبرې نه دې کړي په کومه طريقه چې مسيح کولې. هيچا نشو کولی چې د عيسی په شان خبرې وکړي ځکه بل خدای نه ؤ. هرڅه چې عيسی مسيح د هر شي په باره کښې وايي هغه زده کړو او د هغه تعليم د بل هر چا د تعليم څخه اوچت وګڼو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱۵. د فريسيانو د محافظينو له جملې څخه يو نفر د عيسی مسيح په باره کښې کوم شهادت ورکړ.

أ) تر اوسه پورې هیچا د دې سړي په شان خبرې نه دي کړي.
ب) د جلیل څخه هیڅ یو نبي نه دی راغلی.
ج) دا سړی څنګه دومره زیات پوهیږي په داسې حال کښې چې هغه د علومو د زده کړې دپاره هیچیرته نه دی تللی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱۰ الف) د کاهنانو مشر غوښتل چې هغه ووژني.
۳- ج) ځکه چې د هغه تعلیم د خدای له طرفه ؤ.
۱۱- ب) د روح القدس په باره کښې چې باید ایماندارانو ته د ګناه څخه د خلاصیدلو وروسته ورکړل شوی وای.
۲- هغه ووژنئ.
۱۲- بیت الحم
۷- خدای
۱۳- بیت الحم
۸- نه
۱۴- هو
۹- خدای
۱۵- الف) هیچا په دې طریقې سره خبرې نه وې کړې لکه څنګه چې هغه وکړې.

اتم لوست

# یوحنا، اتم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- هغه ښځه چې د زنا کولو په وخت ونيول شوه
- عيسی د دنيا رڼا
- چيرته چې زه ځم تاسو هلته نشئ تلای
- آزاد خلک او غلامان
- عيسی او ابراهيم

## هغه ښځه چې د زنا کولو په وخت ونيول شوه

يوحنا ۸: ۱- ۱۱ ولولئ

عیسی په نورو باندې د انتقاد کولو او ملامتولو په باره کښې ډیر ښه اصول ورکوي.

"څوک چې ستاسو په منځ کښې بې ګناه دی، اولنۍ تیږه دې هماغه ګوذاره کړي" (یوحنا ۸: ۷). کیدای شي چې عیسی په ځمکه باندې هغه ګناهګانې لیکلې کوم چې هغوی کړې وې. هغوی خجالت شول اولاړل. په هغه ځای کښې عیسی یوازینی سړی ؤ چې ګناه یې نه وه کړې. هغه ښځه ملامته نکړه. د هغې ژوند یې وژغوره او ګناهونه یې ورته وبخښل. هغې ته یې وویل: "ځه او نوره ګناه ونکړې." کله چې خدای مونږ وبخښي نو مونږ باید خپلو ګناهونو کولو ته دوام ورنکړو.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. یوحنا ۸: ۷ له یاده زده کړئ. کله چې تاسو د دې احساس کوئ چې دا مو خوښه ده چې په یو چا باندې انتقاد وکړئ نو دا آیت په خپله ولولئ.

۲. د هغو خلکو دپاره دعا وکړئ چې د خدای څخه بخښنه غواړي چې نوره ګناه ونکړي.

## عیسی د دنیا رڼا ده

**یوحنا ۸: ۱۲- ۲۰ ولولئ**

عیسی خلکو ته وویل چې هغه د دنیا رڼا ده. مقدس کتاب اکثره وخت ګناه د تیارې سره تشبیه کوي. عیسی مسیح د یو بل شوي چراغ په شان دی چې مونږ ته خپل ګناهونه رابښایي.

همدارنګه هغه مونږ ته د آسمان (جنت) لاره هم راښایي. ترهغې پورې چې زمونږ ګناهونه بخښل شوي نه وي مونږ نشو کولی چې آسمان ته لاړ شو. ۲۴ آیت وایي چې: هغه څوک چې په عیسی مسیح باندې ایمان نه لري هغوی به په خپلو ګناهونو کښې مړه شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. هغې سریزې ته رجوع وکړئ چې یوحنا د خپل انجیل دپاره لیکلې ده. ۱: ۱- ۹ یو ځل بیا ولولئ.

۴. مسیح ولې خپل ځان د دنیا رڼا وباله؟

أ) ځکه چې هغه یوه حقیقي رڼا ده چې مونږ ته خپل ګناهونه راښایي او همدارنګه مونږ ته د آسمان لاره راښایي.

ب) ځکه چې هغه همیشه د ورځې له خوا تعلیم ورکاوه نه د شپې له خوا.

ج) په دې خاطر چې هغه هر نفر ته څراغ ورکړ چې د شپې لخواه له هغه څخه کار واخلي.

## چیرته چې زه ځم تاسو هلته نشئ تلای

یوحنا ۸: ۲۱- ۳۰ ولولئ

عیسی یوځل بیا د خلکو سره د خپل مرګ او ځای په باره کښې خبرې وکړې چې هغوی نشي کولی هغه ځای ته د مسیح پسې ورشي. هغه له آسمان څخه راغلی ؤ او بیرته به آسمان ته

ځي. خو هغه بايد اول په صليب باندې وځړول شي او د دنيا د ګناهونو په خاطر مړ شي. دا درپه ياد کړئ چې عيسی مسيح د دغه تګ په باره کښې د نيکوديموس سره په دريم فصل کښې خبرې کړې وې.

"زه هماغه يم چې يم" دا هغه نوم چې خدای په هغه وخت کښې د خپل ځان دپاره استعمال کړ کله چې موسی د هغه د نوم پوښتنه وکړه. د عيسی مرګ او راژوندي کيدل دي چې مونږ دې ته رابولي چې په دې باندې ايمان ولرو چې هغه زمونږ خلاصوونکی دی.

### هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۵. ۲۳، ۲۴، ۲۸ او ۲۹ آياتونه درې ځلې ولولئ.
۶. مسيح چا ته وويل چې د انسان زوی بايد په صليب شي. هماغسې چې موسی هم يو برنجي مار په دښته کښې په يو لرګي باندې ځوړند کړی ؤ؟
۷- يوحنا ۳: ۱۴- ۲۱ يوځل بيا ولولئ.

## آزادي او غلامي

يوحنا ۸: ۳۱- ٤۷ ولولئ

عيسی وويل هر څوک چې ګناه کوي هغه د ګناه غلام دی. څوک چې ګناهکار وي هغه نشي کولای چې د ګناه څخه لاس واخلي، حتی که هغه يې وغواړي. ډير خلک په دې خبره باندې اقرار کوي چې دوی نه پوهيږي چې ولې داسې کارونه کوي،

خو هغوی نشي کولای چې د هغو کارونو څخه لاس واخلي. یو غلام همیشه بادار لري او یو ګناهکار د شیطان غلام دی. خو که چیرې مونږ د عیسی مسیح تعلیماتو ته غاړه کیږدو، نو هغه مونږ د ګناه او شیطان له لاسه خلاصوي.

"...که چیرې زما د تعلیم په مطابق عمل وکړئ نو تاسو به په رښتیا سره زما پیروان اوسئ. نو که چیرې زوی تاسو ته خلاصون درکړي په رښتیا سره به خلاص شئ" (یوحنا ۸: ۳۱، ۳۲، ۳۶).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. یوحنا ۸: ۳۱، ۳۲ او ۳۶ له یاده زده کړئ.
۹. ستاسو د دوستانو څخه خپل هغه دوست ته دعا وکړئ کوم چې د ګناه په قید کښې دی. څکه کیدای شي چې په عیسی کښې آزادي ترلاسه کړي.

## عیسی او ابراهیم

یوحنا ۴۸- ۵۹ ولولئ

ځینو خلکو چې د عیسی خبرې واوریدلې نو خفه شول. هغوی وویل چې دوی هیڅکه غلامان نه ؤو. هغوی د ابراهیم د اولادې څخه ؤو او آزاد پیداشوي ؤو. دا خبره زمونږ نه خوښیږي چې داسې فکر وکړو چې مونږ د شیطان غلامان یو. خو دا یو حقیقت دی چې مونږ تر هغه وخته پورې د شیطان غلامان یو ترڅو عیسی مونږ ته آزادي راکړي.

کله چې یهودیانو بیا د ابراهیم په باره کښې خبرې وکړې، عیسی مسیح هغوی ته وویل چې ابراهیم دا هیله لرله چې یوه ورځ ما ووینې. هغه خوشحاله ؤ چې هغه ورځ یې ولیدله. همدارنګه هغه وویل: "زه د ابراهیم د زیږیدو څخه پخوا موجود ؤم او موجود یم." کله چې هغه د "زه یم" کلمه په حال زمانه کښې استعمال کړه دا هماغه کلمه وه چې څښتن په خروج ۲: ۱۴ کښې استعمال کړې وه.

څښتن موسی ته وویل: "زه یم، هغه چې یم." او وئې ویل چې اسرائیلو ته ووایه چې زه یهوه (زه یم) تاسو ته رالیږلی یم.

ځینې مشران په دې خبره باندې دومره په قهر شول چې کوښښ یې وکړ چې عیسی سنګسار کړي. خو عیسی په سلامتۍ سره د عبادتخانې څخه لاړ ځکه چې د هغه د مړینې وخت لا نه ؤ رارسیدلی. دا یو حقیقت دی چې هغه باید د هغه وخت څخه مخکښې چې څښتن ټاکلی ؤ، ونه وژل شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۰. عیسی مسیح د خپل ځان او ابراهیم په باره کښې څه وویل؟

أ) ابراهیم زما پلار هم دی.

ب) ما ابراهیم هیڅ نه دی لیدلی.

ج) زه د ابراهیم د پیدایښت څخه مخکښې موجود وم.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

**۴**- الف) ځکه چې هغه حقیقي رڼا ده چې موږ ته خپل ګناهونه راښايي او موږ ته د آسمان لاره راښايي.

۱۰- ج) زه د ابراهيم د پيدايښت څخه مخکښې موجود وم.

**۲**. نيکوديموس

# ستاسو يادداشت

نهم لوست

# یوحنا، نهم فصل

هغه څه چې په لوست کښې به يې ولولئ

- عيسى له موره پيداشوي ړوند ته شفا ورکوي
- فريسيان د هغه ړانده د شفا په اړه تحقيق کوي
- روحاني ړوند

## عيسى له موره پيداشوي ړوند ته شفا ورکوي

یوحنا ۹: ۱- ۱۲ ولولئ

شاګردان په دې عقيده ؤو چې ټولې ناروغۍ د هغې سزا نتيجه ده چې ښښتن انسان د ګناه په مقابل کښې هغه پرې

اخته کوي. خو ولې یو نفر ړوند پیدا کیږي؟ دا د هغه د ګناه له کبله نه ده. مخکښې له دې چې هغه کوم غلط کار وکړي هغه ړوند پیدا شوی ؤ. ایا دا به د هغه د موراو پلار د ګناه په سبب وي؟

عیسی په ځواب کښې وویل چې تکلیفونه او ناروغۍ همیشه د یو شخص د ګناه نتیجه نه ده. ډیرې ناروغۍ د طبیعي علتونو څخه سرچینه اخلي او د ګناه د سزا سره هیڅ تړاو نه لري. د دې سړي ړوندوالی د هغه دپاره یو فرصت ؤ چې د عیسی په وسیله شفا ومومي او د خپلو ګناهونو څخه خلاص شي او نورو خلکوهم کولی شول چې د خدای قدرت ووینې او ایمان راوړي. نو ځښتن په ټولو شیانو باندې مخکښې له دې چې پیښ شي پوهیږي، نو هغه انسان پریږدي چې ړوند پیدا شي.

ځینې وخت مونږ نه پوهیږو چې ولې باید په تکلیف شو. کوښښ کوو چې خپل ځانونه د ناروغیو څخه لیرې وساتو او خپل ځان روغ وساتو، خو سره لدې مونږ او زمونږ بچیان ناروغه کیږي او ټکر کوو او مونږ د خدای څخه دا پوښتنه کوو، "ای خدایه چې په ما باندې دا پیښه ولې وشوه؟"

ځینې وخت ځښتن د هغو تکلیفونو په وسیله چې مونږ ته یې رسوي، مونږ اصلاح کوي. مونږ باید خپل زړه او خپل ژوند وڅیړو او د خپلو غلطو خبرو او غلطو کارونو څخه چې مونږ کړي دي او د خپلې هرې غلطې رویې او خپل د ګناهونو څخه ډکو خیالونو په خاطر بخښنه وغواړو. مونږ باید دعا وکړو چې

ښتن راته شفا راکړي. د ټولو څخه مهمه دعا داده چې زموږ د تکلیفونو له لارې نور خلک د ښتن قدرت او مینه وګوري او د هغه ثناء او صفت ووايي. موږ په خپل ژوند کښې هر څه د ښتن د جلال دپاره غواړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. هغه سړی ولې ړوند پیدا شوی ؤ؟
أ) د هغه د ګناهونو له کبله.
ب) د هغه د مور او پلار د ګناهونو له کبله.
ج) ترڅو د خدای قدرت څرګند شي.

۲. هغه ړوند سړی ولې په دې نه پوهیده چې چا ورته شفا ورکړه؟
أ) هغه تر هغه وخته پورې شفا نه وه موندلې ترڅو چې د سیلوحا حوض ته لاړ او خپل ځان یې په کښې ومینځه.
ب) کله چې هغه شفا پیداکړه نو د عیسی مسیح څخه یې پوښتنه ونکړه چې هغه څوک دی.
ج) هغه په پردي ښار کښې ؤ.

## فریسیان د هغه ړانده د شفا په اړه تحقیق کوي

یوحنا ۹: ۱۳- ۳۴ ولولئ

د عیسی دښمنان په دې خبره باندې په قهر شول چې هغه د سبت (شنبه) په ورځ ړانده سړي ته شفا ورکړې وه. هغوی په دې

باندې خوشحاله نه ؤو چې هغه ړوند سړي شفا وموندله. هغوی کوښښ کاوه چې هغه سړی په دې باندې قانع کړي چې عيسی يو ګناهکار شخص دی او په پای کښې يې هغه سړی چې شفا يې موندلې وه د عبادتخانې څخه بيرون وغورزاوه.

هغه سړي چې شفا يې موندلې وه زمونږ دپاره ډير ښه مثال شو. د هغه دليلونو نشو کولی چې هغه مذهبي رهبران په دې قانع کړي چې عيسی مسيح د خدای له طرفه راغلی دی، بلکه هغه کولی شول چې هغه څه ووايي کوم چې عيسی مسيح د هغه دپاره کړي ؤو. نو په دې اساس مونږ هم کولی شو چې د دې طريقې څخه ګټه واخلو. "زه يوازې په يو شي باندې پوهيږم چې زه ړوند ووم او اوس هرڅه وينم" (يوحنا ۹: **۲۵**).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۳. يوحنا ۹: **۲۵** له ياده زده کړئ.
۴. دعا وکړئ چې ښځتن درسره مرسته وکړي ترڅو نورو ته ووايئ چې عيسی تاسو دپاره څه کړي دي.

## روحاني ړوند

يوحنا ۹: ۳۵- ۴۱ ولولئ

د عبادتخانې څخه د هغه سړي شړل يوه خطرناکه خبره وه لکه د مرګ په شان. عيسی لاړ چې هغه سړی راپيداکړي او هغه وهڅوي، او هغه سړی يې پريښود چې په دې پوه شي چې هغه خلاصون ورکوونکی ؤ. هغه سړي ايمان راوړ او عيسی ته يې

سجده وکړه. عیسی د روحاني ړوندوالي په باره کښې خبرې وکړې. هغه فریسیان په دې خبره باندې ملامته کړل چې هغوی په روحاني توګه ړانده دي ځکه چې هغوی د حقیقت د منلو څخه انکار وکړ. خو هغه ړوند سوالګر په عیسی باندې ایمان راوړ او هم یې شفا وموندله او هم دخپلو ګناهونو څخه خلاص شو.

که چیرې مونږ نه غواړو چې په روحاني توګه ړانده واوسو نو عیسی مسیح باید د خپل خلاصوونکي په حیث قبول کړو. کله چې مونږ دعا کوو او مقدس کتاب لولو عیسی مونږ ته راځي او زمونږ روحاني سترګې پرانیزي.

"زما سترګې خلاصې کړه ترڅو ستا د قوانینو عجیبه حقیقتونه ووینم" (زبور ۱۱۹: ۱۸).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵. عیسی مسیح د بل کوم ډول ړوندوالي په باره کښې خبرې وکړې؟

أ) جسماني ړوند یعنې کله چې یو نفر عینکو ته ضرورت ولري.

ب) روحانی ړوند یعنې هغه څوک چې په عیسی مسیح باندې ایمان نه راوړي.

ج) د رنګ ړوندوالی.

۶. روحاني ړوند ته د شفا ورکولو په خاطر باید څه وکړو؟

أ) باید عیسی د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه قبول کړو.

ب) باید د کلیسا غړیتوب قبول کړو.

ج) باید یو څوک وي چې زمونږ په سترګو باندې ختمه وموږي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱- ج) ترڅو د خدای قدرت ښکاره شي.

۵- ب) هغه روحاني ړانده چې په عیسی مسیح باندې ایمان نه راوړي.

۲- الف) تر هغه وخته پورې هغه سړي د ړوندوالي څخه شفا پیدانکړه ترڅو چې د سیلوحه حوض ته لاړ او خپل ځان یې په کښې ومینځه.

۶- الف) مونږ خپله باید عیسی د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړو.

لسم لوست

# یوحنا، لسم فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د پسونو د رمې مثال
- ❖ عیسی ښه شپون دی
- ❖ عیسی د یهودیانو له خوا رد کیږي

### د پسونو د رمې مثال

یوحنا ۱۰: ۱- ٦ ولولئ

دا مثال یوه لنډه قصه ده چې د طبیعي شیانو په وسیله روحاني حقیقتونه بیانوي.

عیسی مسیح یو ښه شپون دی چې په خپلو پسونو باندې ښه پام کوي. د هغه پسونه هغه خلک دي چې په هغه باندې

ایمان لري او پیروي یې کوي. په مقدس کتاب کښې راغلي دي چې شپون تل د خپلو پسونو په مخکښې روان وي او په هغوی باندې غږ کوي. کله چې کوم بل شپون پسونو ته غږ کوي، نو د اولني شپون پسونه د هغه بل شپون په آواز پسې نه ځي ځکه چې هغوی یوازې د خپل شپون آواز پیژني.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

١. عیسی مسیح ولې خپل ځان شپون وباله؟

أ) ځکه چې هغه ډیر پسونه درلودل.

ب) ځکه چې په خپلو پسونو او وزو باندې ښه پام کوي.

ج) هغه په هغو خلکو باندې ښه پام کوي کوم چې د پسونو په شان په هغه پسې ځي.

## عیسی ښه شپون دی

یوحنا ۱۰: ۷- ۲۱ ولولئ

عیسی د خپل ځان په باره کښې خبرې کولی او ویل یې چې هغه ور ( د ننوتلو دروازه) ده. په مقدس کتاب کښې راغلي دي چې یو شپون د شپې په وخت کښې خپل پسونه په یو داسې ځای‌کښې چې دیوالونه ورڅخه چاپیر وي سره راغونډوي چې د وحشي حیواناتو څخه یې خوندي وساتي. هغه ځای ته پنډغالی وایي. کله چې ټول پسونه یه یوه خوندي ځای کښې ځای په ځای شول، نو شپون د دروازې په خوله کښې کښیني او د خپلو پسونو ساتنه کوي. هیڅ یو داړونکی حیوان تر هغې

پورې نشي ورننوتلی ترڅو پورې چې شپون په هغه ځای کښې وي.

که چیرې کله یو غل وغواړي چې هغه ځای ته ورشي نو هغه به دا کوښښ ونکړي چې د دروازې له لارې ورننوزي بلکه هغه به په دیوال باندې ورخیژي ترڅو وکولی شي چې پسونه غلا کړي. عیسی وویل چې ځینې مذهبي مشران همداسې کوي. هغوی هیڅکله د خلکو سره مینه نکوي او د هغوی یوازینی هدف دا دی چې د خپلې ګټې په خاطر یو څه لاسته راوړي.

عیسی وویل چې هغه د بربادۍ په خاطر نه دی راغلی بلکه د دې دپاره راغلی دی چې ژوند ورکړي یعنی کامل ژوند. کامل په دې دنیا کښې یو عجیبه ژوند دی او د تل ژوندون په آسمان کښې دی.

عیسی مسیح وویل، "زه دروازه یم. هرڅوک چې زما له لارې ننوزي نو خلاصون مومي." هغه ونه ویل چې هغه د څو دروازو څخه یوه دروازه ده، بلکه هغه یوازینۍ دروازه ده. ځینې خلک په دې عقیده دي چې د پیغمبرانو په وسیله خدای ته د رسیدلو کوښښ وکړي او یا د عیسی د مور مریم په وسیله، د پاکانو او یا به کلیسا کښې د غړیتوب د لرلو په وسیله. خو یوازې عیسی مسیح خلاصون ته د داخلیدلو یوازینۍ لاره (دروازه) ده.

عیسی مسیح وویل لکه څنګه چې دروازه د پسونو د ننوتلو دپاره خلاصه ده نو انسان باید ورننوزي. عیسی ټولو ته بلنه

ورکوي چې هغه ته ورشي او د تل ژوندون ترلاسه کړي. خو خدای به هیڅوک مجبور نکړي چې عیسی ته ورشي او د هغه په پسونو کښې شامل شي. هر سړی باید د خپل ځان دپاره لاره غوره کړي. که چیرې یو څوک عیسی ته ورشي نو هغه به وژغورل شي. که چیرې هغه ورداخل نشي نو خلاصون به پیدانکړي. دا یوازې یو مثال ؤ چې بیان شو.

عیسی وویل چې هغه به د خپلو پسونو په خاطر خپل ژوند له لاسه ورکړي. هغه به دا کار په خپله خوښه کوي، هیڅوک د هغه ژوند اخیستلی نشي. په هغه وخت کښې ځینو خلکو غوښتل چې هغه ووژني. هغه ورځ به راشي چې هغه به په صلیب شي او د لرګیو میخونه به ورباندې ټک وهل شي. کله چې د هغه د مرګ نیټه راورسیږي نو د هغه دښمنانو ته به اجازه ورکړای شي چې هغه مړ کړي. خو هغه پوهیده چې مرګ به د هغه ژوندون پای ته ونه رسوي. هغه وویل: "زه په خپله خوښه خپل ژوند له لاسه ورکوم په دې خاطر چې هغه بیا ومومم." عیسی به بیرته راژوندی شي او په مرګ باندې به خپل اختیار او قدرت ثابت کړي. د هغه قیام به دا خبره ثابته کړي چې هغه په رښتیا سره دخدای زوی دی.

ځینې خلک یو ځل بیا د هغه په خبرو باندې په قهر شول، خو نورو ایمان راوړ. چا چې ایمان رانه وړ، هغه د هغه د پسونو څخه نه ؤ، ځکه چې د هغه پسونه د هغه آواز اوري.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۲. د خلاصون دپاره څو دروازې موجودې دي؟

أ) ډیرې دروازې دي. ځکه چې مختلف مذهبونه شته چې د هغو په وسیله خلاصون موندلی شي.

ب) څلور "دروازې" (د خلاصون لارې) موجودې دي: مریم، پاکان، پیغمبران او کلیسا.

ج) یوازې یوه "دروازه" شته او هغه عیسی مسیح دی.

۳. تاسو باید څه وکړئ چې خلاصون ومومئ؟

أ) باید ورننوزئ چې خلاصون ومومئ.

ب) صبر وکړئ ترڅو یو څوک درته "دروازه" پرانیزي.

ج) هیڅ کار باید ونکړئ.

۴. عیسی مسیح دا خبره څرنګه بیان کړه چې هغه د خپلو پسونو سره مینه کوي.

أ) شنو څرځایونو ته یې بیایي.

ب) هغه خپل ځان د خپلو پسونو دپاره قرباني کوي.

ج) هغوی د آرامو اوبو خواته بیایي.

## عیسی د یهودیانو له خوا رد کیږي

یوحنا ۱۰: ۲۲- ٤۲ ولولئ

یو شمیر خلکو غوښتل چې عیسی ووژني ځکه چې هغه وویل چې زه د خدای زوی یم (۳۶ آیت). او خپلو پیروانو ته یې

د تل ژوندون ورکاوه (۲۸ آیت). نورو خلکو هغه د یو نیک شپون په توګه قبول کړ او د هغه پیروي یې وکړه. تاسو هم دا انتخاب وکړئ چې د عیسی څخه پیروي وکړئ او یا د یو ورک شوي پسه په شان سرګردانه اوسئ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵. کله چې عیسی مسیح خپل ځان نیک شپون وباله، خلکو څه غبرګون وښود؟

أ) ځینو غوښتل چې هغه ووژني، خو نورو د هغه پیروي وکړه.

ب) هغو ټولو هغه رد کړ.

ج) هغو ټولو ورباندې ایمان راوړ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱- ج) هغه هغه خلک ساتي کوم چې د هغه دي او هغه د یو نیک شپون په شان دخپلو پسونو ساتنه کوي.

۴- ب) هغه د خپلو پسونو دپاره خپل ژوند ورکوي.

۲- ج) فقط یوه دروازه ده او هغه دروازه عیسی دی.

۵- الف) ځینو خلکو غوښتل چې هغه مړکړي خو نورو د هغه پیروي وکړه.

۳- الف) تاسو باید ور داخل شئ د دې دپاره چې وژغورل شئ.

یوولسم لوست

# یوحنا، یوولسم فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د العازر مړینه
- ❖ عیسی، قیامت او ژوندون دی
- ❖ عیسی ژاړي
- ❖ ایلعازر راژوندی کیږي
- ❖ د عیسی د وژلو پلان

## د ایلعازر مړینه

یوحنا ۱۱: ۱- ۱٦ ولولئ

مونږ پوه شو چې عیسی ناروغانو ته د شفا ورکولو قدرت

لري. اوس ګورو چې هغه په مرګ باندې هم قدرت لري. په دې پوهیږو چې ډاکتران د دوا په وسیله ناروغانو ته شفا ورکوي، خو د هغو څخه هیڅ یو هم نه پوهیږي او هم نشي کولی چې مړی څنګه راژوندی کړي. عیسی مسیح دا قدرت لري ځکه چې هغه خدای دی او ټولو ته د ژوند ورکوونکی دی.

مریم، متا، او ایلعازر د بیت عنیا په کلي کښې چې د اورشلیم څخه دوه میله لیرې دی، اوسیدل. کله چې ایلعازر ناروغ ؤ نو خور یې عیسی ته یو پیغام واستاوه. عیسی په هغه وخت کښې چې پیغام یې ترلاسه کړ هغه ځای ته لاړ نشو، دا په دې خاطر نه ؤ چې ایلعازر ورباندې ګران نه ؤ، بلکه په دې خاطر چې هغه پوهیده چې څه باید وکړي. هغه په دې پوهیده چې د ایلعازر بیا راژوندي کول به د دې سبب شي چې ډیر خلک د خدای ثناه ووایي، ځکه چې هغوی ته د ناروغۍ څخه شفا ورکړي.

کله چې عیسی وغوښتل چې بیت عنیا ته لاړ شي، شاګردانو هغه منع کړ. د عیسی ژوند په اورشلیم کښې څوځو ځلې د خطر سره مخامخ شوی ؤ. په دې اساس شاګردانو یې د خپل استاد په هکله اندیښنه لرله.

عیسی یوځل بیا د خپل ځان په باره کښې چې د دنیا رڼا ده، خبرې وکړې، او ویې ویل ، هر څوک چې د هغه څخه پیروي وکړي نو په تیاره کښې به سرګردان نشي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱. کله چې د ايلعازر خور يو نفر عيسی ته ولیږه چې راشي او د هغه ورور ته شفا ورکړي، نو عيسی ولې ژر اقدام ونکړ ترڅو د خپل دوست علاج وکړي؟

أ) عيسی ډير مصروف ؤ چې هغه نشو کولی د يو ناروغ سړي په هکله اند يښنه وکړي.

ب) عيسی ويريده چې اورشليم ته لاړ شي ځکه چې هغه خپل ژوند په خطر کښې ليده.

ج) عيسی پوهيده چې ايلعازر مړ کيږي، او همدا يوه ښه موقه وه چې د ځښتن قدرت وښايي.

۲. ايا تاسو کوم وخت په دې باندې حيران شوي يئ چې ستاسو دعاګانو ته په هماغه وخت کښې ځواب نه وي ورکړل شوی؟........................................... ايا داسې ښکاري چې عيسی مسيح هغې ته توجه نه ده کړې؟

...................................................

.

## عيسی قيامت او ژوندون دی

یوحنا ۱۱: ۱۷- ۲۷ ولولئ

کله چې عيسی مسيح بيت عنيا ته ورسيده، ايلعازر څلور

ورځې مخکښې مړ شوی ؤ او ښخ کړای شوی ؤ. د هغه خور مرتا په ډیره بیړه عیسی ته ورمنډې کړې او ویې ویل:"ای څښتنه! که چیرې ته دلته وای نو زما ورور به نه وای مړ شوای خو بیا هم زه پوهیږم چې که اوس هم د خدای څخه هرڅه وغواړې نو هغه یې به یې درکړي." مونږ وینو چې عیسی مسیح په هغې ښځې کښې د خپل ځان په نسبت څنګه قوي ایمان پیداکوي. هغه اول مرتا ته وویل: "ورور به دې بیرته راژوندی شي." مرتا فکر وکړ چې د عیسی مقصد د قیامت د ورځې څخه دی.

د عیسی مقصد داسې ؤ:"زه قیامت او ژوندون یم، هر څوک چې په ما باندې ایمان راوړي، حتی که هغه مړ هم شي، هغه به ژوندی وي" (یوحنا ۱۱: ۲۵).

څوک چې په عیسی مسیح باندې ایمان ولري هغوی به د تل روحاني ژوندون ولري. حتی که هغه په جسماني لحاظ مړ هم شي، بیا به ژوندی وي. مرتا وویل: "زه په دې ایمان لرم چې ته مسیح او د خدای زوی یې."

عیسی د مرتا او نورو خلکو سره د ایلعازر د قبر خواته لاړل. په هغه زمانه کښې به مړي په هغه ځای کښې ښخیدل چې د غونډیو د لمنو په غاړه کښې لکه د غارونو په شان جوړ شوي وو. د هغه مړی په یو غار کښې ښخ شوی ؤ او مخې ته یې یوه لویه تیږه ایښې وه.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. عیسی مرتا ته څه وویل؟

أ)　هغه قیامت او ژوندون دی.
ب)　ایلعازر به د قیامت په ورځ راژوندی شي.
ج)　قیامت نشته.
۴.　د ایلعازر د مړګ څخه څو ورځې تیرې شوې وې؟
۵.　یوحنا ۱۱: ۲۵ له یاده زده کړئ.
۶.　۲۷ آیت ولولئ او خالي ځایونه ډک کړئ.
"هو، ................. زه ایمان لرم چې ته ...........................او
...............................یې چې باید دنیا ته راشي."

## عیسی ژاړي

یوحنا ۱۱: ۲۸- ۳۷ ولولئ

عیسی د سختیو او غمونو په وخت کښې زمونږ ربښتینی دوست او غمخور دی. هغه د مرتا، مریم او د هغې د دوستانو سره وژړل، خو وروسته یې د هغوی خفګان په خوشحالۍ باندې بدل کړ. مونږ کولی شو چې خپل غمونه د هغه سره شریک کړو او د هغو په بدل کښې آرامي ومومو.

## آیا عیسی په مونږ باندې پام کوي؟

دا یو بهرنی شعر دی چې دلته ترجمه شوی دی.

کله چې زړه زما خفه وي عیسی کړي په مونږ پام

د خوشحالۍ او د سرود دپاره

کله چې بار راباندې دروند شي

په پریشانۍ کښې په ما پام کوي

په هغه لار چې اوږده ده او ستومانه کوونکې
عيسی کوي په ما پام
کله چې وايم خدای پامان، ايا عيسی کوي پام
په هغې دښته کښې چې ده په ځمکه
او زړه مې خوږيږي ترڅو مات شي
هغه دپاره دا هيڅ شی نه دی؟ ايا هغه يې ويني؟
هو، هغه کاندي پام، زه پوهيږم هغه پام کوي
زما غم کښې دی د هغه زړه شريک
کله چې ورځې شي ستومانه ستړې
د زړه تنګۍ شپې شي
زه پوهيږم خلاصوونکی په ما پام کوي.

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

٧. د هغو خلکو د غمونو په خاطر دعا وکړئ کوم چې مسيح ته ضرورت لري.

## ايلعازر را ژوندی کيږي

يوحنا ١١: ٣٨- ٤٤ ولولئ

عيسی به څه وکړي؟ هغه ټول خلک چې په هغه ځای کښې د هغه په څنګ کښې ولاړ ؤو، هغوی به حتماً حيران ؤو. عيسی

اول دعا وکړه او دخدای شکر یې ادا کړ چې د هغه خبرو ته یې غوږ نیوه، بیا یې امر وکړ، "ای ایلعازره، بیرون راوزه." هغه مړي د عیسی آواز واورید او راژوندی شو.

دا د هغې ورځې دپاره یو مثال دی چې عیسی مسیح به مړو ته امر وکړي چې ژوندي شي او دخپلو قبرونو څخه راووزي. قیامت به په دوه برخو کښې وي: هغه کسان چې د عیسی مسیح په وسیله یې خلاصون موندلی دي، نو هغوی به اول راپاڅیږي. بیا به هغه خلک چې خلاصون یې نه دی موندلی، راژوندي شي او د خپلو ګناهونو په خاطر به تر محاکمې لاندې نیول کیږي.

"داسې وخت به راشي چې ټول مړي به د هغه اواز واوري او د خپلو قبرونو څخه به راوزي. نیک خلک به د ژوندون دپاره راپاڅي او بدکاران به د سوال او ځواب دپاره" (یوحنا **۵**: **۲۸**-**۲۹**).

"لکه څنګه چې ټول خلک د آدم سره په یووالي کښې مړه کیږي، نو هغه ټول خلک چې د مسیح سره یووالی لري، راژوندي کیږي. خو هر نفر به په نوبت سره ژوندی کیږي، د ټولو څخه مخکښې به مسیح او بیا د هغه د راتګ په وخت کښې به هغه خلک چې په هغه پورې تعلق لري" (اول قرنتیان **۱۵**: **۲۲**- **۲۳**).

"پاتې مړي به تر هغه وخته پورې راژوندي نشي ترڅو چې زرکاله تیر نشي" (مکاشفه **۲۰**: **۵**).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. عیسی مسیح د ایلعازر په باره کښې څه وکړل؟
أ) هغه د ایلعازر په مړینه باندې اوښکې توی کړې، او دا هغه څه ؤو چې هغه کولی شول.
ب) هغه ایلعازر ته آواز وکړ چې د قبر څخه راووزي او ایلعازر راژوندی شو.
ج) هغه مریم او مرتا ته ډاډګیرنه ورکړه چې ورور به یې د قیامت په ورځ راژوندی شي.
۹. ایا هغه ټول خلک چې مړه شوي دي هغوی به بیا راژوندي شي؟
أ) نه، ټول مړي به نه راژوندي کیږي. یوازې بد خلک به راژوندي شي.
ب) نه، ټول مړي به نه راژوندي کیږي. یوازې ښه خلک به راژوندي شي.
ج) هو، ټول خلک به له مرګ نه وروسته راژوندي شي. ټول خلک به بیا راژوندي شي، ښه خلک به د ژوندون په خاطر او خراب خلک به د جزا په خاطر.

## د عیسی مسیح د وژلو پلان

یوحنا ۱۱: ۴۵- ۵۷ ولولئ

مذهبي مشرانو ته د ایلعازر د راژوندي کیدلو د معجزې خبر ورسیده. ځینو مذهبي مشرانو تر هغه وخته پورې په دې

باور نه درلود چې له مرګ څخه وروسته ژوندون شته. ټول مشران وویریدل چې داسې نشي چې د رومیانو د دولت له خوا ورته کوم زیان ورسیږي، نو په دې اساس یې د عیسی د وژلو دپاره ملا وتړله. قیافا چې په هغه وخت کښې مشر کاهن ؤ دا پریکړه وکړه، دا به ښه وي چې یو نفر د یهودو د قوم په خاطر مړ شي، نه دا چې زمونږ ټول قوم له منځه لاړ شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۰. فریسیانو د ایلعازر د راژوندي کیدلو به باره کښې څه فکر کاوه؟

أ) هغوی د ښښتن ثناه وویله

ب) هغوی پریکړه وکړه چې عیسی مسیح باید ووژل شي.

ج) هغوی په دې باندې باور نه درلود چې ایلعازر مړ شوی دی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱- ج) عیسی پوهیده چې ایلعازر به مړ شي، خو دا به یوه ښه موقه وي چې د خدای قدرت څرګند کړي.

۸- ب) هغه په ایلعازر باندې غږ وکړ چې د قبر څخه راووزي او ایلعازر بیرته راژوندی شو.

۳- الف) دا چې هغه قیامت او ژوندون ؤ.

۹- ج) هو، ټول خلک به له مرګ څخه وروسته راژوندي شي، ښه خلک به د ژوندون دپاره راپاڅیږي او خراب خلک به د محاکمې دپاره.

۴- څلور ورځې.

۱۰- ب) هغوی پریکړه وکړه چې عیسی باید ووژل شي.

۲- څښتنه، مسیح، د خدای زوی.

دوولسم لوست

# یوحنا، دوولسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د مریم له خوا په تیلو باندې د عیسی غوړول
- د ایلعازر په مقابل کښې دسیسه
- اورشلیم ته په کامیابۍ سره د عیسی ننوتل
- یونانیان غواړي چې عیسی ووینې
- عیسی د خپل مرګ په باره کښې خبرې کوي
- د یهودیانو بې ایمانې

❖ د عیسی د کلام په وسیله قضاوت کول

## د مریم له خوا په تیلو باندې د عیسی غوړول

یوحنا ۱۲: ۱- ۸ ولولئ

په بیت عنیا کښې یوه میلمستیا جوړه شوې وه چې په مرګ باندې د کامیابۍ جشن ولمانځي. مریم یوڅه قیمتي عطر واخیستل او د عیسی په پښو باندې یې توی کړل ترڅو د هغه په مقابل کښې خپله مینه وښایي. په دې وخت کښې یهودا (اسخریوطي یهودا) دا وښودله چې د عیسی رښتینی شاګرد نه دی. هغه وویل چې دا قیمتي عطر باید خرڅ شوي وای او د هغه پیسې باید شاګردانو سره د مرستې په صندوق کښې اچول شوې وای. هغه وویل چې د هغو د پیسو څخه کولی شو چې غریبانو ته خواړه ورکړو، خو حقیقت بل شی ؤ. هغه غوښتل چې د یو غل په شان په دې ډول هغه پیسې د خپل ځان کړي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. د ماښام د ډوډۍ په وخت کښې چې د معجزې د پیښې په اړوند جشن نیول شوی ؤ، څه وشول؟

أ) یهودا یو څه پیسې چې د شاګردانو وې، غلا کړې.

ب) مریم د عیسی پښې په عطرو باندې غوړې کړې خو یهودا وویل چې دا عطر باید خرڅ شوي وای.

ج) یهودا دا وښودله چې هغه یو ښه شاګرد نه دی ځکه چې په جشن کښې یې برخه وانخیسته.

## د ایلعازر په مقابل کښې دسیسه

یوحنا ۱۲: ۹- ۱۱ ولولئ

یو شمیر خلک راغلل چې ووینې چې ایلعازر راژوندی شوی دی. د همدې معجزې په خاطر ډیرو خلکو په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ. شیطان د ښتن دښمن دی او خلک د ښتن په مقابل کښې راپاروي. هغه مذهبي مشران دومره ولمسول ترڅو د عیسی په ضد مبارزه وکړي. هغوی غوښتل چې ایلعازر چې په رښتیا سره د دې خبرې یو ژوندی ثبوت ؤ چې عیسی مسیح قیامت او ژوندون دی، له منځه یوسي. ډیرو خلکو په مسیح باندې د خپلې شاهدۍ په خاطر ایمان راوړ. خو بیا هم شیطان غوښتل چې هغه خلک له منځه یوسي کوم چې د مسیح د قدرت په باره کښې نورو ته شهادت ورکوي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲. مذهبي مشرانو ولې دا پریکړه کړې وه چې ایلعازر ووژني؟

أ) د ایلعازر د مرګ په وسیله ډیرو خلکو په عیسی باندې ایمان راوړ.

ب) په دې خاطر چې ایلعازر په بیت عنیا کښې اوسیده.
ج) په دې خاطر چې ایلعازر د قانون څخه تیری کړی ؤ.

## اورشلیم ته په کامیابۍ سره د عیسی ننوتل

یوحنا ۱۹: ۱۲- ۱۹ ولولئ

د فسحې د اختر وخت ؤ، خلکو به هر کال هغه لمانځه، په دې خاطر چې ښتن هغوی د غلامۍ او مرګ څخه خلاص کړي ؤو. په دې ورځو کښې ډیر خلک اورشلیم ته تلل، ځکه چې هلته د خدای د عبادت ځای ؤ.

مسیح په همدې خاطر اورشلیم ته لاړ. په داسې حال کښې چې د خلکو په لاسونو کښې د خرماګانو څانګې وې د هغه هرکلي ته راغلل. او هغه په خره باندې سپور ښار ته داخل شو. د هرکلي ویلو په وخت کښې خلکو هغه د څښتن او د اسرائیلو د پادشاه په نوم یاد کړ. ځینو هغه ته د اسرائیلو د پادشاه په نوم آواز کاوه.

نن مونږ ټول عیسی د خپل پادشاه په توګه ګڼو، البته نه د دنیا یا سیاسي پادشاه په نوم، بلکه د خپل شخصي ژوند د پادشاه په توګه. پادشاه یو رهبر دی، خو عیسی مسیح باید زمونږ د ژوند رهبري وکړي. نو له همدې کبله باید مونږ همیشه داسې عمل وکړو کوم چې هغه یې راڅخه غواړي. یو شی چې د کلیسا د غړو دپاره د شرم خبره ګڼل کیږي هغه داده چې د هغې

مسئولین داسې خلک دي چې یوازې د کلیسا خدمت کوي، په داسې حال کښې د کلیسا څخه دباندې دا کوښښ نکوي چې د مسیح تعلیمات عملي کړي. مسیح باید زمونږ د ژوند پادشاه وي چې په هرځای کښې چې اوسو،لکه مکتب، بازار، وظیفه او نورو ځایونو کښې.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. د فسحې اختر څه شی ؤ؟

أ) دغه اختر په دې خاطر ؤ چې خدای خلک د غلامۍ او مرګ څخه خلاص کړي ؤو.

ب) دا هغه وخت ؤ چې هغو خلکو چې د اورشلیم د ښار څخه لیرې اوسیدل په هغه ځای کښې به یې په سیاسي غونډو کښې ګډون کاوه.

ج) دا هغه وخت ؤ چې خلکو د مسیح د زیږیدنې ورځ لمانځله.

۴. کله چې عیسی اورشلیم ته لاړ څه پیښه وشوه؟

أ) هغه د فسحې د اختر معنی بیان کړه.

ب) هغه په خره باندې لاړ چې خپل دوستان ووینې.

ج) خلکو هغه ته هرکلی ووایه او پادشاه یې ورته وویل.

۵. مسیح ته اوس څنګه پادشاه ویل کیږي؟

أ) هغه باید د هغه هیواد پادشاه وي چې مونږ په کښې اوسیږو.
ب) هغه باید زمونږ د ژوند پادشاه وي او زمونږ د ژوند رهبري وکړي.
ج) هغه باید دننه په کلیسا کښې پادشاه وي نه د کلیسا څخه دباندې.

## یونانیان غواړي چې عیسی وویني

ځینې یونانیان لاړل چې د مسیح سره لیدنه کتنه وکړي. عیسی په دې پوهیده چې هغه به څو ورځې وروسته په صلیب باندې میخ کړای شي. د هغه د مرګ له کبله به یوازې یونانیان نه بلکه نور خلک هم چې د هر هیواد څخه وي خلاصون ومومي. او هغه به د تل دپاره د هغوی پادشاه وي. دا د مرګ ارزښت درلود. هغه د غنمو د دانې په شان خپل ژوند له لاسه ورکوي ترڅو ډیرې نورې دانې راشنې شي.

د غنمو یوه دانه به یوازې یوه دانه پاتې شي مګر دا چې په ځمکه کښې وکرل شي او مړه شي ترڅو د هغې څخه نورې ډیرې دانې پیداشي.

"په چا باندې چې خپل ځان ګران وي، هغه به له لاسه ورکړي او څوک چې په دې دنیا کښې له خپل ځان څخه تیر شي نو هغه به خپل ژوند د ابدي ژونده پورې وساتي" (یوحنا ۱۲ ۲۴ - ۲۵).

عیسی وویل چې مونږ باید د هغه پیروي وکړو. مونږ باید دې ته تیار اوسو چې خپل ژوند د هغه په لاره کښې قربان کړو

ترڅو نور خلک هغه قبول کړي او خلاصون ومومي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۶. یوحنا ۱۲: ۲۴- ۲۵ په یاده زده کړئ.
۷. دعا وکړئ چې د مسیح څخه په صادقانه توګه پیروي وکړئ حتی که ستاسو د ځان په بیه تمام شي.

## عیسی د خپل مرګ په باره کښې خبرې کوي

یوحنا ۱۲: ۲۷- ۳٦ ولولئ

ستاسو سره به څه احساس پیدا شي که چیرې تاسو پوه شئ چې د هغې ګناه په خاطر چې تاسو نه ده کړې په مرګ باندې محکوم شئ؟ تاسو به څنګه دعا کوئ؟

دا د مسیح تجربه وه. هغه غوښتل چې د داسې عذاب څخه د خلاصیدلو په خاطر د څښتن حضور ته دعا وکړي. خو هغه پوهیده چې هغه د همدې مقصد دپاره له آسمان څخه رالیږل شوی دی. هغه د دې دپاره راغلی ؤ چې د ټولې دنیا په خاطراو زما او ستا د ګناه په خاطر مړ شي. نو هغه دعا وکړه: "ای پلاره، خپل نوم ته دې جلال ورکړه."

څومره لویه مرسته وه چې څښتن په لوړ آواز سره چې ټولو اوریدل، د آسمان څخه ځواب ورکړ، خدای د هغه سره مل ؤ، په سختو حالاتو کښې خدای د هغه سره مل ؤ. او د هغه د مرګ په وسیله به څښتن ته جلال ورکړل شي.

د مسیح د مرګ په وسیله به د ګناهونو په باره کښې

قضاوت وکړای شو، شیطان تر قضاوت لاندې راغی او ستاسو په ګناهونو باندې هم قضاوت وکړای شو. هغه ستاسو ګناهونه او قضاوت په خپل ځان واخیست. اوس دا یو حقیقت دی چې که هغه څه چې هغه ستاسو دپاره کړي دي،قبول نکړئ، نو مجبور یئ چې په خپله د څښتن په حضور کښې ودریږئ او تر محاکمې لاندې ونیول شئ او دخپلو ګناهونو جزا ووینئ.

فرض کړئ چې تاسو قرضدار یئ، خو بل څوک ستاسو قرض ادا کوي. او دا به احمقانه کار وي چې تاسو هغه دوباره ورکړئ! مسیح د خپل مرګ په وسیله ستاسو قرض ادا کړی دی، او د دې دپاره چې تاسو د هغه څخه ګټه واخلئ نو عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي او څښتن په توګه قبول کړئ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. د عیسی مرګ د ګناه سره څه وکړل؟

أ) هغه د ټولو ګناهونو بار په خپل ځان واخیست ترڅو ټول خلک ورڅخه خلاصون ومومي.

ب) هغه د ټولو خلکو دګناهونو بار په خپلو اوږو باندې واخیست، خو په هرصورت هغوی ته به د خپلو ګناهونو په خاطر جزا ورکړل شي.

ج) هغه د ټولوګناهونو بار په خپلو اوږو واخیست ، خو هغه څوک چې په هغه باندې

ایمان لري د ګناه څخه به خلاص شي او جزا به ورته ورنکړل شي.

## د یهودیانو بې ایماني

یوحنا ۱۲: ۳۷- ۴۳ ولولئ

ډیرو خلکو دا نه منله چې عیسی مسیح دی ځکه چې هغوی نشو کولی خپل فکرونه د هغه څه سره برابر کړي کوم چې مسیح کول. حتی هغوی‌خپل غلط افکار د هغه څه سره برابر کړي کوم چې اشعیاه نبي ویلي ؤو.

ډیر مشران پوه شول چې عیسی هماغه وعده کړای شوی مسیح دی لیکن په دې خاطر چې هغوی له دې څخه ویریدل چې څه به ورسره کیږي په خپل ایمان باندې اقرار ونکړ. اوس هم ډیر خلک د همدې دلیل له امله ویریږي چې عیسوي شي. ځینې ایمانداران پټ دي.

"ځکه چې هغوی د هغه عزت او حرمت څخه چې د څښتن له طرفه دی د انسان تعریف او صفت زیات خوښوي" (یوحنا ۱۲: ۴۳).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۹. یوحنا ۱۲: ۴۳ په یاده زده کړئ.

۱۰. د هغو خلکو دپاره دعا وکړئ چې د پټو ایماندارانو د جملې څخه دي.

## د عیسی د کلام په وسیله قضاوت کول

یوحنا ۱۲ ٤٤- ٥۱ ولولئ

هماغه وینا چې هغوی یې د اوریدلو څخه انکار کاوه، هماغه خبرې به د هغوی د قضاوت سبب شي. هرڅوک چې د عیسی په خبرو باندې ایمان لري او په هغو باندې عمل کوي نو آرام به ومومي. خو هغه څوک چې د عیسی په خبرو باندې ایمان نه لري هغوی به ابدي ژوند ونلري.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۱. د اخري ځل دپاره به خلک په کومه طریقه ترقضاوت لاندې ونیول شي؟

أ) د مسیح د وینا په وسیله.

ب) د هغه هیواد د قوانینو په وسیله چې تاسو په کښې ژوند کوئ.

ج) د خدای د لسو حکمونو په وسیله.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱- ب) مریم د عیسی پښې په تیلو باندې غوړې کړې او یهودا وویل چې دا عطر باید خرڅ شوي وای.

**۵**- ب) هغه به زمونږ د ژوند پادشاه وي او زمونږ په ژوند باندې به فرمانروایي کوي.

۲- الف) ځکه چې ډیرو خلکو د ایلعازر د شهادت ورکولو په وسیله په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ.

۸-ج) هغه ګناهونه په خپل ځان باندې واخیستل، خو هغه څوک چې په هغه باندې ایمان لري هغه به د ګناهونو د جزا څخه خلاص وي.

۳- الف) دا هغه اختر ؤ چې خلکو ته دا خبره وریادوله چې خدای هغوی څنګه د غلامۍ څخه خلاص کړل.

۱۱- الف) هغوی به د عیسی د کلام په اساس تر قضاوت لاندې ونیول شي.

۴- ج) خلکو هغه ته هرکلی ووایه او هغه ته یې د اسرائیلو پادشاه ووایه.

# ستاسو يادداشت

دیارلسم لوست

# یوحنا، دیارلسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- عيسى د خپلو شاګردانو پښې مينځي
- خپل ځان سره د خيانت په اړه د عيسى پيشګويي
- نوی حکم
- د پطروس د انکار په هکله د عيسى پيشګويي

## عيسى د خپلو شاګردانو پښې مينځي

يوحنا ۱۳: ۱- ۲۰ ولولئ

د فسحې په اختر کښې خلکو د خپلو ګناهونو په خاطر پسونه قرباني کول. نو د فسحې د اختر په هماغه ورځ به عیسی مسیح د خدای د وري په توګه د دنیا دګناهونو په خاطر مړ شي. خو اول باید هغه خپلو شاګردانو ته درس ورکړي. ځکه چې هغوی په خپل منځ کښې بحث کاوه چې د هغو څخه کوم یو د خدای په پادشاهۍ کښې لوړ مقام ولري. مسیح غوښتل چې هغوی پوه کړي چې په رښتیا سره لوړ مقام هماغه دی چې یو د بل خدمت وکړي.

په هغه وخت کښې رواج ؤ چې د کور نوکر به د میلمنو پښې مینځلې یا به یو دوست د بل دوست پښې مینځلې. خو د هغه د شاګردانو څخه هیڅ یو دا نه غوښتل چې د یو نوکر کار وکړي یا د نورو پښې ومینځي. نو له همدې کبله عیسی د هغوی پښې ومینځلې.

هغوی څومره خجالت شول! چې عیسی دخدای زوی دا کار وکړ، په داسې حال کښې چې دا کار باید هغه چا کړی وای چې خپل ځان یې د نورو څخه لوړ ګاڼه. د هغوی بادار د هغوی آرامۍ په خاطر د هغوی پښې ومینځلې. که چیرې وغواړو چې د مسیح څخه پیروي وکړو باید خپل ځان عاجز کړو او هر هغه کار چې د نورو سره د کومک په خاطر لاژم وي وکړو. دا زمونږ طریقه ده د هغوی د پښو د مینځلو په اړه.

عیسسی یو بل درس هم ورکړ: مونږ باید هغه ته اجازه ورکړو چې زمونږ ورځینۍ غلطۍ پاکې کړي. مخکښې له دې چې شاګردانو ډوډۍ خوړلو ته لاړ شي خپل ځانونه ومینځل،

خو د هغوی پښې د تګ په وخت کښې چټلې شوې. خلاصون د غسل په شان دی. کله چې مونږ مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه قبلوو، زمونږ ټول ګناهونه د هغه په وسیله پاکیږي. هغه ټولې د تل دپاره له منځه ځي. خو ورځ په ورځ کله چې مونږ په خپل ژوندکښې قدم اخلو او ژوندکوو، نو کله کله زمونږ پښې چټلیږي. مونږ داسې کارونه کوو چې هغه د کولو نه دي. د هغو د له منځه وړلو دپاره دوهم ځل خلاصون ته ضرورت نشته. خو مونږ باید خپلې خطاګانې او غلطۍ د هغه سره شریکې کړو ترڅو د هغه په وسیله زمونږ خطاګانې له منځه لاړې شي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۱. عیسی د کوم کار په وسیله خپلو شاګردانو ته درس ورکړ چې هغوی يو د بل خدمت وکړي؟
أ) هغه خپل ځان څخه خدمتګار جوړ کړ او د هغوی پښې يې ومینځلې.
ب) هغه وویل چې څنګه يې آسمان پریښود چې انسان شي.
ج) په خپلو شاګردانو باندې يې ډوډۍ وویشله.
۲. ایا تاسو داسې خطاګانې کړي دي چې د هغو څخه خلاص شئ؟
تاسو کولی شئ د هغو په باره کښې د مسیح سره خبرې وکړئ.

## خپل ځان سره د خیانت په اړه د عیسی پیشګویي

یوحنا ۱۳: ۲۱- ۳۰ ولولئ

عیسی مسیح پوهیده چې هغه به څنګه تسلیم کړای شي. د هغه د شاګردانو څخه یهودا (اسخریوطئ) د هغه په ضد شو. یوازیني مشکل چې یهودا درلود هغه د پیسو سره د هغه مینه وه. هغه خزانه دار ؤ او د عمومي پیسو څخه به ئې غلا کوله. د هغه دا عمل یو کوچنی شی معلومیده، خو د هغه دا د ګناه څخه ډک عمل هغه د نورو ګناهونو کولو ته وهڅاوه. هغه د سپینو زرو د دیرشو سکو په اخیستلو سره عیسی د هغه دښمنانو ته تسلیم کړ. هغه خپل روح او مقام د عیسی په پادشاهۍ کښې خرڅ کړ. "ځکه چې د پیسو سره مینه لرل د هر قسم بدیو سرچینه ده" (اول تیموتاوس ٦: ۱۰).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. ایا د عیسی مسیح دا امید ؤ چې هغه به تسلیم کړای شي؟
   أ) نه، هغه نه پوهیده.
   ب) هو، خو هغه نه پوهیده چې څوک به هغه تسلیم کړي.
   ج) هو، هغه پوهیده چې یهودا به هغه تسلیم کړي.

۴. د خپلو هغو دوستانو دپاره دعا وکړئ چې د پیسو سره د مینې په لرلو سره خپل روح له لاسه ورکوي.

## نوی حکم

یوحنا ۱۳: ۳٦- ۳۸ ولولئ

عیسی بیا خپلو شاګردانو ته د خپل مرګ په باره کښې خبرې وکړې، چې هغه هغه ځای ته ځي چې هغوی اوس هلته نشي راتللی. هغوی باید دلته په دنیا کښې پاتې شي او داسې رویه وکړي چې خلک پوه شي چې د هغوی په شان نه دي. هغوی باید یو د بل سره مینه وکړي، لکه څنګه چې ما تاسو سره مینه کوله. دغه مهم حکم تر اوسه پورې په خپل حال پاتې دی چې مونږ باید هغه په خپل ورځیني ژوند کښې تعقیب کړو.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

**۵.** د خپلو شاګردانو دپاره د عیسی نوی فرمان څه شی ؤ؟

أ) هغوی باید هره ورځ خپلې پښې ومینځي.
ب) یو د بل سره مینه وکړي.
ج) د خزانې د پیسو څخه غلا ونکړي.

## د پطروس د انکار په هکله د عیسی پیشګویي

یوحنا ۱۳: ۳٦- ۳۸ ولولئ

تاسو مخکښې په دې پوه شوئ چې عیسی هماغه پیغمبر دی چې وعده یې شوې وه. څښتن پیغمبرانو ته د مخکښې څخه د هغو پیښو په باره کښې خبرتیا ورکړې وه چې هغه به پیښیدل او پیغمبرانو د هغو پیشګویي کړې ده. تاسو د مسیح څو پیشګویۍ لوستلي دي. هغه وویل چې یهودا به هغه تسلیم

کړي، پطروس د هغه د پېژندلو څخه انکار کوي، په صلیب به شي او آسمان ته وخېژول شي. پطروس داسې فکر کاوه چې هغه د نورو شاګردانو څخه په روحاني توګه ډېر اوچت دی. خو مسیح پوهیده چې هغه څومره کمزوری دی نو په همدې خاطر یې د هغه دپاره دعا کوله.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲. عیسی د پطروس په هکله پیشګویي وکړه چې:
أ) هغه به د کلیسا رهبر شي.
ب) تل به هغه ته وفادار وي.
ج) درې ځلې به د هغه څخه منکر شي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱-الف) هغه د یو نوکر په ځای شو او د هغوی پښې یې ومینځلې.
۵- ب) هغوی باید د یو او بل سره مینه وکړي.
۳- ج) هو، هغه پوهیده چې یهودا به د هغه سره خیانت کوي.
۲-ج) درې ځلې به د هغه څخه انکار وکړي.

څوارلسم لوست

# یوحنا، څوارلسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- عیسی خدای ته د ورتګ لاره
- د روح القدس وعده

## عیسی خدای ته د ورتګ لاره

یوحنا ۱٤: ۱- ۱٤ ولولئ

کله چې عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې هغه به مړ شي او دوی به پریږدي، نو هغوی ډیر پریشانه شول. خو عیسی هغوی په دې خبره خوشحاله کړل چې وویل زه ځم چې ستاسو دپاره ځای تیار کړم، زه بیا راځم او تاسو د ځان سره بیایم.

زمونږ دپاره ډیره مهمه ده چې دا خبره په یاد وساتو چې

عیسی د دوهم ځل دپاره د خپلو پیروانو په خاطر راځي او هغوی د همیش دپاره د خپل ځان سره وړي. هغه ورځ به یوه عجیبه ورځ وي او مونږ باید هغې ته تیار اوسو. که چیرې ګناهکار ژوند ولرو یا کومه ګناه ولرو، عیسی به مو له ځان سره نه بیایي. خو که چیرې مونږ د ګناه څخه لیرې او د خدای په خاطر مو ژوند تیر کړی وي، نو د هغه سره به یو.

"وروسته له دې چې زه لاړ شم او تاسو ته ځای تیار کړم، نو بیا به راشم او تاسو له ځان سره وړم چې په هغه ځای کښې چې زه اوسم تاسو به هم راسره اوسئ" (یوحنا ۱۴ : ۳).

همدارنګه عیسی دا خبره تکرار کړه چې هغه پلار خدای ته د رسیدلو دپاره یوازینۍ لاره ده. د آسمان پادشاهۍ ته کومه بله لاره نشته. باید په عیسی مسیح باندې ایمان راوړو او خلاصون پیدا کړو، یوازې په هغه باندې.

"زه لاره یم، حقیقت یم او ژوندون یم، هیڅوک نشي کولی چې بغیر له ما پلار ته ورشي" (یوحنا ۱۴ : ۲).

عیسی وعده کړې ده چې څوک چې په هغه باندې ایمان لري نو د هغو کارونو په نسبت چې هغه لیدلي دي لوې کارونه وکړي. عیسی کولی شي چې یوازې په یو ځای او یو وخت کښې اوسي. خو د هغه پیروان چې شمیر یې زرګونو ته رسیدلی دی، د خدای په قدرت سره کولی شي له هغو کارونو څخه زیات کارونه وکړي کوم چې هغه کړي دي.

همدارنګه عیسی وویل چې مونږ کولی شو د هغه په نوم

دعا وکړو (یوحنا ۱۴: ۱۳- ۱۴). د عیسی په نوم د یو شي غوښتل یا دعا کول داسې مثال لري لکه خپله هغه چې دعا کوي او د پلار خدای څخه کوم شی غواړي. د عیسی په نوم د کوم شي غوښتل په حقیقت کښې د خدای په اراده باندې پوهیدل دي او د هغو شیانو دپاره دعا کول دي چې څښتن د هغو اراده کړې ده. همدارنګه د عیسی مسیح په نوم د خدای پلار څخه غوښتنه د هماغه قدرت په اندازه دي چې عیسی مسیح درلود.

کله چې عیسی مسیح په خپل اختیار سره امر کاوه نو ناروغۍ او بد روحونه د خلکو د بدن څخه وتل. مونږ یوازې هغه وخت کولی شو داسې لوی کارونه وکړو چې په ۱۲ آیت کښې ذکر شوي دي، چې د عیسی مسیح د قدرت په نوم دعا وکړو. مونږ خپله هیڅ قدرت نلرو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. یوحنا ۱۴: ۳ او ۱۴: ۶ له یاده زده کړئ.
۲. عیسی مسیح څنګه خپلو شاګردانو ته دا امیدواري ورکړه کله چې هغه وویل چې دوی به پریږدي.
أ) هغه وویل چې هغه به راشي او دوی به د ځان سره یوسي.
ب) هغه وویل چې هغوی به هم مړه شي او د څښتن خواته به ورشي.

ج) هغه وویل چې په اصل کښې هغوی نور ده ته ضرورت نلري.

۳. خدای ته د رسیدلو دپاره څو لارې دي؟

أ) ډیرې دي، هر دین چې تاسو د خدای لارې ته راهنمایي کوي.

ب) د هرې لارې څخه چې پیروي کوئ او هغې ته وفادار یئ.

ج) یوه لاره ده- د عیسی مسیح لاره.

۴. عیسی د دعا په باره کښې څه وویل؟

أ) د هغه پیروان باید د هغه په نوم دعا وکړي او هغه یې دعا قبلوي.

ب) د هغه پیروان دې د مریم په نوم دعا وکړي، ځکه چې مریم د عیسی مور وه.

ج) د هغه پیروان باید د بتانو او مجسمو په نوم دعا وکړي.

## د روح القدس وعده

یوحنا ١٤: ١٥- ٣١ ولولئ

په ۱۴، ۱۵ او ۱۲ فصلونو کښې د روح القدس د هغو کارونو په باره کښې چې زمونږ د مرستندوی په توګه یې کوي، لولو. د دنیا خلک به روح القدس ترلاسه نکړي، خو روح القدس به یوازې ایماندارانو ته ورکول کیږي. هغه لاره او حقیقت دی چې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو په حقیقت باندې پوه شو او څه چې عیسی ویلي دي هغه مونږ ته رایادوي او د

هغو په باره کښې مونږ ته تعلیم راکوي.

"او زه به د پلار څخه غوښتنه وکړم او هغه به یو بل ملاتړ کوونکی تاسوته درکړي چې تل به تاسو سره وي" (یوحنا ۱۴: ۱۶).

مسیح وفرمایل چې هغه څه چې مونږ یې کوو دا ثابتوي چې ایامونږ د هغه سره مینه کوویا نه.

"څوک چې زما سره مینه کوي نو څه چې وایم د هغې په مطابق دې عمل کوي او زما پلار به د هغه سره مینه وکړي او مونږ به هغه ته ورشو او د هغه سره به پاتې شو" (یوحنا ۱۴: ۲۳).

ډیر خلک فکرکوي چې د مسیح احکام ډیر سخت دي. که چیرې خدا او مسیح زمونږ سره اوسیږي نو زمونږ سره به مرسته وکړي. د هغوی په مرسته کولی شو هغه کارونه وکړو چې هغوی یې زمونږ څخه غواړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵. یوحنا ۱۴: ۱۶، ۲۳ له یاده یاد کړئ.
۶. کله چې عیسی د خپلو شاګردانو څخه رخصت کیده نو د هغو سره یې کومه وعده وکړه؟
أ) هغه به روح القدس راولیږي چې په هغوی کښې واوسیږي.
ب) د هغوی دپاره به دعا کوي.
ج) د هغوی سره خبرې وکړي.

۷. د هغو خلکو د پاره چې دا دعوه کوي چې د مسیح سره مینه کوي کوم قسم ازمیښت شته؟
أ) هغوی به کلیسا ته ځي او د تعمید غسل به اخلي.
ب) د هغه د تعلیم اطاعت به کوي.
ج) نیک کارونه به کوي.

## ځیل ځوابونه مقایسه کړئ

۲ - الف) هغه وویل چې دی به بیرته راشي او دوی به له ځان سره بوزي او د هغه سره به اوسي.
۲ - الف) هغه به روح القدس راولیږي چې د هغوی سره اوسي.
۳ - ج) یوه لاره - یعنې عیسی مسیح.
۷ - ب) هغوی د هغه د تعلیم څخه اطاعت کوي.
۴ - الف) د هغه پیروان باید د هغه په نوم دعا وکړي او هغه به یې دعا قبلوي.

پنځلسم لوست

# یوحنا، پنځلسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ عیسی حقیقي تاک دی
- ❖ د دنیا کرکه

## عیسی حقیقي تاک دی

یوحنا ۱۵: ۱- ۱۷ ولولئ

عیسی خپل ځان د انګورو د تاک سره او خپل پیروان یې د هغه د شاخونو سره تشبیه کړ. په مونږ کښې د هغه ژوند د روح القدس میوه راپیداکوي. دا یو قسم میوه ده چې خدای یعنې باغوان یې په مونږ کښې لټوي.

"خو د روح القدس میوه مینه، خوشحالي، سلامتي، حوصله مندي، مهرباني، نیکي، وفاداري، بې کبري او په خپل

نفس باندې حاکميت درلودل دي چې هيڅ داسې قانون نشته چې د دې کارونو په خلاف وي" (غلاطيان **۵**: **۲۲**- **۲۳**).

کله کله داسې کيږي چې باغوان د زيات حاصل ورکولو په خاطر تاکونه اصلاح کوي. هغه بې ميوې ښانګې پرې کوي او ليرې يې غورزوي ترڅو د هغو په ځای نوې ښانګې راشنې شي او ميوه ونيسي.

عيسی وويل چې د هغه پيروان د هغه دکلام په وسيله پاکيږي. خدای د مقدس کتاب څخه د شاخه برۍ د قيچي په توګه کار اخلي ترڅو هغه ښانګې لکه ځان غوښتنه، غرور او بدخويونه چې په مونږ کښې موجود وي هغه پرې کړي. کله چې مقدس کتاب لولو، په هغه باندې عقيده پيداکوو اود خپل ژوند دپاره يې يوه نمونه ګرځوو. روح القدس زمونږ سره مرسته کوي ترڅو بې حاصله ښانګې له خپل ځان سره ليرې کړو. نو بيا د مسيح له ثمره ډک ژوند لکه د شيرې په شان چې د ونې له تنې څخه ښانګو ته ځي، مونږ ته چټکه روحاني وده راکوي او د روح ميوه راپيداکوي.

د "پاتې کيدلو" کلمه څو څو ځلې په دې فصل کښې تکرار شوې ده، **۴**، **۵**، **۲**، **۷**، **۸**، او **۱۰** آياتونه. که چيرې په يوه ونه يا يو تاک کښې پاتې نشي نو هغه ونه مړه کيږي يعنې له منځه ځي ځکه چې د ژوند شيره د تنې څخه راځي. په همدې ډول زمونږ روحاني ژوند هم د مسيح سره په يووالي کښې پيداکيږي. تر هغه وخته پورې چې مونږ د هغه سره يو، نو ژوندي به پاتې شو. څو که مونږ هر شي ته اجازه ورکړو چې مونږ

د هغه د لارې څخه راوګرځوي او د ګناه په لور مو بوزي، نو نور به ژوندون ونلرو.

" زه تاک یم او تاسو د هغه څانګې يئ. څوک چې په ما کښې پاتې شي او زه په هغه کښې، ډیره میوه به ونیسي، ځکه چې تاسو نشئ کولی زما څخه بغیرکوم کار وکړئ" (یوحنا **۱۵** : **۵**).

په دې فصل کښې مو دا زده کړل چې د ایماندارانو او عیسی مسیح تر منځ اړیکې د مینې په اساس ولاړې دي. د "مینې" د کلمې څخه د دیرش ځلو څخه زیات د ۱۲ څخه تر ۱۷ فصلونو پورې یادونه شوې ده . عیسی اول وویل چې څنګه پلار د هغه سره مینه کړې ده او هغه څنګه د خپلو شاګردانو سره مینه کړې ده، شاګردان هم باید د هغه مینې ته دوام ورکړي. څنګه چې مونږ په مسیح کښې پاتې کیږو نو هغه زمونږ سره مرسته کوي چې د یو او بل سره مینه وکړو. ځینې وخت مونږ وایو چې مونږ د ځینو ښو خلکو سره مینه کولی شو. خو مسیح په داسې حال کښې زمونږسره مینه وکړه او هغه وخت زمونږ په خاطر مړ شو چې مونږ لا ګناهکار ؤو. هغه مونږ د دې دپاره انتخاب کړو ترڅو دنیا ته خپل ژوند او خپله مینه ښکاره کړي. ۱۲ آیت ولولئ.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۱. غلاطیان **۵**: ۲۲ - ۲۳ او یوحنا **۱۵** : **۵** له یاده زده کړئ.

۲. عیسی خپل ځان او خپل پیروان د څه شي سره تشبیه کړل؟
أ) د یوې کروندې او د هغې د حاصل سره.
ب) د یو تاک او د هغه د څانګو سره.
ج) د یو بادار او غلامانو سره.

۳. د مسیح کلام زمونږ سره څه کوي؟
أ) په هغه صورت کښې چې مونږ هغه قبول کړو او د هغه اطاعت وکړو نو هغه به مونږ پاک کړي.
ب) هر وخت چې مو هغه ولوست نو سمدستي به پاک شو.
ج) هیڅ نکوي.

۴. بغیر له مسیح به مونږ څه کوو؟
أ) کوم کارونه چې هغه کړي دي له هغو څخه به لوی کارونه وکړو.
ب) ډیره میوه به ونیسو.
ج) هیڅ شی.

۵. د ایماندارانو او مسیح ترمنځ اړیکي په څه شي باندې ولاړې دي؟
أ) مینه
ب) په کلیسا کښې غړیتوب لرل.
ج) نیک کارونه

## د دنیا کرکه

یوحنا ۱۵ ۱۸- ۲۷ او ۱٦: ۱- ٤

عیسی خپلو شاګردانو ته وایي چې هغوی به په دنیا کښې د ځورونې او بدې رویې سره مخامخ شي. او د یوولسو شاګردانو له جملې څخه چې د همدې موضوع په هکله ورسره خبرې شوې وې، لس تنه یې د انجیل د تبلیغ په خاطر مړه شول. یوحنا یوازینی نفر ؤ چې په خپل طبیعي مرګ باندې مړ شو.

د دنیا خلک ولې د هغوخلکو څخه کرکه کوي چې د مسیح پیروي کوي؟ په همدې دلیل چې دهغه څخه یې کرکه کوله. د یو ښه مسیحي پاک ژوند د هغه د ګناه څخه ډک چاپیریال د رسوایئ سبب کیږي. او د دې سبب ګرځي ترڅو د هغه په شاوخوا کښې ګناهکار خلک خپل ځانونه مجرمان وګڼي. چې له همدې کبله د هغه شاوخوا خلک د هغه څخه کرکه پیداکوي او د دې سبب کیږي چې د هغه په ضد په خرابو عملونو باندې لاس پورې کړي.

شیطان، یعنې د خدای دښمن د مسیحیانو په ضد جنګیږي، هغه خلک لمسوي چې په مسیحیانو باندې ملنډې ووهي او د هغوی سره بد سلوک وکړي. نو که تاسو سره بده رویه کیږي نو بیا مه پریشانه کیږئ او په دې باندې حیرانیږئ مه چې په تاسو پورې خنداګانې کیږي، او یا د مسیحي توب په خاطر ځورول کیږئ. ځینې مسیحیان دخپلو کورنیو د غړو له خوا وهل او ټکول کیږي او په زندان کښې اچول کیږي. یو شمیر

یې په دې خاطر قتل شوي دي چې هغوی مسیح د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه قبول کړی دی.

مسیح ویلي دي چې د هغه پیروان د هغه څخه بهتر نه دي، ځکه چې د دنیا خلکو هغه ته آزار او تکلیف ورکړی دی نو هغو خلکوته به هم آزار او تکلیف رسوي کوم چې د هغه پیروي کوي. عیسی مسیح یو ځل بیا د مرسته کوونکي وعده ورکړه، یعنې د روح القدس وعده. روح القدس به زیاتره د مسیح په باره کښې شهادت ورکوي او د هغه د شاګردانو سره به هم مرسته کوي چې د عیسی شاهدان اوسي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۶. د هغو خلکو دپاره دعا وکړئ چې آزار او تکلیف ورته رسول کیږي.

۷. عیسی د دوهم ځل دپاره د کوم مرسته کوونکي وعده وکړه؟

أ) خلکو ته یې د دوستۍ وعده ورکړه چې د هغوی سره مرسته وکړي.

ب) د دهقانانو سره یې وعده وکړه چې هغوی ته به د تاک څخه میوه ورکوي.

ج) د هغوی سره یې د روح القدس وعده وکړه.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۲- ب) تاک او د هغه څانګې

۵- الف) مینه

۳- الف) څنګه چې مونږ هغه قبول کړو او د هغه اطاعت وکړو، نو هغه مونږ پاکوي.

۷- ج) د هغوی‌سره یې د روح القدس وعده وکړه.

۴- ج) هیڅ شی

# ستاسو یادداشت

شپاړلسم لوست

# یوحنا، شپاړلسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د روح القدس کار
- ❖ غم او خوشحالي
- ❖ په دنیا باندې بریالیتوب

## د روح القدس کار

یوحنا ۱۶: ٤- ۱۵ ولولئ

د آخرني ماښام په وخت کښې عیسی د خپلو شاګردانو سره د روح القدس په باره کښې خبرې وکړې. یوحنا ۱۴، ۱۲، ۱۷، ۲۲، ۱۵: ۲۶، ۱۲ ۷- ۱۵. په اولنیو درې آیاتونو کښې خدای پلار، عیسی او روح القدس سره یوځای ذکر شوي دي. په داسې حال کښې چې مونږ پوهیږو درې واړه یو واحد خدای دی.

هغه کلمه چې دلته "مرسته کوونکی" ترجمه شوې ده په اصلي یوناني ژبه کښې "پاراکلیت" کلمه ده. دا کلمه د مشاور یا مداقع وکیل په معنی دی. یعنې د یو شخص څخه د محاکمې په وخت کښې دفاع کوي، یوڅوک چې هغه د بل سره مرسته کوي او هغه ته مشوره ورکوي. روح القدس زمونږ دپاره همدا ډول کار کوي. هغه زمونږ څخه دفاع کوي او مشوره راته راکوي چې څه وکړو. هغه حقیقي روح دی چې مونږ ته تعلیم راکوي او لارښوونه راته کوي او د حقیقت په لور مو بیایي. هغه مونږ د غلطو ښوونکو د غولولو څخه ساتي.

هغه د دنیا خلک په دې پوهوي چې ګناه غلطي او خطا ده. مونږ انسانانو ته دا مشکله ده چې دا قبوله کړو چې مونږ ګناهکار یو. داسې فکر کوو چې مونږ ښه خلک یو، خو روح القدس مونږ په دې باندې خبروي چې مونږ د خدای په نظر کښې څنګه یو. شاید ځینې وختونه مو دې ټکي ته پام کړی وي چې هغه کالي چې تاسو اغوستي دي په هغو کښې داغونه لیدل کیږي. په کور کښې پاک ښکاري، خو کله چې دباندې یه رڼا کښې یي ووینئ نو هغه داغونه به صفا وګورئ. روح القدس زمونږ په ژوند کښې د خدای نور ځلوي او مونږ په دې باندې پوهوي چې ګناه مونږ څومره ناولي ښکاره کوي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. د "مرسته کوونکي" کلمه په دې ځای کښې د کوم یوناني لغت ترجمه ده؟

أ) پارتنز
ب) پاراکلیت
ج) پارالیز

۲. روح القدس د پاراکلیت په حیث څه کوي؟
أ) هغه زمونږ څخه دفاع کوي، مونږ ته مشوره راکوي او مرسته کوي.
ب) هغه زمونږ دپاره کارکوي.
ج) هغه مونږ ملامتوي.

۳. مونږ کله کولی شو په دې پوه شو چې ګناهکار یو.
أ) کله چې د ګناه کولو په وخت کښې ونیول شو.
ب) کله چې روح القدس مونږ ته وښايي چې مونږ څومره ګناهکار یو.
ج) کله چې یو څوک راته ووايي چې مونږ څومره خراب خلک یو.

۴. دعا وکړئ چې روح القدس تل تاسو ته لارښوونه وکړي. د هغه څخه وغواړئ هغه څه چې په تاسو کښې ښه نه دي تاسو ته یې وښايي.

## غم او خوشحالي

یوحنا ۱۶: ۱۶- ۲۴ ولولئ

د مسیح شاګردان په دې خاطر چې هغوی پرېښودل ډېر خفه ؤو. خو عیسی هغوی او خپلو پیروانو ته ډیره عجیبه وعده ورکړه.

"تاسو چې هر څه زما په نوم د پلار څخه وغواړئ هغه به یې تاسو ته درکړي" (یوحنا ۱۲: ۲۳).

که چیرې مونږ د یو مهم سړي څخه کوم شی وغواړو نو هغه به راته رانکړي ځکه چې هغه مونږ نه پیژني. خو که چیرې مونږ ته دا حق راکړل شي چې د دولت د رئیس په نوم یو څه وغواړو نو هریو په ډیره مننه هغه شی مونږ ته راکړي کوم چې مو غوښتی دی. څه چې زوی وغواړي نو خدای پلار به یې ورته خامخا کوي. هرکله چې مونږ عیسی مسیح ته اجازه ورکړو چې په مونږ کښې واوسیږي، نو مونږ کولی‌شو چې د هماغه شي په خاطر د هغه په نوم دعا وکړو د کوم دپاره چې هغه دعا کړې ده.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

**۵.** د مسیح وعده څه وه؟

أ) هر څه چې وغواړو هغه به ترلاسه کړو.

ب) هر څه چې د مسیح په نوم وغواړو خدای به یې راته راکړي.

ج) مونږ به هیڅکله خفه نه شو.

## په دنیا باندې بریالیتوب

یوحنا ۱٦: ۲۵- ۳۳

مسیح پوهیده چې څو ساعته وروسته به ونیول شي او ټول شاګردان به وتښتي ترڅو خپل ځانونه وساتي. هغوی یې د دې موضوع څخه خبر کړل. هغه غوښتل چې هغوی پوه کړي چې

دغه عذاب او د هغه مرګ د ماتې معنی نلري. دا ټول د خدای په نقشه کښې شامل ؤو. د هغه د عذاب او مرګ له کبله نورو خلکو خلاصون ومونده.

دنیا وایي چې نور خلک هیر کړه، خپل ځان وساته! خو مسیح د دنیا په وسوسو باندې بریالی شو. مسیح هغه کارونه کول چې خدای به ورته ویل. څه چې خدای مونږ ته وایي د هغو کارونو سرته رسول که په هر قیمت وي، هغه په دنیا باندې بریالیتوب ګڼل کیږي.

د مسیح شاګردان به هم عذاب او تکلیف وګالي. مسیح هغوی ته یادونه وکړه چې په هغه کښې پاتې شي اوهغه به ورسره مرسته وکړي. هغه ټول خلک چې د مسیح پیروي کوي هغوی به په دې دنیا کښې ځور او تکلیف ویني، لیکن زمونږ مرسته کوونکی روح القدس به وي. دا بریالیتوب د دې معنی نلري چې ګوندې مونږ به خپلو ټولو کارونو کښې بریالي کیږو، بلکه په هغه څه باندې چې د هغه په خاطر یې کوو. هغه زمونږ سره مل دی ترڅو د درد او کړاو په وخت کښې مونږ ته جرات، قوت او سلامتي راکړي. د عیسی مسیح په خاطر به زمونږ دغه عذاب او درد د یوې لنډې مودې دپاره وي. وروسته به په خوشحالۍ او ابدي ژوند کښې د هغه سره یو... د دایمي درد او عذاب څخه به خلاص یو.

"دا شیان مې تاسو ته د دې دپاره وویل چې تاسو زما سره په یووالي کښې په سوله کښې اوسئ، تاسو به په دنیا کښې تکلیف او زحمت ولرئ، خو زړور اوسئ، زه په دنیا باندې

بریالی شوی یم" (یوحنا ۱۲: ۳۳).

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۶. یوحنا ۱۲: ۳۳ پنځه ځلې ولولئ.

۷. دنیا څه وایي؟

أ) خپل ځان هیر کړئ، نورو ته خلاصون ورکړئ.

ب) خپل ځان او نورو ته خلاصون ورکړئ.

ج) نور هیر کړئ او خپل ځان وژغورئ.

۸. مسیح خپلو پیروانو ته څه وویل چې دنیا به د هغوی سره څه کوي؟

أ) هغوی به رهبران وي.

ب) هغوی به د عذاب سره مخ شي.

ج) د ښوونکو په توګه به قبول شي.

۹. د هغو خلکو د پاره چې د مسیح پیروي کوي کوم بریالیتوب شته؟

أ) په خپله لاره به ځي.

ب) د مشکلاتو څخه به تیښته کوي.

ج) د خدای اراده به پوره کوي که دا کار د هغوی د ځان په بیه هم تمام شي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

**۵**- ب) هر څه چې مونږ د عیسی په نوم وغواړو خدای به یې راکړي.

۱- ب) پاراکلیت

۷- ج) نور هیر کړه او خپل ځان وساته.

۲- الف) هغه زمونږ څخه دفاع کوي، مونږ ته مشوره راکوي او مرسته راسره کوي.

۳- ب) کله چې روح القدس مونږ ته وښايي چې څومره خراب خلک یو.

۹- ج) په هر قیمت چې وي د خدای اراده باید پوره کړو.

# ستاسو یادداشت

اولسم لوست

# يوحنا، اولسم فصل

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ عيسى د خپلو شاګردانو دپاره دعا کوي
- ❖ هغه خلک چې ماته دې راکړي دي
- ❖ هغوی وساته
- ❖ کيداى شي چې هغوی سره يو شي
- ❖ چې زما سره وي

## عيسى د خپلو شاګردانو دپاره دعا کوي

يوحنا ۱۷ ولولئ

هغه خلک چې ماته دې راکړي دي

یوحنا ۱۷: ۱- ۸ ولولئ

د یوحنا ۱۷ فصل هغه دعا ده چې عیسی د خپلې ګرفتارۍ څخه مخکښې خپلو شاګردانو ته وکړه. هغه خپل د تعلیم او وعظ کار سرته رسولی ؤ. د هغه په وسیله د هغه پیروانو خدای پیژندلی ؤ. عیسی هغوی ته د تل ژوندون وربخښلی ؤ.

"د ابدي ژوندون معنی دا ده چې هغوی تا یعنې یوازینی حقیقي خدای وپیژني او عیسی مسیح چې تا رالیږلی ؤ، وپیژني" (یوحنا ۱۷: ۳).

اوس هغه وخت رارسیدلی ؤ چې عیسی د دنیا د ګناهونو په خاطر مړ شي. هغه کسان چې خدای پلار هغه ته ورکړي ؤو، خدای ته هدیه کړل. هغوی لا تر اوسه پورې په دنیا کښې ؤو، خو هغوی نور د بدکارانو او بې دینه خلکو څخه نه ؤو. هغوی د دنیایي خوشحالیو، قدرت او شهرت دپاره نه بلکه د خدای دپاره ژوند کاوه.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱. یوحنا ۱۷: ۳ په یاده یاد کړئ.

## هغوی وساته

یوحنا ۱۷: ۹- ۲۰ یوځل بیا ولولئ

عیسی د هغو خلکو په باره کښې خبرې کولې چې خدای هغوی د دې دنیا خلک بللي ؤو. د عیسی شاګردان روحاني یا

پاک پیدا شوي نه ؤو. هغوی د نورو په شان ګناهکاران او عادي خلک ؤو. خو هغوی د ګناه څخه لاس اخیستی ؤ او په عیسی مسیح باندې یې ایمان راوړی ؤ او د هغه پیروي یې کوله. په دې ډول هغوی خلاصون وموند.

عیسی پوهیده چې خپل پیروان به پریږدي، هغه خدای ته دعا وکړه چې هغوی په خپله پناه کښې وساتي. د هغه د شاګردانو څخه یو تن چې یهودا اسخریوطي نومیده، په داسې حال کښې چې عیسی ورسره ؤ ورک شو. عیسی پوهیده چې کله هغه خپل شاګردان پریږدي، نو هغوی به وسوسه شي او هغه څه چې هغه ورته زده کړي ؤو هغه به هیر کړي او بیرته خپل زوړ ژوند ته رجوع وکړي.

شیطان نشي کولی چې مونږ د خدای څخه واخلي او د هغه څخه مو لیرې کړي، خو کوښښ کوي چې مونږ د خدای د لارې څخه بې لارې کړي او بیرته د ګناه په لور روان شو. کله چې تاسو تصمیم نیسئ چې د مسیح په خاطر ژوند وکړئ ، نو شیطان تاسو وسوسه کوي چې بیرته خپل تیر ژوند ته وروګرځئ. دا یاد ساتئ چې مسیح ستاسو دپاره دعا کړې ده او اوس هم دعا کوي. ۲۰ آیت ولولئ.

"او له دې کبله هغه قدرت لري هغه ټول خلک چې د هغه په وسیله دخدای حضور ته راځي هغوی به په بشپړه توګه خلاصون ومومي، ځکه چې هغه تل ژوندی دی او د هغوی په خاطر به شفاعت کوي" (عبرانیان ۷: ۲۵).

عیسی د خدای پلار څخه نه غواړي چې مونږ د دې دنیا څخه واخلي ترڅو آزار او تکلیف ونه وینو. مونږ وظیفه لرو چې باید اجرا یې کړو. هغه مونږ د خلاصون د پیغام سره دنیا ته رالیږلي یو.

په دې فصل کښې عیسی څوځو ځلې خپلو پیروانوته د خدای د حقیقي کلام په باره کښې تعلیم ورکړ. ۸، ۱۴، ۱۷ آیاتونه. په اولسم آیت کښې مونږ ته ویل شوي دي چې مونږ د کلام په وسیله د خدای سره اړیکې لرو.

همدارنګه عیسی وویل: لکه څنګه چې خدای هغه دنیا ته راولیږه هغه هم خپل پیروان لیږلي دي. عیسی د دې دپاره راغی چې ورک شوي ولټوي او خلاصون ورته ورکړي. نو مونږ هم باید دمسیحیانو په توګه کوښښ وکړوچې نور خلک د هغه خواته راجذب کړو. مونږ باید هغوی ته په کلیساګانو، مکتبونو او رادیو له لارې د خدای کلام ورسوو. زمونږ ژوند باید یو حقیقي مسیحي ژوند وي ترڅو خلکو ته د ژوندکولو لاره وښایو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲. شیطان د مسیحیانو سره څنګه سلوک کوي؟

أ) هغوی یوازې پریږدي.

ب) کوښښ کوي چې خدای هیر کړي او هغه پریږدي او د ګناه په لور روان شي.

ج) هغوی د خدای څخه لیرې کوي.

۳. زمونږ عمل باید د دنیا په نسبت څنګه وي؟
أ) باید دعا وکړو چې هغه پرېږدو.
ب) مونږ باید په هغې کښې ژوند وکړو او د هغې د خوشحالیو څخه خوند واخلو.
ج) مونږ باید د خدای کلام د دنیا خلکو ته ورسوو.
۴. د عیسی مسیح پیروان څرنګه دنیا ته واستول شول؟
أ) د هغو پسونو په شان چې شپون نلري، ځکه چې عیسی مسیح نشته.
ب) لکه څنګه چې خدای مسیح واستاوه، ترڅو ورک شوي ولټوي او هغوی لوري ته راهنمایي کړي.
ج) د کلیسا د غړو په شان چې خلک په کلیسا کښې د شاملیدلو په خاطر رابولي.

## کیدای شي چې هغوی سره یو شي

### یوحنا ۱۷:۲۰- ۲۳ یوځل بیا ولولئ

عیسی یوازې د خپلو شاګردانو دپاره چې په هغه زمانه کښې یې ژوند کاوه، دعا نه کوله بلکه د هغو ټولو خلکو دپاره چې په راتلونکي کښې به ایمان راوړي دعا کوله، یعنې ستاسو دپاره. عیسی دعا وکړه چې د هغه ټول پیروان دې سره یو وي. د دې خبرې معنی دا ده چې هغه غوښتل چې هغوی یو د بل سره په یووالي کښې ژوند اوکار وکړي. د مسیحیانو دپاره دا ښه نه ده چې خپل یووالی له لاسه ورکړي او د یو او بل په ضد کار

وکړي.

کلیسا ګانې ډیرې دي، خو د هغو غړي هغه وخت کولی شي په سوله اوسلامتیۍ کښې ژوند وکړي چې مسیح ته د اولیت حق ورکړي. ځینې خلک داسې نظر لري چې ټولې کلیساګانې باید سره یو شي، خو د دې کار عملي کیدل به کیدونکی نه وي ځکه چې مختلفې کلیساګانې د مختلفو عقیدو او مختلفو شیانو څخه پیروي کوي.

مونږ نشو کولی د هغې کلیسا غړي شو کوم چې د عیسی په تعلیم باندې عمل نه کوي. مونږ په دې عقیده لرو چې عیسی د خدای زوی دی او د پیغلې مریمې څخه پیدا شوی دی، د هغه مرګ زمونږ دپاره د ګناهونو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره ده. د دې دپاره چې سره یو اوسو، باید پورته یاد شوي اصول په پام کښې ونیسو.

"ایا دوه کسه کولی شي چې سره په یوه لاره لاړ شي، ترڅو چې یو د بل سره هم نظره شوي نه وي؟" (عاموس ۳: ۳)

مسیح دعا وکړه چې مونږ باید په هغه او خدای پلار کښې سره یو اوسو. د مسیح سره زمونږ اوسیدل د مسیحي یووالي بنسټ جوړوي. که چیرې تاسو مسیحي مشارکت او روحانې مرستې ته اړتیا لرئ نو د هغې کلیسا سره یوځای شئ چې ایمان ولري، تعلیم ورکوي او د مقدس کتاب پیروي کوي، یعنې هغه کلیسا چې په هغې کښې د مسیح حضور حقیقت ولري او احساس شي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۵. مسيح د چا دپاره دعا وکړه؟
أ) د دولسو شاګردانو دپاره.
ب) د کليسا د ټولو غړو دپاره چې په عين کليسا کښې ګډون وکړي.
ج) د هغو ټولو خلکو دپاره چې په مسيح باندې ايمان لري، حتى هغه خلک چې اوس ايمان راوړي.
۶. ايا د مسيح د دعا څخه چې ستاسو دپاره يې کوي خوشحاليږئ؟ ............د هغه د دعا په خاطر ورڅخه شکر ادا کړئ.
۷. کله چې مسيح د خپلو پيروانو دپاره دعا وکړه چې سره يو وي ايا د هغې مطلب دا ؤ چې ټول مسيحيان د يوې کليسا پورې اړه لري.
أ) هو، بايد مختلفې کليساګانې موجودې نه وي.
ب) نه، مسيحيان بايد په يوې کليسا پورې تړلي نه وي.
ج) نه، ځکه چې ځينې کليساګانې په هغو ټولو شيانو باندې عقيده نه لري کوم چې مسيح د هغو تعليم ورکړی دی.
۸. د مسيحيانو ترمنځ د يووالي دپاره دعا وکړئ.

## چې زما سره وي

**یوحنا ۱۷: ۲۴- ۲٦ یوځل بیا ولولئ**

مسیح خپله دعا په دې جملې سره پای ته ورسوله چې غواړي پیروان یې په هغه ځای کښې اوسي چیرته چې هغه وي. یوه ورځ به لاړ شو چې د هغه سره اوسو. د مکاشفې کتاب (د مقدس کتاب وروستنی کتاب) وایي چې هغه ټول خلک چې خلاصون یې موندلی دی هغوی به د خدای د تخت په مخ کښې ودریږي او د مسیح د حمد سندرې به وایي، یعنې د هغه وری دپاره چې قرباني شوی ؤ.

مونږ نه پوهیږو چې کله به دعوت کیږو چې د څښتن سره واوسیږو. تر هغه وخته پورې داسې ژوند وکړو چې وکولی شو خدای خوشحاله کړو. په دې ډول به د مرګ څخه نه ویریږو. ځکه مونږ پوهیږو چې مرګ یوازې یوه دروازه ده چې د هغې له لارې مونږ دخدای حضور ته ورداخلیږو.

مسیح یوازې هغه خلک د ځان سره بیایې چې خلاصون یې موندلی وي. بې ایمانان به هیڅکله د هغه سره نه وي. ایا تاسو نه غواړئ چې همیشه د مسیح سره اوسئ؟

"په هماغه وخت کښې چې د خدای د فرمان چیغه او د فرښتو د مشر آواز او د شپیلۍ آواز واوریدل شي، په خپله څښتن به د آسمان څخه راکوز شي او اول به هغه خلک راپاڅي چې د مسیح په ایمان کښې مړه شوي دي او بیا هغه خلک چې زمونږ له جملې څخه ژوندي پاتې شوي وي د هغوی سره به

یوځای په وریځو کښې پورته کړای شي ترڅو د څښتن سره په فضا کښې ملاقات وکړي او په دې ډول په مونږ تل د څښتن سره اوسو. نو تاسو باید یو او بل په دې خبرو باندې تشویق کړئ" (اول تسالونیکیان ۴: ۱۲ - ۱۸).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۹. عیسی څنګه خپله دعا پای ته ورسوله؟

أ) په دې وینا سره چې هغه غواړي چې په هر ځای کښې چې دی وي نو پیروان به یې هم ورسره وي.

ب) په دې وینا چې خلک به د مرګ څخه وروسته یوه بله موقعه هم ولري چې خپل ځان وژغوري.

ج) په دې وینا چې دنیا څښتن پیژانده.

۱۰. فرض کړئ چې اوس مړه کیږئ، ایا خدای ته به ورځئ؟

أ) ډاډمن نه یو.

ب) نه، ځکه چې خلاصون مې موندلی نه دی.

ج) هو، ځکه چې په عیسی مسیح باندې ایمان لرم چې هغه زما خلاصوونکی دی.

که چیرې نښئ کولی چې "ج" په نښه کړئ، نو تاسو باید سمدستي په همدې ځای کښې دعا وکړئ، د عیسی مسیح څخه وغواړئ چې ستاسو ګناهونه وبخښي او تاسو ته خلاصون درکړي. په هغه صورت کښې به تاسو هم ډاډمن شئ چې د

څښتن سره به اوسئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

**۵**- ج) د هغو ټولو کسانو دپاره چې په هغه باندې ایمان لري، حتی هغه خلک چې اوس ایمان راوړي.
**۲**- ب) هغه کوښښ کوي چې هغوې د خدای له لارې څخه بې لارې کړي او بیرته ګناه ته وروګرځي.
**۷**- ج) نه، ځکه چې ځینې کلیساګانې په هغو شیانو باندې عقیده نلري کوم چې عیسی مسیح د هغو تعلیم ورکړی دی.
**۳**- ج) مونږ باید د خدای کلام دنیا ته ورسوو.
**۹**- الف) په هغې وینا چې هغه غواړي په کوم ځای کښې چې دی اوسیږي د هغه پیروان هم ورسره اوسي.
**۴**- ب) لکه څنګه چې خدای عیسی واستاوه چې ورک شوي ولټوي او هغوی د هغه خواته راواړوي.

اتلسم لوست

# یوحنا، اتلسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د عیسی بندي کیدل
- عیسی د حنا په مخ کښې
- د پطروس منکریدل
- مشر کاهن د عیسی څخه پوښتنې کوي
- د دوهم ځل دپاره د پطروس منکریدل
- عیسی د پیلاطوس په مخ کښې
- د عیسی د وژلو حکم

## د عیسی بندي کیدل

یوحنا ۱۸: ۱- ۱۱ ولولئ

یهودا (اسخریوطي) عسکرو ته لاره وښودله چې عیسی ونیسي. هغه څنګه داسې بد کار کولی شو؟ کله چې یو نفر د عیسی څخه مخ اړوي، نو شیطان ته اجازه ورکوي چې په هغه باندې اختیار ولري.

د څلورم څخه تر شپږم آیت پورې یو ځل بیا ولولئ. کله چې عیسی وویل چې "زه یم" عسکر په ځمکه باندې وغورزیدل. هغوی نشو کولی چې هغه ونیسي، ترڅو هغه خپله ورته اجازه ورکړې نه وای. خو عیسی د تیښتې کوښښ ونکړ. هغه پوهیده چې دا د خدای پلان ؤ چې هغه باید زمونږ دګناهونو په خاطر مړ شي.

عیسی عسکرو ته وویل چې د ده ملګرو ته دې اجازه ورکړل شي چې لاړ شي، ځکه چې عسکر یوازې د هغه پسې ګرځي. حتی هغه وخت چې عیسی د مړ کیدو په حال کښې ؤ د خپلو پیروانو په باره کښې یې فکرکاوه، چې داسې نشي چې د ده شان آزار او تکلیف ووینې.

پطروس تیار ؤ چې د خپل ښښتن په خاطر وجنګیږي، هغه خپله توره راوویستله او د مشر کاهن د نوکر غوږ یې پرې کړ. لوقا وایي چې عیسی د هغه غوږ بیرته روغ کړ. کیدای شي په همدې دلیل عسکرو پطروس ته جزا ورنکړه.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. د جتسماني په باغ کښې د یهودا په وسیله عسکرو ته د عیسی تسلیمول مونږ ته کوم درس را زده کوي؟
أ) باید په باغ کښې دعا ونکړو.
ب) کله چې مونږد مسیح څخه خپل مخ اړوو نو شیطان ته اجازه ورکوو چې په مونږ باندې خپل قدرت وچلوي.
ج) هغه په عسکرو باندې هیڅ اختیار نه درلود.

۲. کله چې د عیسی د نیولو دپاره عسکر راغلل هغه ولې دا هڅه ونکړه چې وتښتي او ځان د نیولو څخه خلاص کړي؟
أ) هغه پوهیده چې هغه وخت چې خدای ټاکلی ؤ چې هغه باید مړ شي رارسیدلی دی.
ب) هغه په دې انتظار کښې ؤ چې شاګردان به یې ورڅخه دفاع وکړي.
ج) هغه عسکرو باندې هیڅ اختیار نه درلود.

۳. پطروس په باغ کښې څه وکړل؟
أ) ټوله شپه یې دعا وکړه.
ب) هغه وغوښتل چې د آسمان څخه دې اور رانازل شي.
ج) د مشر کاهن غوږ یې پرې کړ.

## عیسی د حنا په مخ کښې

یوحنا ۱۸: ۱۲- ۱٤ ولولئ

حنا او د هغه زوم قیافا دواړو په مختلفو وختونو کښې د مشر کاهن د مقام وظیفې سرته رسولې. هغوی دواړو پلان جوړ کړی ؤ چې عیسی ووژني. هغوی په عیسی باندې تور ولګاوه چې هغه یو خطرناکه انقلابي رهبر دی. هغوی ویل که چیرې عیسی ونه وژل شي نو د روم حکومت به خپلو عسکرو ته امر وکړي چې ټول خلک ووژني. خو دا خبره نه وه. دا یوازې یوه لاره وه چې هغوی کولی شول چې د هغې په وسیله نور مذهبي رهبران دې ته اړ کړي چې د عیسی د مرګ غوښتنه وکړي.

قیافا داسې ویلي ؤو چې دا به ډیره ښه وي چې یو نفر د ټول قوم په ځای مړ شي. خو هغه په دې نه پوهیده چې هغه د عیسی د مرګ په هکله یو مهم حقیقت بیانوي. عیسی زمونږ د ګناهونو قربانې شو ترڅو مونږ ته جزا رانکړل شي.

کیدای شي چې تاسو په دې خبره حیران شئ چې ولې مسیح نشي کولی چې بې له خپل مرګ څخه مونږ ته خلاصون راکړي. خدای نیک دی. هغه د ګناه او ټولو بدو شیانو څخه کرکه کوي. نو څوک چې بد کار کوي باید د خدای څخه لیرې شي. خو څرنګه چې ټول ژوندون او پیښې دخدای له طرفه دي نو هغه څوک چې د هغه څخه لیرې کیږي باید مړ شي.

خدای مونږ ته تعلیم راکړی دی چې ګناه څومره بد شی دی او د هغې نتیجه مرګ دی. د هغې د بخښلو دپاره د قربانۍ

وینې ته ضرورت دی. لکه د پسونو، وریو او غوایانو په شان چې د ګناهکارانو په ځای قرباني کیدل.

"د شریعت په مطابق هرڅه د قربانۍ په وسیله پاکیږي او د وینو د تویدلو څخه پرته د ګناهونو پاکیدل نشته"(عبرانیان ۹: ۲۲).

د حیواناتو قرباني باید بیا بیا تکرار شي په داسې حال کښې چې هغه نشي کولی چې ګناه لیرې کړي. دا فقط موقتي قربانۍ وې ترهغې چې خدای‌خپل زوی زمونږ په خاطر قرباني کړ.

مسیح زمونږ په خاطر خپله وینه توی کړه. که چیرې بل کوم شي مونږ ته خلاصون راکولی شوای نو خدای به هیڅکله خپل یوازینی زوی نه وای پریښی چې زمونږ دګناهونو په خاطرمړ شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴. عیسی ولې باید زمونږ د ګناهونو په خاطر مړ شوی وای؟

أ) ځکه چې یوازې د هغه د وینې د تویدلو په وسیله ؤ چې زمونږ ګناهونه وبخښل شي.

ب) ځکه چې مونږ ټول باید مړه شو، اول مسیح مړ شو ترڅو مونږ ته وښايي چې د مرګ څخه ونه ویریږو.

ج) ځکه هغه غوښتل چې مونږ ته زده کړي چې زمونږ دګناهونو په خاطر باید په مکرره توګه قرباني وشي.

## د پطروس منکریدل

یوحنا ۱۸: ۱۵- ۱۸ ولولئ

یو بل شاګرد چې دلته ورڅخه یادونه شوې ده هغه یوحنا دې، چا چې دغه انجیل لیکلی دی. هغه دا هڅه ونکړه چې دا حقیقت پټ کړي چې هغه د عیسی شاګرد دی او تکلیف یې ونه لیده. خو پطروس چې د هغه په باره کښې فکر کیده چې هغه همیشه تیار دی چې په هر حالت کښې د مسیح په هکله خبرې وکړي، وویریده. هغه وویل چې د مسیح شاګرد نه دی.

دا آسانه خبره ده چې کله د مسیحیانوپه منځ کښې یاست دا ووایئ چې مسیحیان یو. خو کله چې ستاسو شاوخوا خلک د مسیح دښمنان وي، آسانه نه ده. په هغه وخت کښې به څه کوئ؟

"که جیرې څوک په عام محضر کښې اعلان کړي چې زما دی، نو زه به هم په آسمان کښې د خپل پلار په مخکښې هماغسې وکړم. خو که څوک په عام محضر کښې ما رد کړي، نو زه به هم په آسمان کښې د خپل پلار په مخکښې هغه رد کړم" (متي ۱۰: ۳۲- ۳۳).

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۵. که چیرې خلک پوه شي چې تاسو مسیحي یاست، ایا دا به ستاسو دپاره مشکله وي؟ ............ایا له دې څخه ویرېږئ چې وځورول شئ؟ ............ د خدای څخه وغواړئ چې قدرت درته درکړي.

## مشرکاهن د عیسی څخه پوښتنې کوي

یوحنا ۱۸: ۱۹- ۲٤ ولولئ

حنا چې د مشرکاهن د دفتر رهبري یې کوله، دلته د مشر کاهن په نوم یاد شوی دی، په داسې حال کښې قیافا دا وظیفه اجرا کوله. حنا کوښښ کاوه چې عیسی په داسې حال کښې ونیسي چې یو څه ووایي ترڅو هغه په محاکمه کښې د هغه په ضد استعمال کړي، خو عیسی د هغه سوال ته ځواب ورنکړ.

عسکرو عیسی د قیافا کور ته یووړ. هلته یو ځای ؤ چې د مذهبي محکمې "سنهدرین" په نوم یادیده. خو دا محکمه غیر قانوني او پټه وه او د شپې له خوا د عیسی د نیولو سره سمدستي دایره شوې وه. هلته د دې فرصت نه ؤ چې شاهدان راوبلل شي چې د هغه په دفاع کښې خبرې وکړي. په سنهدرین کښې ډیرو خلکو له مخکښې څخه دا پریکړه کړې وه چې عیسی دې ووژل شي. هغوی فقط د دې په خاطر چې دا وښئ چې هغه یې محاکمه کړی دی، داسې یو نمایشي کار وکړ ترڅو وکولی شي د یوې رسمي محاکمې په اساس هغه پیلاطوس ته وسپاري.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۶. حنا ولې د عیسی څخه پوښتنه وکړه؟
أ) ترڅو د هغه په تعلیم باندې پوه شي.
ب) د هغه په باره کښې ښه معلومات پیدا کړي.
ج) کوښښ یې کاوه چې هغه په دام کښې راګیر کړي.

## د دوهم ځل دپاره د پطروس منکریدل

یوحنا ۱۸: ۲۵- ۲۷ ولولئ

د پطروس څخه درې ځلې پوښتنه وشوه چې هغه هم دعیسی د پیروانو څخه دی او هغه درې ځلې د مسیح څخه منکر شو. لکه څنګه چې مسیح ویلي ؤو، د چرګ د آذان څخه مخکښې به هغه درې ځلې منکر شي. کله چې عیسی هغه ته وکتل، پطروس په هغه وخت کښې ولیدل چې هغه د څښتن څخه څومره لیرې شوی دی. هغه په ژړا بیرون ووت او څه چې هغه کړي ؤ د هغې څخه پښیمان شو.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۷. پطروس د مشر کاهن په کور کښې څه وکړل؟
أ) د مشر کاهن د نوکر غوږ یې پرې کړ.
ب) درې ځله یې د خپل څښتن څخه انکار وکړ.
ج) هغه وویل چې همیشه به د څښتن پیروي کوي.

## عیسی د پیلاطوس په مخ کښې

یوحنا ۱۸: ۲۸- ۳۸ ولولئ

سنهدرین دا حق نه درلود چې څوک په مرګ باندې محکوم کړي،نو له همدې کبله یې عیسی د روم والي پیلاطوس ته یووړ. هغوی په عیسی باندې دا تور ولګاوه چې هغه غواړي چې په خپل نوم یوه پادشاهي جوړه کړي. دا یو خیانت ګڼل کیده، یو داسې خیانت چې د هغه سزا مرګ وه.

عیسی ددې کوښښ ونکړ چې د خپلو تورونو په مقابل کښې د خپل ځان څخه دفاع وکړي. هغه پیلاطوس ته وویل چې هغه یو پادشاه دی، خو د هغه پادشاهي د دې دنیا پادشاهي نه ده. هغه وویل چې د هغه پادشاهي یوه روحاني پادشاهي ده چې هر څوک چې هغه قبوله کړي په هغې کښې به ژوند وکړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. کله چې پیلاطوس پوښتنه وکړه چې ایا هغه پادشاه دی، عیسی څه ځواب ورکړ؟

أ) نه، زه په سهوې سره محکوم شوی یم.

ب) زما پادشاهي د دې دنیا پادشاهي نه ده.

ج) زما پادشاهي د رومیانو د پادشاهۍ څخه ډیره لویه ده.

۹. ایا عیسی مو د خپل ژوندون دپادشاه په توګه قبول کړی دی؟

## د عیسی د وژلو حکم

یوحنا ۱۸: ۳۸- ٤۰ ولولئ

د تحقیق په ټوله موده کښې پیلاطوس د عیسی د محاکمه کولو دپاره کوم دلیل پیدانکړ. هغه دا موضوع خلکوته وویله، خو هغوی لا زیاتې چیغې ووهلې چې عیسی په صلیب باندې میخ کړئ. پیلاطوس د دې وړاندیز په وړاندې کولو سره چې باراباس چې یو غل ؤ او یا عیسی کوم یو خوشې کړي، خلکو ته وخت ورکړ چې د دوی څخه یو انتخاب کړي. اوس هم خلک د عیسی په نسبت ګناه او د دنیایي خواهشات خوښوي. ستاسو انتخاب څه شی دی؟ د مسیح سره به څه کوئ؟

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۰. د پیلاطوس قضاوت څه ؤ؟

أ) هغه وویل چې عیسی ګناهکار دی، باید مړ شي.

ب) ویې ویل چې عیسی بې ګناه دی.

ج) عیسی د باراباس سره په زندان کښې واچوئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۲- ج) کوښښ یې کاوه چې هغه په دام کښې راګیر کړي.

۱- الف) کله چې مونږ د هغه څخه مخ اړوو نو شیطان ته په خپل ځان باندې اختیار ورکوو.

۷- ب) هغه د خپل ښښتن څخه درې ځله انکار وکړ.

۲- الف) هغه پوهیده چې دا د هغه د مرګ نیټه ده چې خدای ټاکلې ده.
۸- ب) زما پادشاهي د دې دنیا پورې تعلق نلري.
۳- ج) هغه د مشر کاهن د نوکر غوږ پرې کړ.
۱۰- ب) هغه وویل چې عیسی بې ګناه دی.
۴- الف) ځکه چې یوازې د وینې د تویدلو په وسیله زمونږ ګناهونه په مکمله توګه پاکیږي.

## ستاسو یادداشت

نولسم لوست

# يوحنا، نولسم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د عيسى د وژلو حکم
- په صليب باندې د عيسى ميخ کول
- د عيسى مړينه
- د عيسى په پوښتۍ کښې د نيزې وهل
- د عيسى ښخول

## د عيسى د وژلو حکم

يوحنا ١٨: ٣٩- ٤٠ او ١٩: ١- ١٦ ولولئ

پيلاطوس غوښتل چې عيسى آزاد کړي، خو هغه دخلکو شخه ويريده. هغوی هغه ته اخطار ورکړی ؤ چې که چيرې هغه

څه چې دوی یې غواړي ونکړي نوهغوی به امپراطور ته شکایت وکړي. په هغه صورت کښې د هغه مقام او حتی د هغه ژوند د خطر سره مخامخ کیده. هغه نه غوښتل چې یو بې ګناه سړی محکوم کړي. خو د هغه خپل ژوند د دې موضوع د رښتینتوب یا غلط والي څخه ډیر مهم ؤ. وروسته بیا پیلاطوس حکم وکړ چې عیسی دې د جنایت کارانو په شان په صلیب شي.

د پیلاطوس په شان هر چا چې د عیسی په باره کښې ښه خبر اوریده نو پریکړه به یې کوله چې د هغه سره څه وکړي. ځینو په دې خاطر چې خلک به ورته څه وایي او یا څه کوي، ویریږي چې عیسی د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړي. دا چې خدای زمونږ سره د قضاوت په ورځ څه کوي دا په دې پورې اړه لري چې مونږ اوس د مسیح سره څنګه سلوک کوو.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. پیلاطوس ولې عیسی خوشې نکړ؟

أ) ځکه چې هغه ګناهکار ؤ.

ب) د خلکو څخه وویریده.

ج) هغه غوښتل چې باراباس خوشې کړي.

## په صلیب باندې د عیسی میخ کول

یوحنا ۱۹: ۱٦- ۲۷ ولولئ

عیسی د دوه جنایتکارانو په منځ کښې په صلیب باندې

میخ کړای شو. د هغه په سر باندې ئې یوه لوحه وځړوله چې په هغې باندې داسې لیکل شوي ؤو: ناصري عیسی د یهودو پادشاه! دا جمله د مشر کاهن خوښه نشوه خو پیلاطوس د هغې بدلول رد کړل.

حتی په هغه وخت کښې چې عیسی د درد او کړاو په حال کښې ؤ، د خپل ځان په نسبت یې نورو ته زیاته توجه کوله. هغه د خپل مور سرپرستي خپل شاګرد یوحنا ته وسپارله. د انجیل د نورو لیکنو څخه مونږ پوهیږو چې هغه حتی د هغو خلکو دپاره چې هغه یې په صلیب باندې میخ کاوه هم دعا وکړه چې وبخښل شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲. په هغې لوحه کښې چې پیلاطوس د عیسی په سر باندې وځړوله څه لیکل شوي ؤو؟
   أ) ناصري عیسی یعنې هغه څوک چې د یو مجرم په توګه پیژندل شوی دی.
   ب) ناصري عیسی یعنې هغه څوک چې د موسی شریعت یې نه دی مراعت کړی.
   ج) ناصري عیسی د یهودو پادشاه.

## د عیسی مړینه

یوحنا ۱۹: ۲۸- ۳۰ ولولئ

کله چې عیسی په صلیب باندې مړ شو، د زړې لوظنامې

ټولې پیشګویانې چې د عیسی د مرګ په باره کښې چې زمونږ د ګناهونو په خاطر شوې وې، پوره شوې. د پیغمبرانو ټولې پیشګویانې چې سلګونه کالونه مخکښې شوې وې په رښتیا بدلې شوې، حتی د هغو عسکرو په باره کښې چې د هغه په کالیو باندې یې پچه اچولې وه او هغه اسفنج چې هغوی په سرکه کښې لوند کړی ؤ او هغه ته یې ورکړه، په پخوانیو کتابونو کښې لیکل شوي وو.

"د خوارو په ځای یې راته زهر راکړل او د اوبو په ځای یې راباندې سرکه وڅښله" (زبور ۲۹ : ۲۱).

عیسی وویل: "پوره شوه" یعنې هغه وظیفه چې خدای ورته سپارلې وه پوره شوه. کله چې هغه مړشو ، نو زمونږ د خلاصون بدله ادا شوه.

په رښتیا سره همدا زمونږ ګناهونه ؤو چې د عیسی د مرګ سبب شول. نو بیا مونږ نشو کولی چې ګناه د هغو خلکو په غاړه واچوو چې د مسیح سره اوسیدل، یا د پیلاطوس په غاړه، یا د هغو عسکرو په غاړه چې عیسی یې په صلیب باندې میخ کړ. دا ګناه وه یعنې زمونږ ګناه چې عیسی یې په صلیب باندې میخ کړ ترڅو مونږ ته خلاصون راکړي. په دې موضوع باندې په پوهیدلو سره مونږ د خپلو ګناهونو په خاطر افسوس کوو. مونږ نه غواړو هغو کارونو ته دوام ورکړو کوم چې د عیسی د مړینې سبب شول. نو مونږ د خدای څخه غواړو چې زمونږ ګناهونه وبخښي. مونږ دا خبره منو چې عیسی زمونږ د خلاصون سبب شو او زمونږ په ځای مړ شو.

"مسیح په خپله زمونږ د ګناهونو بار په خپلو اوږو واخیست او هغه یې صلیب ته یوړل ترڅو مونږ د خپلې ګناه په نسبت مړه شو او د عدالت دپاره ژوند وکړو ځکه چې د هغه د زخمونو په وسیله مونږ شفا وموندله" (اول پطروس ۲: ۲۴).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. کله چې مسیح وویل "یوره شوه" د دې خبرې څخه مطلب څه وو؟
أ) اوس یو دنیوي حکومت جوړیږي.
ب) د خلاصون کار پای ته ورسیده.
ج) د پادشاهۍ دپاره د هغه ټول امیدونه له منځه لاړل.
۴. د عیسی د مرګ په خاطر څوک ملامت دی؟
أ) یوازې مشر کاهن
ب) یوازې سنهدرین، پیلاطوس او هغه عسکر چې هغه یې په صلیب باندې میخ کړی ؤ.
ج) مونږ او ټول خلک چې ګناه یې کړې ده، زمونږ ګناهونه د دې سبب شول چې هغه مړ شي.
۵. نو بیا مونږ باید څه وکړو؟
أ) مونږ باید په محکمه کښې څوک ملامته نکړو.
ب) هغه خلک چې عیسی یې وژلی دی او هم د هغوی راتلونکی نسل ملامته کړو.

ج) د خپلو ګناهونو په خاطر باید افسوس وکړو
او د خدای څخه وغواړو چې مونږ وبخښي.

## د عیسی په پوښتۍ کښې د نیزې وهل

یوحنا ۱۹: ۳۱- ۳۷ ولولئ

مصلوب کول، یو دردناکه او دوامداره اعدام ؤ. عسکرو به د محکوم شوي نفر پښې ماتولې چې ژر مړ شي. هغوی عیسی ولید چې مړ دی خو د هغه هډوکي یې مات نکړل. دا د یوې بلې پیشګویئ پوره کیدل ؤ.

د عیسی په پوښتۍ کښې د نیزې وهل د هغو پیشګویانو له جملې څخه یوه پیشګوئي وه چې باید پوره شوې وای، د وینو او اوبو هغه چینه چې جاري شوه، زمونږ ګناهونه یې ومینځل. .

"په هغه وخت کښې به د داود د کورنۍ او د اورشلیم د خلکو دپاره چینې وبهیږي، یعنې هغه چینه چې هغوی به د ټولو ګناهونو او ناپاکیو څخه پاک کړي" (زکریا ۱۳: ۱).

د هغه د زوی یعنې عیسی مسیح وینه مونږ د هرې ګناه څخه پاکوي" (اول یوحنا ۱: ۷).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

٦. اول یوحنا ۱ : ۷ له یاده یاد کړئ.

۷. زکریا ۱۳ : ۱ درې ځلې ولولئ.

## د عیسی ښخول

**یوحنا ۱۹: ۳۸- ٤۲ ولولئ**

یوسف چې د رامه څخه ؤ او نیکودیموس دواړه د سنهدرین د رهبرانو او دایمي غړو له جملې څخه ؤو. هغوی د عیسی د وژلو په هکله رایه نه وه ورکړې. هغوی ترهغه وخته پورې د عیسی د پټو پیروانو څخه ؤو، او هغوی له دې څخه ویریدل چې آزادانه ووایي چې دوی ایمانداران دي.

کله کله د ځینو پیژندل شویو خلکو چې په مهمو اجتماعي مقامونو کښې وي، مشکله ده چې خپله ایمانداري ښکاره کړي. هغوی په دې شرمیږي چې هغو کلیساګانو ته لاړ شي چې په هغو کښې اکثره غریب خلک سره راټول شوي وي. هغوی فکر کوي چې که چیرې خلک پوه شي چې هغوی عیسویان شوي دي نو کیدای شي چې خپله وظیفه له لاسه ورکړي. مګر خدای یوسف او نیکودیموس ته جرات ورکړ چې د عیسی مړی وغواړي او هغه ښخ کړي، هغوی خپله مینه او محبت د عیسی په مقابل کښې وښودله. او په دې سره یوه بله پیشګویي پوره شوه: "د مسیح مړی به د شتمنو خلکو په منځ کښې وي."

د هغه ځای دخلکو رواج د مړي د ښخولو په اړوند داسې ؤ

چې مړی به یې په یوه تکه کښې چې خوشبویي په ورباندې وهل شوې وه تاو کړ او په یو غار کښې چې د تاقچې په شان به ؤ او د یوې غونډۍ په یوه برخه کښې چې کیندل شوې به وه، ښخاوه. د انجیل د نورو ویناو څخه پوهیږو چې د عیسی مړی د رامه اي یوسف په قبر کښې ښخ کړای شو.

څرنګه چې وخت کم ؤ او عیسی دماښام په وخت کښې مړ شوی ؤ، نو کوم تیاری چې لاژم ؤ ونه نیول شو او د فسح اختر د لمر پریواته په وخت کښې شروع کیده، نو د عیسی مړی یې د ښخولو د مراسمو د په ځای کولو څخه پرته په قبر کښې کیښود.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. د عیسی په مړي یې څه وکړل؟
- أ) یوسف او نیکودیموس هغه ښخ کړ.
- ب) شاګردانو یې هغه ښخ کړ.
- ج) په صلیب باندې پاتې شو.

۹. د ښخولو مراسم ولې سرته ونه رسیدل؟
- أ) د عیسی پیروان وویریدل.
- ب) عیسی هغه وخت مړ شو چې د فسحې اختر شروع شو او د لمر پریواته څخه وروسته چا کار نه کاوه.

ج) د هغه له شاګردانو سره دومره پيسې نه وې چې د هغه د ښخولو دپاره د اړتيا وړ شيان واخلي.

۱۰. د هغو خلکو دپاره دعا وکړئ کوم چې په پټه د عيسی عبادت کوي، چې خدای ورته دا جرات ورکړي چې په ښکاره د هغه عبادت وکړي.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

**۴**- ج) مونږ او نور خلک چې ګناه يې کړې ده، زمونږ دغو ګناهونو عيسی مړ کړ.

۱-ب) هغه د خلکو څخه ويريده.

**۵**- ج) مونږ بايد د خپلو ګناهونو دپاره افسوس ښکاره کړو او د خدای څخه وغواړو چې مونږ وبخښي.

۲- ج) ناصري عيسی، د يهوديانو پادشاه.

۸- الف) يوسف او نيکوديموس هغه ښخ کړ.

۳- ب) د خلاصون کار پای ته ورسيد.

**۹**- ب) عيسی د سبت د شروع سره سم مړ شو او هيچا نشو کولی چې د لمرپريواته څخه وروسته کار وکړي.

# ستاسو یادداشت

شلم لوست

# یوحنا، شلم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ خالي قبر
- ❖ مریم مجدلیه ته د عیسی ښکاره کیدل
- ❖ شاګردانو ته د عیسی ښکاره کیدل
- ❖ عیسی او توما
- ❖ د دې کتاب د لیکلو مقصد

## خالي قبر

یوحنا ۲۰: ۱- ۱۰ ولولئ

مخکښې له دې چې عیسی په صلیب شي، هغه څو وارې خپلو شاګردانو ته ویلي ؤو چې هغه به ووژل شي. همدارنګه

هغه خپل شاګردان په دې باندې پوه کړي ؤو چې هغه به بیرته راژوندی کیږي. خو کله چې عیسی په رښتیا سره مړ شو نو شاګردانو یې دا موضوع هیره کړې وه چې هغه به بیا راژوندی شي.

د انجیل د نورو لیکونکو د لیکنو څخه پوهیږو چې مریم مجدلیه د څو نورو ښځو سره قبر ته راغلل. هغوی غوښتل چې د رواج په مطابق یو څه خوشبویه دوا د عیسی په مړي باندې ووهي. هغوی ولیدل چې هغه لویه تیږه د هغه د قبر څخه لیرې شوې ده او قبر خالي دی. مریم په منډه د عیسی شاګردانو ته ورغله او هغوی ته یې دا موضوع وویله. په داسې حال کښې چې نورې ښځې د قبر شاته ولاړې وې یوه فرښته هغوی ته ښکاره شوه او ویې ویل چې عیسی بیرته ژوندی شوی دی. -

پطروس او یوحنا لاړل چې دا موضوع له نژدې څخه ووینې. هغوی هم خالي قبر ولید یوازې هغه تکه چې عیسی په کښې تاو کړای شوی ؤ، هلته ولیدل شوه. مریم فکر وکړ چې د عیسی دښمنانو د هغه مړی غلا کړی دی. خو پطروس او یوحنا پوهیدل چې غله دومره وخت نلري چې د عیسی د بدن ټولې تکې په ترتیب سره راټولې کړي اوهغه تکه چې د عیسی سر څخه تاو کړای شوې وه هغه بیرته قات کړي او تاوه یې کړي. په عیسی باندې څه وشول؟ هغوی په داسې حال کښې چې په فکر کښې ډوب ؤو خپل کورته چې په اورشلیم کښې لاړل.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱. مریم مجدلیه ولې د عیسی قبر ته ورغله؟
أ) هغې غوښتل پدې پوه شي چې ایا عیسی په رښتیا سره مړ شوی دی.
ب) غوښتل یې چې د هغه په مړي باندې خوشبویه دوا ووهي.
ج) غوښتل یې چې د باغوان سره خبرې وکړي.

۲. کله چې قبر ته ورورسیدل څه یې ولیدل؟
أ) قبر خلاص ؤ او مړی په کښې نه ؤ.
ب) یوسف او نیکودیموس د هغه بدن غوړاوه.
ج) د هغه دښمنانو هغه غلا کړی ؤ.

۳. کله چې پطروس او یوحنا د قبر سرته ورسیدل څه یې ولیدل؟
أ) عسکر یې ولیدل او د هغو څخه یې پوښتنه وکړه چې څه پیښه شوې ده؟
ب) د باغوان څخه یې پوښتنه وکړه چې د عیسی مړی څه شو.
ج) هغوی ولیدل چې د عیسی کفن په قبر کښې خالي پروت دی.

## مریم مجدلیه ته د عیسی ښکاره کیدل

یوحنا ۲۰: ۱۱- ۱۸ ولولئ

ځینې خلک د یو نفر په مرګ باندې چې هغه ورته ګران وي

ډیر خفه کیږي او د خدای په کلام باندې ایمان نلري. حتی د فرښتو هغه پیغام چې په قبر کښې ښځو ته ښکاره شوې او هغه ښه زیری چې: عیسی د مړو څخه راژوندی شوی دی هغوی ته ورکړ. او شاګردانو ئې بیا هم باور ونکړ. هغوی ته ضروري وه چې په خپله عیسی مسیح ووینې ترڅو دا خبره قبوله کړي چې هغه ژوندی دی.

عیسی هم زمونږ خواته راځي چې مونږ پوه شو چې هغه ژوندی دی. هغه زمونږ اوښکې په خوشحالۍ بدلوي، او مونږ د مریم مجدلیه په شان استوي ترڅو نور خلک د عیسی د بیرته راژوندي کیدلو څخه خبر کړو. ښځې هم لکه د نارینه په شان په دې باره کښې مسئولیت لري. مریم اولنۍ ښځه وه چې د مسیح قیام یې ولید او د هغه پیغام یې ترلاسه کړ.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۴. کله چې عیسی خپل ځان مریم ته په باغ کښې ښکاره کړ هغې ته یې څه وویل؟
أ) چې ونه ژاړي.
ب) بیرته کورته لاړه شي.
ج) چې لاړه شي او شاګردانو ته خبر ورکړي.

## شاګردانو ته د عیسی ښکاره کیدل

یوحنا ۲۰: ۱۹- ۲۳ ولولئ

په هماغه ورځ عیسی خپل ځان خپلو شاګردانو ته ښکاره

کړ. هغوی خپل ځانونه په یو کور کښې قید کړي ؤو او ویریدل چې داسې نشي چې د عیسی مسیح د دښمنانو تر حملې لاندې راشي. کله چې هغوی عیسی ولید نو باور یې نشو کولی چې عیسی په رښتیا سره ژوندی شوی دی. عیسی خپل ځان او خپل اړخ هغوی ته وښود او هغوی یې پریښودل چې په دې پوه شي چې هغه په خپله عیسی دی نه د هغه ارواح. د هغه شاګردان ځومره خوشحاله شول چې ویې لیدل چې هغه بیرته راژوندی شوی دی.

عیسی یوځل بیا وویل: "لکه څنګه چې زه پلار را استولی یم، زه هم تاسو استوم." هغه کار چې عیسی هغوی ته سپارلی ؤ د هغه د پوره کولو دپاره مرستې ته اړ ؤو. له دې کبله عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې روح القدس به ومومئ. د لوقا د انجیل او د رسولانو د اعمالو څخه پوه شو چې د هغه شاګردانو وروسته له پنځو ورځو یعنې په پنځوسمه ورځ روح القدس ترلاسه کړ. عیسی اوس هم هغه چا ته روح القدس ورکوي ځوک چې په مسیحیت کښې نوې زیږېدنه ترلاسه کوي.

په هغې طریقې سره چې شاګردانو د عیسی د حکمونو څخه اطاعت کاوه دا پریکړه به وکړي چې ایا خلک به خلاصون وموميِ یا نه. که چیرې هغوی بیرون ووزي او انجیل موعظه کړي نو ګناهکاران به یې واوري او دخپلو ګناهونو څخه به توبه وباسي او وبه بخښل شي. خو که چیرې ایمانداران انجیل تبلیغ نکړي نو ګناهکاران به هیڅکله د خلاصون لاره پیدانکړي. د هغوی ګناهونه نه بخښل کیږي ، ځکه چې هغوی

نه پوهیږي چې څنګه دعا وکړي ترڅو وبخښل شي. مونږ چې مسیحیان یو، باید د مسیح په باره کښې نورو ته ووایو. مونږ ته چې د عیسی راژوندي کیدل معلوم دي او که چیرې پوهیږو چې د روح القدس څخه ډک یو، نو په ډاډمنه توګه کولی شو د نورو سره مرسته وکړو چې خلاصون ومومي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵. عیسی خپلو شاګردانوته څه وویل؟
أ) خپل ځانونه باید پټ کړي.
ب) هغه دوی واستول لکه څنګه چې خدای پلار هغه واستاوه.
ج) هغوی باید کورته لاړ شي.

۶. د هغه کار په خاطر چې هغوی ته یې سپارلی ؤ د څه ډول مرستې وعده یې هغوی ته ورکړه؟
أ) هغو ته د زړي ورکولو لپاره پیسې ورکوي.
ب) هغوی ته خوشحالي ورکوي او هغوی به هیڅکله خفه نه وي.
ج) هغوی ته روح القدس ورکوي.

۷. له کومې لارې څخه کولی شو چې خلکو ته د ګناهونو څخه خلاصون ورکړو؟
أ) د ګناهونود بخښلو په وسیله.
ب) د انجیل د تبلیغولو په وسیله
ج) د شمعې د روښانه کولو په وسیله

## عیسی او توما

یوحنا ۲۰: ۲۴- ۲۹ ولولئ

هغه څه چې نورو شاگردانو لیدلي ؤو توما هغه قبول نکړل. هغه د هغوی په خبرو باندې شک وکړ او ویې ویل چې باید په خپله عیسی ووینې.

نن ورځ ډیر خلک فکر کوي چې مسیحیان غولیدلي دي، هغوی باید په خپله حقیقت راپیداکړي او که چیرې په رښتیا سره بې ریا دي، نو باید دعا وکړي چې:

"ای څښتنه عیسی، که چیرې ته ژوندی یې نو راشه او خپل ځان ماته ښکاره کړه."

هغه خپل ځان هغوی ته ښکاره کوي. کیدای شي چې د هغوی سترگې یې ونه ویني، خو هغه به د خپل روح په وسیله خبرې وکړي. بیا به د توما په شان وایي: "ای زما څښتنه، ای زما خدایه!"

عیسی وویل: "ایا تا په دې خاطر په ما باندې ایمان راوړ چې زه دې ولیدلم؟ بختور دي هغه خلک چې زه یې نه یم لیدلی او ایمان راوړي" (یوحنا ۲۰: ۲۹).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸. کله چې توما عیسی ولید څه یې وویل؟

أ) "زه باور نه کوم"

ب) "تاسو رښتیا ویلي"

ج) "زما څښتنه ، زما خدایه."

## د دې کتاب د لیکلو مقصد

یوحنا ۲۰: ۳۰- ۳۱ ولولئ

هغه ټول عجیبه شیان چې یوحنا د عیسی څخه واوریدل او ویې لیدل، هغه یې په انجیل کښې ولیکل ترڅو زمونږ سره مرسته وکړي چې په دې پوه شو چې په رښتیا سره عیسی، مسیح او د خدای زوی دی.

"دا د دې دپاره ولیکل شول چې تاسو ایمان راوړئ چې عیسی، مسیح او دخدای زوی دی او په هغه باندې د ایمان لرلو په وسیله د تل ژوندون خاوندان شئ" (یوحنا ۲۰: ۳۱).

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۹. یوحنا ۲۰: ۳۱ ولولئ.

۱۰. د یوحنا د انجیل مقصد څه شی دی؟

أ) مونږ ته دا زده کوي چې عیسی د خدای زوی دی.

ب) هغه ټول کارونه چې عیسی کړي دي هغه مونږ ته بیانوي.

## ذېل ځوابونه مقایسه کړئ

**۵**- ب) عیسی هغوی ولیږل لکه څنګه چې پلار هغه رالیږلی ؤ.

۱ - ب) هغې غوښتل چې په مړي باندې خوشبویې ووهي.

۶- ج) هغه به دوی ته روح القدس ورکړي.
۲- الف) قبر خلاص ؤ او خالي ؤ.
۷- ب) د انجیل د موعظه کولو په وسیله.
۳- ج) هغوی د عیسی قبر ولید او کالي يې ولیدل چې په خالي قبر کښې پراته ؤو.
۸- ج) "زما څښتنه، زما خدایه"
۴- ج) چې لاړه شي او شاګردانو ته پیغام ورسوي .
۱۰- الف) مونږ ته اجازه راکړي پوه شو چې عیسی د خدای زوی دی.

# ستاسو یادداشت

یوویشتم لوست

# یوحنا، یوویشتم فصل

هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

❖ اوه شاګردانو ته د عیسی ښکاره کیدل

❖ عیسی او پطروس

❖ عیسی او هغه بل شاګرد

❖ پای

## اوه شاګردانو ته د عیسی ښکاره کیدل

یوحنا ۲۱: ۱- ۱۴ ولولئ

شاګردان بیرته جلیل ته یعنې د هغه ځای څخه چې راغلي
ؤو لاړل. داسې معلومیده چې هغوی نه پوهیدل چې عیسی د

هغوی څخه څه غواړي چې ویې کړي. نو د هغوی څخه یو شمیر یې بیرته د ماهیګیرۍ کار ته لاړل. اول ځل چې هغوی ماهیګیرۍ ته لاړل، ټوله شپه یې کار وکړ خو هیڅ یې تر لاسه نکړل. عیسی راغی او هغوی ته یې وویل چې خپل جال د کشتۍ بلې خواته وغورزوي. هغوی دا کار وکړ او پریمانه ماهیان یې ونیول او خپل جال په ډیرې سختۍ سره پورته راکش کړ. کله چې مونږ هغه کار کوو چې عیسی راته ویلي وي نو زمونږ کمزوري په بریالیتوب باندې بدلیږي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱. کله چې عیسی خپلو شاګردانو ته ښکاره شو هغوی څه وکړل؟

أ) هغوی د جلیل ښار ته خپلو کورونو ته لاړل او په ماهیګیرۍ یې شروع وکړه.

ب) دعا یې وکړه چې د روح القدس څخه ډک شي.

ج) د انجیل په موعظه کولو یې شروع وکړه.

## عیسی او پطروس

یوحنا ۲۱: ۱۵- ۱۹ ولولئ

پطروس درې ځلې ویلي ؤو چې عیسی نه پیژني. اوس عیسی د پطروس څخه درې ځلې د یو سوال په اړوند پوښتنه وکړه. پطروس ویلي ؤو چې که چیرې نور د هغه څخه لاړ شي نو هغه به هیڅکله هغه یوازې پرینږدي. خو د ازمیښت په وخت

کښې یې د نورو څخه بدتر کار وکړ. نو عیسی د هغه څخه پوښتنه وکړه: "ایا ته د نورو څخه زما سره زیاته مینه کوې؟" پطروس د هغه کار له امله چې کړی یې ؤ ډیر خفه او پښیمانه ؤ.

عیسی وویل، "زما پسونو ته خواړه ورکړه." مونږ پوهیږو چې پطروس د ځښتن څخه د انکار کولو په خاطر بخښل شوی ؤ. هغه به د شپون په شان د هغو خلکو ساتنه کوي چې په هغه باندې ایمان لري. عیسی یوځل بیا پطروس ته وویل: "زما پسې راځه"

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۲. عیسی د پطروس څخه کومه پوښتنه وکړه؟

أ) ایا ته د هغوی په نسبت زما سره زیاته مینه کوې؟

ب) ولې دې درې ځلې زما څخه انکار وکړ؟

ج) ایا پوهیږې چې څنګه به په پسونو باندې پام کوې؟

## عیسی او هغه بل شاګرد

یوحنا ۲۱: ۲۰- ۲٤ ولولئ

د یوحنا چا چې دا کتاب لیکلی دی، مقصد دا نه ؤ چې خپل ځان معرفي کړي. هغه یو شاګرد ؤ چې پطروس د هغه په باره کښې خبرې کولې او پوښتنه یې وکړه، ای ځښتنه، د دې سړي آخر به څه وي؟ عیسی پطروس پوه کړ چې دا د هغه کار نه

دی چې په دې پوه شي چې یوحنا په کوم کار مشغول دی او یا د هغه سره به څه کیږي. پطروس باید د عیسی څخه بې له دې چې د نورو په هکله اندیښنه وکړي ، پیروي وکړي.

خدای ټول خلک د دې دپاره نه دي رابللي چې هغوی دې یو کار وکړي. مونږ نشو کولی فیصله وکړو چې مونږ به هغه کار کوو چې نور خلک یې کوي. او نه دا ویلی شو چې نور خلک به فلانی کار کوي ځکه مونږ احساس کوو چې دا هغه کارونه دي چې خدای زمونږ څخه غواړي چې هغه وکړو. راځئ چې د خپل ژوند او همدارنګه د نورو مسیحانو د ژوند دپاره د خدای د رضا په خاطر دعا وکړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳. پطروس په کومه خبره باندې پوهیدل غوښتل؟
أ) په داسی حال کښې چې هغه یو ماهیګیر ؤ هغه څنګه کولی شول چې پسونو ته خوراک ورکړي.
ب) په یوحنا باندې څه پیښیږي؟
۴. د خدای څخه وغواړئ چې خپل رحمت ستاسو په نصیب کړي.
۵. وروسته له دې چې د مطالعې له لارې پوه شوئ چې عیسی څوک دی او څه کولی شي، اوس باید څه وکړئ؟

أ) د عیسی سره مینه وکړئ او په خپل پاتې ژوند کښې ورڅخه پیروي وکړئ.

ب) خپلې لارې ته دوام ورکړئ هغه څه چې تاسو مطالعه کړي دي هغه هیر کړئ.

۶. مذهبي رهبرانو څه غوښتل چې د عیسی سره یې وکړي؟ ..................................

۷. عیسی چا رالیږلی ؤ؟

..........................................................................

۸. ایا اکثره وختونه څه چې خدای وایي چې ویې کړئ، هغه آسانه دي؟

..........................................................................

## پای

### یوحنا ۲۱: ۲۵ ولولئ

په هغه انجیل کښې چې یوحنا لیکلی دی، تاسو زده کړل چې عیسی کلمه ده. د هغې په وسیله څښتن ستاسو سره خبرې کوي. عیسی د خدای زوی دی، یعنې هغه څوک چې تاسو ته یې وښودل چې خدای په کوم شي باندې خوشحالیږي. هغه د خدای وری دی، یعنې څوک چې مړ شو ترڅو مونږ د گناهونو څخه خلاص کړي.

عیسی د آسمان لاره ده. د هغه څخه پیروي وکړئ نو هیڅکله به ورک نشئ. هغه د دنیا رڼا ده او تاسو په دې مجبور نه یاست چې په تیاره کښې په لاره لاړ شئ. عیسی د ژوندون

ډوډۍ ده، هغه داسې څوک دی چې ستاسو روحاني لوږه له منځه وړي. هغه یو داسې حقیقت دی چې تاسو د جهالت او خطا څخه ساتي. هغه د انسان زوی دی چې تاسو پیژني او ستاسو په احتیاجونو باندې پوهیږي. هغه نیک شپون دی چې په تاسو باندې پام کوي. هغه قیامت او ژوندون دی. چې تاسو ته سرشاره ژوند، په مرګ باندې بری او د تل ژوندون درکوي.

عیسی له دې څخه هم زیات دی. هغه ستاسو خلاصوونکی دی، ستاسو څښتن او ستاسو پادشاه دی چې تاسو سره مینه کوي. هغه غواړي چې تاسو د هغه سره مینه وکړئ او د هغه د حکمونو څخه اطاعت وکړئ. ستاسو څخه غواړي چې د هغه څخه پیروي وکړئ او د تل دپاره د هغه سره په آسماني کور کښې اوسئ. عیسی په زور ستاسو څخه نه غواړي چې د هغه پیروي وکړئ، هغه تاسو ته د انتخاب حق درکړی دی. مونږ په دې هیله یو چې د هغه څخه پیروي وکړئ او د هغه عجیبه ژوند څخه خوند واخلئ چې تاسو ته یې درکوي.

مونږ غواړو چې تاسو د عیسی په باره کښې ډیر شیان زده کړئ ترڅو په ډیرې ښې طریقې سره د هغه پیروي وکړئ. که چیرې د یوې داسې کلیسا پته چې تاسو سره مرسته وکولی شي نه لرئ، څه چې مونږ کولی شو ستاسو سره به مرسته وکړو.

تاسو دې ته اړتیا لرئ چې د دعا دپاره د نورو سره ملاقات وکړئ او د خدای سره مشارکت ولرئ او کلام یې مطالعه کړئ. مذهبي مشران چې په روحاني مسئلو کښې مرسته وکړي. د مقدس کتاب لوستل او ورځینۍ دعا مه هیروئ، خدای به

تاسو ته برکت درکړي او تاسو به په خپله مینه کښې وساتي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ - الف) هغوی د جلیل ښار ته خپلو کورونو ته لاړل او په ماهیګیرۍ یې شروع وکړه.
۲ - الف) ایا ته د هغوی په نسبت زما سره زیاته مینه کوې؟
۳ - ب) په یوحنا باندې به څه پېښ شي؟
۵ - الف) د عیسی سره مینه وکړئ او په خپل پاتې ژوند کښې ورڅخه پیروي وکړئ.
۶ - ووژني.
۷ - پلار خدای
۸ - نه

# د یوحنا انجیل د لوستلو طریقه

## آیا غواړئ وپوهېږئ چې:

- ستاسو لپاره کوم زیری وجود لري؟
- خدای تاسو ته څه وايي؟
- څرنګه کولای شئ چې نیکمرغه شئ؟

که ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب تاسو لپاره لیکل شوی دی. تاسو به هم لکه د نړۍ د هغو زرګونو نورو زده کوونکو په شان هغه برکت ترلاسه کړئ چې د دې کتاب د مطالبو له زده کړې څخه چې د انجیل د زیري په اړه دي، ترلاسه کړېدي.

دغه کتاب په ډېرې ساده طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل يې د هر لوستونکي لپاره اسانه ده. تاسو یواځې د کتاب لارښوونې او تمرینونه په عمل کښې پلي کړئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د «مسیحي ژوند» په نامهٔ یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.

## د مضمونونو فهرست


سرلیک د پاڼې لمبر

لومړني ځو خبرې............................................................ ۱

لومړی لوست: یوحنا ، لومړی فصل...................................۳

دوهم لوست: یوحنا ، دوهم فصل.................................. ۲۱

دریم لوست: یوحنا ، دریم فصل..................................... ۲۷

څلورم لوست: یوحنا ، څلورم فصل................................ ۳۷

پنځم لوست: یوحنا ، پنځم فصل .................................... ۴۳

شپږم لوست: یوحنا ، شپږم فصل .................................. ۴۹

اوم لوست: یوحنا ، اوم فصل ........................................ ۶۱

اتم لوست: یوحنا ، اتم فصل ......................................... ۷۱

نهم لوست: یوحنا ، نهم فصل ........................................ ۷۹

لسم لوست: یوحنا ، لسم فصل ...................................... ۸۵

یوولسم لوست: یوحنا ، یوولسم فصل.............................. ۹۱

دولسم لوست: یوحنا ، دولسم فصل ............................ ۱۰۱

دیارلسم لوست: یوحنا ، دیارلسم فصل ........................۱۱۳

څوارلسم لوست: یوحنا ، څوارلسم فصل........................۱۱۹

پنځلسم لوست: یوحنا ، پنځلسم فصل ...........................۱۲۵

شپاړلسم لوست: یوحنا ، شپاړلسم فصل ........................ ۱۳۳
اولسم لوست: یوحنا ، اولسم فصل ............................... ۱۴۱
اتلسم لوست: یوحنا ، اتلسم فصل ............................... ۱۵۱
نولسم لوست: یوحنا ، نولسم فصل .............................. ۱۶۳
شلم لوست: یوحنا ، شلم فصل .................................. ۱۷۳
یوویشتم لوست: یوحنا ، یوویشتم فصل ......................... ۱۸۳

## د یوحنا انجیل د لوستلو طریقه

### آیا غواړئ وپوهېږئ چې:

- ستاسو لپاره کوم زیری وجود لري؟
- خدای تاسو ته څه وایي؟
- څرنګه کولای شئ چې نیکمرغه شئ؟

که ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب تاسو لپاره لیکل شوی دی. تاسو به هم لکه د نړۍ د هغو زرګونو نورو زده کوونکو په شان هغه برکت ترلاسه کړئ چې د دې کتاب د مطالبو له زده کړې څخه چې د انجیل د زیري په اړه دي، ترلاسه کړیدي

دغه کتاب په ډېرې ساده طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې د هر لوستونکي لپاره اسانه ده. تاسو یواځې د کتاب لارښوونې او تمرینونه په عمل کښې پلي کړئ

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د «مسیحي ژوند» په نامهٔ یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ